# ياغي او مبتکر شاعر

ښاغلی عبدالباري جهاني ځوان پښتون شاعر دی، زما په خيال ابتکار او سلاست د ده د شعر ځانګړتياوې دي. زه چې د ده ترانې وايم يا يې اورم ګمان کوم د ده پر نغمو مستې ناڅي، او د ده ترانو ته شاپېرۍ اتڼ اچوي.

د ښاغلي جهاني د شعرونو بل خصوصيت ما ته دا ښکاري چې له رسومو څخه بغاوت کوي، د جمال جلوې له ده څخه ځان او جهان هېروي. په دغه جذبه کې نه دی ځاني دی نه جهاني. د احتساب بېره يې له زړه وتلې وي، د مغانو پر دوکانو په ډېره زړه ورتيا ګرځي. په خورا بې احتياطۍ د ميخانو تړلي دروازې ورټکوي. د حسن پر کعبه طوافونه کوي، د مينې د بت پر پښو تندی موږي. ځکه نو زه دی ياغي شاعر بولم.

د ښاغلي جهاني د فکر شهباز د نوو معناوو په ښکار پسې ډېرې هسکې الوتنې کوي، او بې ښکاره نه راستنېږي، ځکه نو زه دی مبتکر شاعر بولم.

که وو ايم چې د ښاغلي جهاني دغه استعداد يوازې د ښکلا ستاينې ته نه دی وقف سوی، زما اميد دا دی چې د ادب پوهان به يې رد نه کړي. دا ځوان شاعر زيار باسي د ګران وطن پر شمعه باندې سرښندونکي پتنګان د ستې کېدلو له پاره راوبولي. د ده شعر بې مبالغې د افغان اولس د ويښتابه له پاره هغه سوې چيغې دي چې ږغ يې په اورېدلو کې د غوږ او په لوستلو کې د سترګو له لارې بڅري

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاشي. رنځېدلی او کړېدلی افغان اولس ملي وحدت ته هڅوي، د ده استعارې هغه تارونه او کنايې هغه ستني دي چې زړونه سره ګنډي. اوس چې په ګران افغانستان کي اخترونه عاشورې سوي دي، د دې اسکېرلي اولس د سوځېدلي او لولپه هيواد په کربلا کي جهاني د حق پر شهيدانو ساندي وايي او کله د يزيدانو په لټون د ماغزو په غوړو مشالونه لګوي. زه چې د ده د شعر په طور کي ګرزم د تاثير جلوې زما ذهن ته د ليدلو بلني راکوي. زه د ده د طبعي په سينا کي هغه رڼا وي وينم چې د ډيرو به د هغو ديدار نه وي په نصيب سوی.

په پای کي بايد دا هم ووايم چې په دې مجموعه کي د پښتني متلونو غمي د قطعو په ګوتميو کي داسي کښېنول سوي دي چې د شعر د ناوي ښکلا يې دوه ګرايه کړې ده.

زه چې دا کرښي ليکم د ښاغلي جهاني د سباوون په تمه کتاب مي مخي ته پروت دی، او د هر بيت لوست مي ستايني ته هڅوي. د ښاغلي جهاني پر قريحه او قلم دي برکت وي.

اکاډيمسين پوهاند رشاد

۱۵ اکتوبر ۱۹۹۸

# جهاني چې زه پېژنم

د کندهار ښار د کابل دروازې د شمالي کلا فصيل او باميزو کوڅې په تقاطع کي يو کور دی چې د احمد شاهي عصر د مشهور شخصيت اشرف الوزرا شاه وليخان باميزايي د استوګني مېنه وه. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې کور کې یو خوش سلیقه، بې آزاره او پرهېزګاره سوداګر اوسېدئ. ښاغلي عبدالباري جهاني، چې نن په فرهنګي حلقو کې د پښتو ژبې د نازکخیال شاعر په توګه یوه پېژندل سوې څېره ده، او شعر یې د پښتو ادبي زېرمې پر حجم باندې، د کیفیت او محتوی په لحاظ، ډېره رنګینه اضافه ده، د نوموړې سوداګر )اروا ښاد حاجي عبدالاحمد ( مشر زوی دی، چې زما په حساب پنځوس کاله وړاندې په همدې کور کې زېږېدلی دی.

زه او جهاني سره همزولي یو، یو د بل پېژندګلوي مو تقریباً د عمرونو همزولې ده. پر یوه استاد )مرحوم ملا محمد نور اخند ( مو دیني زده کړې کړې، او د کندهار د میرویس په لېسه کې مو تر دوولسم ټولګۍ پورې یو ځای درس لوستی دی، او په یوه کال پوهنتون ته تللي یو. زه چې اوس دا کرښې کاږم، ذهن ته مې د نیمې پېړۍ ښو خاطراتو هغه ډک ژوند تداعي کېږي چې په رشتیا سره په ویاړلو ارزي. پر هیواد باندې د شوروي تاړاک هښمو موږ جسماً سره بېل کړو. زه په هیواد کې پاته سوم او دی یې تر یو لړ سرګردانیو وروسته امریکا ته ورساوه وروسته ما ته هم مېنه سره تبې سوه او سرنوشت دا دی د څو کلونو راهیسې د کاناډا اوبه را باندې چښلې دي.

عبدالباري جهاني د تعلیم په دوران کې شوخ، له درسونو سره بې علاقې خو مستعد شاګرد و. په هماغه وخت کې یې له شعر سره مینه وه، شاعرانه ولولې یې درلودلې. د محلي سندرغاړو محفلونو ته ورتلئ او د کندهار د مشهورو شاعرانو سلام بابا، ملا منان اخند، میر یحیی، او مولوي بریالي )شهید ( ډېر شعرونه یې په یاد زده وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حافظه یې دومره پیاوړې وه چې محلي سندرغاړو به د ده په مخ کې هغه غزلې نه ویلې چې نورو ته به یې زده کېدل نه غوښتل. ځکه چې عبدالباري جهاني به په یوه وار اوریدلو سره حافظې ته سپارله او سبا ته به هماغه منحصر بفرد غزله د عبدالباري جهاني په کتابچه کې درج وه. جهاني په کلاسیکه موسیقي کې ښه وارد و، او د موسقي مقامونو په مسابقه کې به، چې په هغه وخت کې د ځوانانو مشغله وه، پاته نه راتلئ. له شوخي طبعي سره د ډېرو نازکو عواطفو څښتن و، او په برنده ځوانۍ کې مې ځو ګښته لیدلی دی چې له سترګو څخه یې لپې لپې اوښکې ګرېوانه ته تویولې. د طبیعت په ښکلاو کې یې له مازیګرني لمر سره لېونۍ مینه درلوده، او په کتلو یې سترګې نه مړېدې. کله چې د کابل په ګذرګاه کې اوسېدئ ما ته یې په ځو لیکونو کې د ګذرګاه له غره څخه د غروب د ننداري شاعرانه تصویرونه کندهار ته رالېږلي و )د ۱۳۵۰ شاوخوا( او هر لیک یې د یوه عالي تخیل ښکلې انشاء وه. حقیقت دا دی چې د ښاغلي جهاني استعداد د پوهنتون په دوره کې ځرګند سو، قریحې یې داسې وده وکړه چې د لومړیو شعرو تر لیکلو او اورولو وروسته یې د پښتو ژبې د مشرانو شاعرانو او استادانو پاملرنه ځانته واړوله. نور نو جهاني د پښتو مشاعرو فعال ګډون کوونکی سو، او شعر یې ډېر زیات اوریدونکي وموندل. ده به شعرونه ویل خو غونډول به یې نه. زما او نورو دوستانو د ټینګار نتیجه وه چې جهاني د خپلو شعرو خوندي کولو ته اقدام وکړ.

د جهاني شاعرۍ په افغانانو کې هغه وخت لا ډېر اوریدونکي وموندل چې زموږ پر هیواد باندې د سرو لښکرو ناورین راغئ او ده به

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپلو سوزناکو نظمونو کې له يوې خوا د افغانانو مظلوميت او د سرو لښکرو وحشت انځوراوه او له بلې خوا به يې د افغاني شازلمو په غښتلو "سوکانو" د دښمن "ټانکونه ويلي کول". د ده د شعر ازانګه بيا هله څو چنده سوه چې د هيواد مشهور او منلي هنرمند ښاغلي ناشناس پخپله ساحرانه آواز کې د نړيوالو غوږونو ته ورساوه. زما ښه په ياد دي چې د کابل راډيو او ټلويزيون څخه د ښاغلي ناشناس په آواز کې د جهاني دا شعر )په موج خېزه هيبت راغلې د فلک سېلابي کړېږي = زموږ کښتۍ يې ډوبوله خپل درياب يې توپاني سو ( د هوا څپو ته خپرېدئ، خلکو به د ده په شعر کې د خپل ژوند څپڅپانه کښتۍ او د دښمن توپاني درياب کاته. زه د جهاني د شعر پر ځرنګوالي نه ږغېږم. ده د شعر په ټولو اصنافو کې د تخيل زور چلولی دی. آزاد شعر يې ويلی دی، غزلي هم، قصيدې او مثنوياني هم. خو که په شعر کې د مشورې ورکولو ګنجايش وای، ما به ورته د غزل ويلو مشوره ورکړې وای. د ده غزل په رنګينۍ رنګين او له شوره ډک دی. يو مزيت يې دا دی چې نه يې دومره پرله پيچلی کړی دی چې لکه د ځينو ننني غزل ويونکو شاعرانو دا، چې لوستونکي يې پوهېدلو ته ټپ ودرېږي. نه پوهيږي چې د شاعر مقصد څه دی؟ او نه يې دومره ساده کړی دی لکه زما غزل چې لوستونکي يې پر شعروالي شکمن سي. جهاني خپل ادبي فعاليت تر ډېري اندازې تخليقي کار ته وقف کړی دی، خو هغه تحقيقي ليکني چې يې خپرې کړي دي، د څېړني په کار کې د ده د نقاد ذوق او ښې سليقې ښکارندوی دي.

د جهاني دا دريمه شعري مجموعه ده. لومړۍ يې "ورکه مېنه" نوميږي چې په ۱۳۶۷ ش کال په پېښور کې د ده په شخصي لګښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپ سوې ده. دا مجموعه یې له روسي تاړاک څخه د را پیدا سوو غمونو او ویرونو په هیبتناکه بهیر کي خپره کړه. په دې بهیر کي چي د پیاوړي شاعر ښاغلي رفیع صاحب په وینا "هر چا جلا جلا، جلا جلا، جلا وژړل" د چا یوازي په سترګو کي د ژړا سرامني نخښي ولیدل سوې، د چا ژړا نورو هم واورېدله او ویې لیدله، خو د جهاني ژړا جهاني سوه. دوهمې مجموعې ته یې د "پایکوب" نوم ورکړی دی چي پښتنو ته نا اشنا غوندي ښکاري. دا مجموعه یې هم په پېښور کي په کال ۱۳۷۲ ش کي د وفا د جریدې په اهتمام او د ده په شخصي لګښت خپره سوه. دریمه مجموعه یې د "د سباوون په تمه" نومېږي او زموږ د مظلوم ملت د ژوندانه په یوه داسي غمجن پړاو کي خپرېږي چي د میلیونونو شهیدانو د پاکو وینو پر سر سوداوي رواني دي او د ګران هیواد د اشلې پشلې کېدو خطر محسوسېږي. د دې مجموعې له شعرونو څخه څرګندېږي چي شاعر د هیواد له روان حالت څخه سخت اندېښمن دی او تر دې اندازې چي ځای ځای یې پر شعر باندي قنوطیت غلبه کړې ده.

په دې مجموعه کي یې د پښتو د شفاهي ادب له خزانې څخه څه دپاسه ۲۲۰ متلونه په رباعي وشمه قالب کي په نظم اړولي دي چي یو څو یې مکرر دي. متلونه د پښتنو په ژوند کي خورا څرګند ځای لري او پښتانه یې د خبرو پر وخت د استدلال له پاره د یوه غښتلي بنسټ په توګه کاروي. ځیني پښتو متلونه سیمه ایز استعمال لري، خو زیاتره یې په ملي سطحه مروج دي. ځیني یې د محیط او لهجوي بدلونو له امله د ثبت بېلابېل روایتونه لري. داسي متلونه هم سته چي په ټول بشریت کي عام رواج لري. البته د افادې شکلونه به یې جلا جلا وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د مفهوم له مخي بالکل يو مطلب څرګندوي*. په پښتو دېواني ادب کي له روښاني غورځنګ را په هيسته بيا تر ننه پوري د متلو کارول باب دي چي ګومان کيږي لومړني څرکونه يې مو ږ د ميرزا خان انصاري په دېوان کي موندلای سو. څو مثالونه به يې د کابل له چاپ سوي دېوان (۱۳۵۴ش) څخه را واخلم:

دا ميرزا پخپل مقدار خبري وايي
په کالي کي چي څه وي ځيني رېژون کا
(چي په دېګ کي وي په چمچه را وزي).

لکه قدر د جوهرو جوهري زده
يا د زرو اصل پېژني زرګر
(د زرو قدر له زرګر سره وي)، قدر زر زرګر بداند قدر جوهر جوهري.

د هر چا تر فهمه خپل وطن کشمير دی
ځان په ځان پخپله بخره دی مشعوف
(هر چا ته خپل وطن کشمير دی).

نورو شاعرانو هم د ارسال المثل د ادبي صنعت په پيروۍ کله کله پخپل کلام کي متلونه را وړي دي، خو د ښاغلي جهاني د کار نوښت په دې کي دی چي ده د متلو نسبتاً لويه برخه په منظمه توګه په ډېرو ښو افادو کي شعري چوکاټ ته اچولي ده.

---

* په دې برخه کي فاضل استاد پوهاند عبدالشکور رشاد ژوري څېړني کړي دي او د سل متله په اوو ژبو کي په نامه يې په څلورو ټوکو کي يو دروند اثر کښلی دی. دغه متلونه يې په پښتو، فارسي، عربي، روسي، انګرېزي، اردو ژبو کي را وړي دي. وګورئ: د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو د پوهنځي د پنځوسو کلونو پښتو کتابښود د پوهيالي محمد اسماعيل يون ليکنه / ۲۷/ مخ پېښور _ ۱۳۷۶ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ښاغلي جهاني څخه زما هیله دا ده چې دی دې کار ته دوام ورکړي، او امید دی چې یو وخت خپل دغه راز شعرونه په یوه مستقل اثر کې خپاره کړي. زه ښاغلي جهاني ته د دغې مجموعې مبارکي وایم. پښتني دنیا د ده د شعرو د نورو مجموعو لار هم څاري.

محمد معصوم هوتک

۲۰ مې ۱۹۹۸ م ټورنټو، کاناډا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جهاني جهان

زما يو دوست د امريکا په وريجينيا نومي ايالت کي اوسي چيري چي ښاغلی عبدالباري جهاني هم له ډېره وخته مېشته دی. هغه راته ويل چي ښاغلی جهاني په ويرجينيا کي زموږ خان دی. ولي چي زبردست سترخوان لري. مېلمستيا وي کوي او په حجره کي ئې د شعر و سرود محفلونه تاوده وي. د ښاغلي جهاني د خانۍ دغسي قصې ما د نورو ملګرو له خُلې اورېدلي دي. خو زه په دې حقله دا وايم چي جهاني به خان ضرور وي مګر عزيزخان نه دی. د چا په باره کي چي رحمان بابا ويلي وو :

نشي د خـانانو ملــــنګانو ســــــره کلی
چرته عزيزخان، چرته ملنګ عبدالرحمان

ولي چي د ښاغلي جهاني له ملنګانو سره ډېره جوړه ده. ثبوت ئې دا دی چي د خپلي شاعرۍ د دويم کتاب سريزه ئې په يوه سائل باندي ليکلې وه او د دريم کتاب سريزه دا ده په يوه درويش باندي ليکي. دا دواړي سريزي له ملنګانو سره د هغه مينه ثرګندوي. کنې نو نه خو اوس د ده کتاب کومي سريزي ته اړتيا لري او نه دی پخپله څه پېژندګلوئ ته محتاج دی. په پښتو کي اوس دی يو پېژندل سوی شاعر دی. شاعري ئې په چاپي بڼه تر خلکو رسېدلې ده او په ادبي حلقو کي ستائلې شوې ده. له دې پرته ئې کلام څنو نامتو سندرغاړو هم ويلی دی او په دې توګه تر عام اولسه پوري هم رسېدلی دی هسي هم د يوه شاعر تر ټولو ښه پېژندګلوي د هغه خپل کلام کولی شي کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلام چي اغېزه ناک او په هنري ښېګړو پسوللی وي او د لوستونکو او اورېدونکو پام ځان ته را ګرځولی شي. هغه ځان له ره پخپله ځای جوړوي او ښاغلی جهاني چي یو ځیرک، لوستی او جهان ګښته شاعر دی. په دغه خبره باندي پوهـ دی. له خپلي شاعرۍ سره ئې ښه خواري کښلې ده. کوښښ ئې کړی دی چي نوې خبره وکړي او که زړه خبره کوي نو هم ئې هڅه دا وي چي په نوي انداز ئې وکړي. ځکه ئې په کلام کي د خپل وخت د ډېرو شاعرانو په پرتله تازګي او زیات نوی والی شته او دغه شی د دې دپاره کافی دی چي د یوه ښه شاعر په ډول دی په خلکو وپېژني.

ښاغلی جهاني له شاعره سره زما یو ښه دوست او خواخوږی هم دی. ما د هغه کلام هم لوستی دی او مجلسونه مي هم ورسره شوي دي. ځنګه چي زه د هغه د کلام د لوستلو په وخت په پټه خُله د هغه له خبرو څخه خوند اخلم. همدغه راز ئې په محفل کي هم ما پخپله د څه ویلو زیاته هڅه نه ده کړې. بلکي د دې خُلَور شاعر وینا ته مي غوږ نیولی دی. د دې یوه وجه شاید زما خپله یوه کمزوري هم وي او هغه دا چي ما ته خدای پاک د هغو خلکو په شان هنر نه دی راکړی چي کوم وخت چي د ویلو دپاره څه ورسره نه وي. بیا هم له یوې یا له بلي خوا څه خبره را پیدا کولی شي او مجلس وربانديتود ساتلی شي. خپلي دې کمزورۍ په خپل ژوند کي زه ډېر ځورولی هم یم. کله چي له یوه پټ خُلي غوندي سړي سره چرته کښېوزم. بیا نو زه او هغه دواړه حیران یو چي له کومي خوا سره وړغېږو او څه سره ووایو. زه همېشه او هر ځای په یوه داسي ملګري خوشحاله یم چي په مجلس کي ئې ما ته د خبرو وار نه راوزي. ځکه نو زما په خپلو هغو دوستانو کي چي لیده کاته مي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسره کله کله او کم کيږي. ښاغلی جهاني په دې زيات خوښ دی چې د هغه ژبه هم د هغه د قلم په شان رواني لري. خلک وايي چې د شاعرانو سره ملاقات د هغو په کتابونو کې ښه خوند کوي. مخ په مخه ورسره ليده کاته زيات خوندور نه شي ثابيتېدی. او دا خبره شايد تر ډېره حده سمه هم وي. مګر د جهاني په حقله سمه نه ده د ښاغلي جهاني چې په کتابونو کې څومره خوند دی. مجلس ئې هم دغومره خوږ دی.

د ښاغلي جهاني د شعرونو دا کوم کتاب چې دا وخت د يوې ناچاپې مسودې په بڼه زما مخته پروت دی. او که خدای کول ډېر ژر ستاسي لاسونو ته په کتابي شکل در رسېدونکی دی. دا ده له خپلې خاورې او له خپله ټاټوبيه ډېر لري د مسافری، او پردېسی په حال کې تخليق کړی دی. دا د يوه نړېدلي وطن د يوه دردېدلي شاعر وير لړلي سندري دي چې د امريکا په جنتي غوندي خاوره کې ئې ويلي دي. په امريکا او همدغه راز د يورپ په خوشحاله هېوادونو کې د جهاني په شان بې شمېره مسافر او مهاجر ليکونکي ژوند تېرولو ته اړ دي. دغه ليکونکي د نړۍ له بېلابېلو ځايونو څخه دې ځايونو ته را کوچېدلي دي. څوک له لوږې راغلي دي چا ته د ظالمانو حاکمانو په سبب کور او اور او پېښور درې وارہ يو شوي دي. او چا د خپلواکۍ د تر لاسه کولو او د خپلي خاورې د آزادولو دپاره خپل ټاټوبی پرې ايښی دی. دغه ټول مهاجر ليکونکي لګيا دي په خپلو خپلو ژبو کې د خپلو زړونو دردونه بيانوي. په عالمي ادب کې دې مهاجرو يوه ډېره په زړه پوري اضافه کړې ده. او د هجرت په اړه ئې ډېرې دردېدلي ليکنې نړۍ والو ته ور بخښلي دي. که څه هم دغه ټول ليکونکي د بېوطنۍ او بېکورۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دړد ځورولي دي او ځنو خو پکي ډېر زيات کړاوونه او شوا خونونه ليدلي دي خو د جهاني او د جهاني د وطنوالو په شان خوږ به شايد پر هيچا باندي هم نه وي تېر شوي. په دې نزدې پېړيو کي به د هيڅ يوه وطن و گکړي په دومره ګڼ شمېر کي د مهاجرت او کورپسرۍ ژوند ته نه وي اړ شوي. همدا وجه ده چي پښتو دا وخت په هغو ژبو کي شامله ده چي ګڼ شمېر ليکونکي ئې د کورپسرۍ په حال کي په پرديو هېوادونو کي د خپل وطن او اولس په ياد کي دړدېدلي سندري وايي. او په نړۍ کي د هجرت په اړه منځ ته راغلې ادبي پنګه زياتوي. د ښاغلي جهاني دا کوم کتاب چي ستاسي لاسونو ته درروان دی دا همدغه د بېکورۍ او کورپسرۍ په حال کي ليکل شوی دی او که زه دا و وايم چي د هري کرښي شا ته ئې همدغه د کورپسرۍ احساس ښکاري نو بې ځايه به نه وي البته دغه احساس ځای په ځای تت او د نورو خبرو شا ته څه نهام غوندي وي او ځای په ځای بيا، لکه په "بېګانه نسيم" او "زنداني بلبل" کي چي دی. ډېر څرګند او په جار وي.

لکه څنګه چي يو زرګر د خپل هنر د څرګندولو د پاره زرو ته اړتيا لري. همدغسي چي د شعر زرګري څوک کوي د هغو درد، غم او خوږ په کاريږي. او څومره خوږ يا درد و غم چي دا وخت له افغانانو سره شته. په نړۍ کي به له بل هيڅ يوه ملته سره نه وي. ما يو وخت د دوئ د زخمونو حساب داسي لګولی وو :

شينکي آسمان دی خپل حساب او کتاب سم ساتلی
د ستورو شمېر يې دی زما تر زخمو کم ساتلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زخمو دغه حساب زه اوس هم صحي ګڼم. خو ورسره ورسره دا هم وایم چي دغو زخمونو چي دې اولس ته کوم خوږ او کوم دردونه وربخښلي دي هغه د دوئ یوه داسي پنګه ده چي که په سمه توګه کته ځني پورته شي او په صحي معنا هنرمند لاسونه وربانديواوړي نو ډېر ستر ادب ځني جوړېدلی شي. هیله ده چي د جنګ د لمبو د سرېدلو پس به ورو ورو هغه قلمونه چي د توپک د نلۍ په شان اورونه تر خُلو باسي د داسي شپېلیو بڼه غوره کړي چي خوږمني نغمې ئې د دردېدلو زړونو دپاره تر ټکور په کمه نه وي. هسي دا خو د صبا دپاره یوه هیله ده. که د نن خبره کوو نو هم دا ویلی شو چي ډېرو شاعرانو د جنګ په دوران کي هم داسي سندري ویلي دي چي څوک ورته خالي شعارونه نشي ویلی بلکې هر څوک به ورته له شعریته ډک شعرونه وائي. زه باور لرم چي له ما سره به څوک اختلاف ونه کړي که و وایم چي ښاغلی جهاني هم له دغسي شاعرانو څخه یو دی. د نمونې په ډول ئې دا دوه بیته وګورئ :

آسـمانه ما خــــو داســـــي نه ویله
چي د کابل ګرېوان ته اور توی کړه
زمــــا جونـــــګړه کي بلا وکــره
زما لســـتوڼي کي ښـامار لوی کړه

د جنګ په باره کي چي ښاغلي جهاني کومه شاعري کړې ده. په هغه کي ئې په بېلابېلو نظمو او غزلو کي د جنګ بېلابېل اړخونه او بېلابېل کیفیتونه انځور کړي دي. په دغو نظمونو کي که "د شین ډنډ فتح" د خوشحالۍ تاثر ورکوي. نو "حیات آباد" بیا یو ډېر ناوړه اړخ زموږ و مخ ته راولي. "د وطن ترانه" که هیله او حوصله زیاتوي نو "د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سباوون په تمه" ييا مايوسي هم لري. دغه راز په نورو نظمو کي ييا نور کېفيتونه راغلي دي. خو په داسي حالاتو کي تر ټولو ځوروونکي اړخ هغه وي چي د وطن د اتلانو د توري مخ د خپل اولس و خوا ته شي. له دښمنه خو نه هيله کېدی شي او نه څه ګيله. خو خپل توريالي چي د خپل وطن مېړمني سرتوري کړي او د خپلي خاوري ناموس د خپلو ځاني ګټو له پاره قرباني کړي. دا يوه ډېره افسوسناکه خبره وي. د ملت پلورني او ورور وژني دغه کېفيت ښاغلي جهاني په "مور" نومي نظم کي په ډېره ښه توګه انځور کړی دی. او زما په خيال د ده په پابندو نظمو کي دا يو ښه نظم دی.

ځنو کره کتونکو ادب د ژوند ايندار ه بللی دی او ايندار ه چي کوم شي ته مخامخ وي هما غه پکي ښکاري. د جهاني په شاعري کي چي د وينو او زخمونو دا کوم عکس ښکاري د هغه وجه دا ده چي دی له ويني ويني او زخم زخم حالاتو سره مخامخ دی. کنې په ځواني کي ئې ځني ډېر مست او له غور ځنګونو ډک نظمونه ليکلي دي. د هغه وخت شاعري چي ئې سړی ګوري نو دی تر هر څه زيات د ميني، مستۍ او ښکلا شاعر ښکاري. بلکې ښکلا او مستي اوس هم خوند ورکوي. ځکه خو د خپل "سپين وېښته" په لېدو ورته ارمان درېږي. هسي د سپينو وېښتانو په ليدو شېرشاه سوري ته هم ارمان درېدلی وو. ويل کيږي چي شېرشاه سوري چي د تخت د نيولو پس په ايندار ه کي و کتل نو د خپلي سپيني ږيري په ليدو ئې وويل چي "افسوس ! اختر شو خو ماښام" دا ارمان هغه ته ځکه ودرېد چي له ډېرو کړاوونو او هلو ځلو پس ئې باچهي نيولې وه خو د دغه باچهۍ په ذريعه چي ئې څه کول غوښت د هغه دپاره ورسره وخت کم وو. مګر د ښاغلي جهاني مسئله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا نه ښکاري چي دی د شېرشاه سوري په شان جهان بدلول غواړي او د دغه کار د پاره ورسره وخت لږ دی. بلکې د ده "سپين وږبنته" او ځني نور نظمونه چي سړی ګوري نو په تورو وږبنتانو پسي ئې د ارمان کولو وجه په قول د اروابناد مشر حمزه شنواري دا ښکاري چي :

شوه معلومه چي ځواني هم د کار څيز وه
چي کوم ښکلی را نه تېر شو ارمان راغی

هسي خو ښکلا په هر څه کي چي وي. هر څوک ئې خوښوي. خو د شاعر کار هغه ښکلا را برسېره کول وي چي عامه سترګه ئې نه ويني که داسي ونه کړي نو بيا شاعر هم د يو عام وګړي په شان دی او وېنا ئې عامه وېنا ده. يو عام وګړی هم کولی شي. چي د ځوانانو په مجلس کي له شهوته ډکي خبري پېل کړي. او په دغو خبرو د هغو سفلي جذبات را وپاروي. نو که همدغه کار په قافيه بنده وېنا کي يو شاعر هم وکړي. زما په خيال څه کمال نه دی. د شاعر کار شهواني لوږه زياتول نه وي. بلکې د جمال د ذوق روزنه کول او هغه ته تسکين ور بخښل وي. په پېل کي لا يو شاعر که په دغه تاله پوره نه وي. خېر دی. خو د وخت په تېرېدو سره سم د هر ښه شاعر په کلام کي پوخوالی او په نظر کي ئې ژورتيا راځي. په دې حقله که موږ د ښاغلي جهاني پر کلام باندي له سره تر پايه نظر واچوو نو وده او پرمختګ پکي له ورايه ښکاري. د هغه د چتې ځوانۍ په کلام کي هغه څه هم شته کوم ته چي موږ پورته اشاره وکړه د نمونې په ډول ئې د لومړي کتاب د يوه نظم يو بند وګورئ د دغه نظم سر خط "د تاشکند لور" دی او بند ئې دا دی :

چــيري به زوړ کې دا ښـــکلی حسن؟
پر چــا به تاو کـــــړې نازک لاســونه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک به دي زېبښي دا سورکۍ شونډي؟
څوک به دي لښ کړي دا سپـــين ورنونه؟

خو د نن شاعري ئې زياته پخه، زياته سنجيده او زياتـه ژوره ده. د ښکلا په حواله چي يې څه ويلي دي. هغه عـامي او برسېرني خبري نه دي. د خپلي خبري په ثبوت کي ئې زه هم له نظمونو او هم له غزلو څخه نمونې وړاندي کولی شم. خو د داسي کولـو ضرورت مـا تـه ځکـه نـه ښکاري چي کتاب ستاسي په لاس کي دی پخپله ئې کتلی شئ. البتـه د يوه نظم ذکر په دې کوم چي په دې کي د جهـاني د ښکلا د احساس وده خپـل آخـري حد تـه رسېدلې ده. هغـه ښـکلا چـي د تمـامو ښـکلاګانو سرچينه ده. زموږ شاعر محسوسه کړې ده. دا هغـه مقـام دی چي بيا د انسان مخته بس د ښکلا يو بېکناره سمندر وي او د نړۍ هـره ښـکلا ده ته د دغه سمندر يوه څپه ښکاري. ګران لوستونکي دي دغـه نظـم چـي سرخط ئې "راز و نياز" دی ولولي او ودي ګوري چي د "تاشکند لـور" نومي نظم ليکونکي دغـه شاعر تـر رازو نيـاز" پـوري څومـره سفر کـړی دی :

کــه د نســـيم په قـــدم نه ئې روان
دا د ګلونو کاروان څوک خوځوي؟
دا د غوټيو ګرېوان څوک څيروي؟
دا د رنګونو باران څــوک اوروي؟

د ښاغلي جهاني پـه دې کتـاپ کـي نظم هم شته او غزل هم د ځنو لوستونکو به يې د ګران ورور معصوم هوتک پـه شان غزل زياتـه خوښـه وي او ده ته به صلا ورکوي چي غـزل ليکلـو تـه زيـات وخت ورکـړي او ځني به ئې ما غوندي نظم بلکې آزاد نظم خوښوي د غـزل پـه حقلـه ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدی شي چې ځني هغه کره کتونکي چې د غزل زيات نوی شکل په پام کي لري. و وائي چې يو لړ داسي ټکي او سمبولونه پکي کارول شوي دي. چې پخوانيو شاعرانو پايمال کړي دي. لکه بتکده، مېکده، جام، ساقي، زاهد، خُم، شيخ، توبه، طور، منصور، فرهاد، مجنون، ليلا، پير مغان، پروانه، شمع او داسي نور. خو زه وايم چې پر زړو ټکو او سمبولونو باندي هم چې حقيقي شاعر سم شي نو نوی ژوند پکي پيدا کولی شي. د جهاني په کومو بېتونو کي چې دغسي ټکي راغلي دي. هغه هم تر کلاسيکي غزل د نن غزل ته زيات نږدې دي.

ما پورته وويل چې د ښاغلي جهاني آزاد نظم زما زيات خوښ دی. خو په پښتو کي لا اوس هم داسي خلک شته چې آزاد نظم له سره مني نه، او کله کله خو چې سړی ځنو آزادو نظمونو ته ګوري نو د آزاد نظم د مخالفينو خبره ورته سمه هم وبرېښي. ولي چې په دغه ډول نظمونو کي داسي هيڅ نه وي چې سړی ورته شاعري ووايي. ما له خدائی بخښلي ايوب صابر څخه يو وخت د آزاد نظم په حقله د هغه رايه وپوښتله. هغه راته ويل چې زه خو پخپله د آزاد نظم مبلغ يم. يو وخت چې د يوه اخبار مدير وم نو هر ډول آزاد نظمونه چې به راتلل. ما به تش په دې نيت چاپول چې د آزاد نظم د ليکونکو حوصله افزائي وشي. او آزاد شعر وده ومومي. خو حقيقي رايه مي دا ده چې که ما ته کالخوائي راکړله شي نو يوائې هغو شاعرانو ته به د آزاد نظم ليکلو اجازه ورکوم چې اول په پابند نظم کي ځان شاعر ثابت کړي. که د خدائ بخښلي ايوب صابر پر دغه خبره باندي عمل وشي نو ګمان نه کوم چې په پښتو کي به تر شلو يا پنځه زيات شاعران د آزاد شعر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکلو اجازه و مومي. خو دا مي يقين دی چي د دغسي شاعرانو فهرست که هر څومره لنډ وي د ښاغلي جهاني نوم به پکي ضرور شامل وي. ولي چي ده په پابند شعر کي ځان شاعر ثابت کړی دی.

ښاغلي جهاني له نورو ژبو څخه ترجمې هم کړي دي او په دې کتاب کي ئې شاملي کړي دي. زما په خيال دا يو داسي کار دی چي پښتو ژبه ډېره زياته اړتيا ورته لري. که موږ د خپلي ژبي لمن پراخول غواړو نو د نورو لويو او په ادبي توګه بډايو ژبو غوره ليکني به ورته را اړوو. او دا کار په ښه توګه هغه څوک کولی شي چي د ښه ادبي صلاحيت لرلو سره سره ئې له خپلي مورنۍ ژبي پرته د کم نه کم يوه بله داسي ژبه زده وي چي په ګڼ شمېر کي د عالمي ادب غوره ليکني پکي موجودي وي. ښاغلی جهاني د دغه کار دپاره زيات غوره په دې دی چي د څنو نورو ژبو تر څنګ ئې انګليسي هم زده ده. کومي ته چي د نړۍ زياتره ستري ليکني را ژباړل شوي دي. بله دا چي ښاغلی جهاني په امريکا غوندي هېواد کي اوسي چيري چي هر ډول کتاب ډېر ښه په اسانۍ سره تر لاسه کېدی شي. دا د خوشحالۍ خبره ده چي زموږ د شاعر پام له دغي موقعې څخه د ګټې پورته کولو خوا ته را ګرځېدلی دی او په ترجمه کولو ئې لاس پوري کړی دی. زه هيله لرم چي دی به دغه کار جاري وساتي او د پښتو لمن به د ترجمې له لاري له ښکلو ادبي ملغلرو ډکه کړي. په دې کتاب کي له اولسي ادبه هم استفاده شوې ده په دې لړ کي زموږ شاعر يوې خوا ته په ګڼ شمېر کي متلونه د قطعو په شکل کي نظم کړي دي. چي دا کار په دغه بڼه تر اوسه پوري بل چا نه وو کړی او بلي خوا ته ئې څنو زړو نکلونو او قصو ته د شعر

(c) ketabton.com: The Digital Library

جامه ور اغوستې ده. که څه هم د منظومو قصو رواج تر ډېره حده اوس له منځه تللی دی خو په زړه شاعري کې د نړۍ د ستري شاعرۍ يوه ډېره لويه برخه له قصو جوړه ده. د هومر، چاوسر، پوشکين، فردوسي او سعدي په شان د نړۍ د بېلا بېلو ژبو ګڼو سترو شاعرانو له قصو څخه کار اخستی دی او بې ساري او تلپاتې شاعري ئې ترې جوړه کړې ده. د پښتو ځنو پخوانيو شاعرانو هم د دغه ډول څه نا څه شاعري پرې ايښې ده. خو هغې څه خاص ځائ نه دی نيولی. او اوس هم د پښتو په شاعرۍ کې د قصې خانه خالي ښکاري. دغه خانه که موږ نن ډکول وغواړو نو تش په دې کار نه کيږي چې زړې قصې راغونډې کړو او د شعر جامه ور واغوندو. بلکې زړې قصې به په داسي انداز نظم کول غواړي چې نوی رنګ ولري او نوې معنا وښندي. او ښاغلي جهاني په دې لړ کې يو ډېر ښه کوښښ کړی دی. ځني قصې خو ئې زما ډېري خوښي شوې. په دې قصو يا نکلونو کې يو اوږد نکل "د ښامار افسانه" دی. د اتفاق خبره ده چې ما هم د "سر لښکر" په نامه دغه نکل ته ورته يو نظم ليکلی وو. چې د جهاني دا نظم مې ولوست نو اوس هغه خپل نظم راته بې ضرورته غوندې ښکاري.

ښاغلي جهاني چې په دې کتاب کې کوم څه ليکلي دي هغه ئې په خوږه، پسته او شاعرانه ژبه ليکلي دي. د ستاينې وړ خبره دا ده چې له هغې مصنوعي ژبې څخه ئې ځان ژغورلی دی کومه چې نن صبا زموږ يو شمېر ليکوونکي لګيا دي ليکي ئې. دغه ليکوونکي که ضرورت وي که نه وي له ځانه نوي ټکي جوړوي او چې جوړ ئې کړي بيا ئې يو شمېر خلک په پټو سترګو په خپلو ليکنو کې کاروي زه دا نه وايم چې نوي ټکي جوړول نه دي پکار. دنيا ډېره په چټکتيا سره روانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده بدلیږي. زموږ مخته هره ورځ نوي شیان او نوي تصورات راځي. دغـو شـیانو او تـصوراتو تـه کـه نـوي نومونـه ورکـړل شـي او نـوي اصطلاحات ورته وټاکل شي. نو دا څه بده خبره نه ده. بلکي زه به دا و وایم چي یو ضروري خبره ده او زموږ ځنو مشرانو تریو حده دغه کار په کامیابۍ سره کړی هم دی. هغو د ضرورت له مخي ځني ټکي جوړ کړي دي او دغه ټکي اوس زموږ د ژبي برخه ګرځېدلې ده. کومه خبره چي د تشویش وړ ده، هغه دا ده چي دغه کار ته اوس هر کس و ناکس ملا تړلې ده. دغه خلک نه یوائي دا چي له پردو ژبو څخه راغلي ټکي لـه پـښتو باسي بلکې د پـښتو پـه خپلـو ټکـو پـسي ئې هم لړګی را اخیستی دی. تر دې حده چي "مین" غوندي ښائسته او د پښتو خپل ټکی ئې هم جلا وطنه کړی دی. او د هغه پر ځائ د "مینه وال" غوندي بې ډوله او مصنوعي ټکی کاروي. د حېراني خبره دا ده چي دغه ډول مصنوعي ټکي د ځنو پوهـ لیکونکو په لیکنو کي هم لیدل کیږي. که دا سلسله دغسي روانه وه نو هغه ورځ لري نه ده چي "وږی" به په "لوږه وال"، تږی" په "تنده وال"، "لوستونکی" په "لوست وال" او خدائ خبر چي کوم کوم ټکي به په کوم کوم "وال" بدل شي خو ښاغلی جهاني لـه دغـسي خلکـو څخـه نـه دی. هغـه اصیل خیـالات او احـساسات پـه اصیله پـښتو کـي وړانـدي کـړي دي. زه هیلـه لـرم چـي د ادب او شـعر مینان (مینه وال نه) به ئې قدر وکړي.

والسلام

درویش درانی کوټه (کوئټه)

۱۴ جون ۱۹۹۹ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوي او آزاد شعرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## رازو نیاز

زه چـــي د شـــپې ســـتا د لیـــدو پـــه تمـــه
د خـــوب او خیـــال تورونـــه وغـــورځوم
زه چـــي ســـوالګري ســـجدې ولمبـــوم
نـــو د ســـوالونو ځنځیـــر وشـــرنګوم

جانانـــه زه د وصـــل تـــږی نـــه یـــم
زه درنـــه ســـترګي د لیـــدلو غـــوارم
زه مـــي ســـوالونو تـــه جـــواب لټـــوم
زه درنـــه غـــوږ د اوریـــدلو غـــوارم

کـــه د نـــسیم پـــه قـــدم نـــه یـــې روان
دا د ګلونـــو کـــاروان څـــوک خوځـــوي
دا د غوټیـــو ګرېـــوان څـــوک څیـــروي
دا د رنګونـــو بـــاران څـــوک اوروي

کـه تـه پـه تنـدر پـه توپـان کـي نـه یـې
کـه تـه پـه کـور د شـنه آسـمان کـي نـه یـې
کـــه د شـــبنم پـــرا اوږو نـــه الـــوزې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کــه تــه پــه ځــاځکو د بــاران کــي نــه يــې

نــــو دا د قهــــر زلزلــــې د چــــا دي
دا د رنګونــــو قــــافلې د چــــا دي
دا بېحــــسابه آيينــــې د چــــا دي
دې آيينــــو کــــي ننــــدارې د چــــا دي

کــه د شــېريني پــه تــصوير کــي نــه يــې
چــا د فرهــاد کلنــګ تــه زور ورکــړی
کــه د مجنــون افــسانې نــه جــوړوې
چــا د دښــتونو پــر مــخ شــور کرلــی

کــه دي منــصور تــه ځــه ويلــي نــه وه
څنګــه يــې ستا پــه مــخ کــي ځــان وليــدی
ځکــه يــې چيغــه د حــق پورتــه کړلــه
چــي آيينــه کــي يــې يــزدان وليــدی

کــه تــه پــه خپلــه پــه صــنم کــي نــه يــې
د کــاڼو پــښو تــه سـجدې څــوک ورولــي
کــه ســتا لــه ګوتــو ښــکلا نــه را اوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هنګامـــه د مينــــي څـــوک پـــاروي

ســـتا کرشـــمه ده لـــه شـــهبازه ســـره
چـــي پـــر ســـيتار بانـــدي لمبـــې بلـــوي
چـــي پـــه رګونـــو کـــي ســـکروټي اوړي
چـــي ترانـــې يـــې لېونتـــوب پـــاروي

ستا کرشـمې پـه سـور کـي سـوز راولـي
دا ســتا آواز دی چــي نغمــه نغمــه ســي
د تــاک پــه وينــه کــي ســتا مينــه ګرځــي
دا ســتا مــستي ده چــي نــشه نــشه ســي

نـــه د شـــېريني نـــه لـــيلا حـــسن دی
دا ســـتا ښـــکلا ده چـــي جلـــوه جلـــوه ســـي
جنـــون لـــه تـــا دی زولنـــې لـــه تـــا دي
ســتا هنګــامې دي چــي پلمــه پلمــه ســي

د تـــورو شـــپو تنګـــو حجـــرو امامـــان
ســـتا د قـــدرت ننـــداره څـــه پېژنـــي
د تـــش کتـــاب د تـــورو کرښـــو مـــين

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ستا د جمال پلوشه څه پېژني

دا په زړه تور رانده کانه وګړي
ستا د ليدلو اورېدلو نه دي
ستا د محفل شمعي ته نه دي پيدا
ستا په لمبه د سوځېدلو نه دي

څوک دي په جوګ څوک دي په ذکر غواړي
څوک دي په اور څوک دي اوبو کي ګوري
جانانه ما ته هغه سترګي راکه
چي تا په ټولو آيينو کي ګوري
ويرجينيا ۱/۲۵/۱۹۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نابللی رویبار

ځوک یې چې بیا مې ناکرار زړګي ته
د کلو هېر زاړه یادونه راوړې
بیا مې سینې ته د اغزیو انډی
بیا مې لېمو ته شوګیرونه راوړې
بیا دې سوهان کړل د پرهار زخمونه
په زخمي زړه کې مې ناسور ویښوې

له کومه راغلې دا د چا پته ده
زه نور له چا سره رویبار نه لرم
زه او جانان مې سره نه پېژنو
زه له قاصده سره کار نه لرم
ما خپل وزر پخپله وسوځاوه
نور له ګلونو سره خار نه لرم
د خدای د پاره ما یو وازي پرېږده
د چا راتلو ته انتظار نه لرم
پرون چې هر څه وه دروغ یې ګڼه
مینه پردی سوله اغیار نه لرم
ما چې په وینو کې بخري ژړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس مي له خپلو وينو اور واخيست
ما چي سکروټي په بڼو څيرلي
له لبو نتوب څخه مي شور واخيست

چي په لحد کي مي مستي ويښول
له هغو چيغو نه مي زور واخيست
زه د سراب له منډو ستړی يمه
نور مي د سيند پر غاړه کور واخيست

ما له صياد سره خپلوي وکړل
ما ته منظور دي د قفس خوبونه
ما له وزر سره دوستي وشلول
نور راته مه ښيه ياغي خيالونه

پر هغه لاره چي راغلی يې څه
زړو يارانو ته سلام يوسه
دا څو رنځوري شپې مي پرېږده راته
ورکي جونګړي ته پيغام يوسه

چي دا بې واکه دا نري لاسونه
د وخت څپو ته ټينګېدلای نه سي
دا له ميدانه تښتېدلی سپاهي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غـشو سـپل تـه سـپر کيـدلای نـه سـي

ويرجينيا ۴/۱۷/۱۹۹٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شینکی آسمانه

ما خو دا نه ویل شینکی آسمانه
چې به د اور د پاسه اور راځي
زما د غیرت شمله به کښته ګوري
زما هډیرې ته به پیغور راځي

آسمانه ما خو داسې نه غوښتله
چې د ښارونو جنازې وژاړم
چې مې په کلیو کې بلا لنګه سي
چې د ځوانیو هډیرې وژاړم

آسمانه ما خو داسې نه ویله
چې د کابل ګرېوان ته اور توی که
زما په جونګړه کې بلا وکړه
زما په لستوڼي کې ښامار لوی که

آسمانه ما ستا د ځوانۍ په طمع
دلته رنګین رنګین خوبونه لیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـــا د ازلـــه بېخبـــره کـــوچي
د ورک یوسـف ه تعبیرونــه غوښــتل

ما ویـل زه بـه ستا ښایستي سینې تـه
د خپلــه نظمــه امېلونــه جــوړ کــړم
ســتا لــه نـسیم سـره بــه الوزمــه
ستا پـسرلي تـه بـه شعرونه جوړ کړم

مـا ویـل زه بـه ستا د شپې پـه زړه کـې
د ســـباوون ترانـــې وپـــا څوم
مــا ویــل زه بـه ټـول نغمـه نغمـه سم
ســتا د هــستۍ شـهباز بــه ونڅــوم
مـــا ویـــل زه بـــه د ســپېدو پــر اوږو
ســـتا د زُهـــرې پلوشـــې وتخنـــوم

آســـمانه اوس خـــو اهـــریمن د قهـــر
راغځـــولي دي خیـــرن لاســـونه
یـــا مـــرور دی لـــه تعبیـــره قـــسمت
یـــا بیګانـــه وه لیـــوني خیالونـــه

زمـــا لـــه زخمـــي کابلـــه وینـــي څـــاڅي
کوڅـو اخیـستي دي ماشـوم زخمونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما لـه انګـړه جنـازې درپـاڅي
مـه نيسه چيغـو تـه کانـه غوږونـه
آسـمانه واخلـه ککـرۍ درغلـې
د ځوانيمرګـو زړو تـاوده رګونـه

مـا چې ميونـد ميونـد نـارې وهلې
مـا يې پـه غېږه کې ګلونـه غوښتل
مـا چې هلمنـد تـه ترانـې ليکلې
مـا يـې پـر غـاړه اتڼونـه غوښـتل
مـا چې خيبـر تـه حماسې ويلې
مـا يې لمـن کې اولـسونه غوښتل
مـا چې پيچـومي د پـامير سـتايله
مـا يې کمرونو کې لعلونـه غوښتل

مـا چې ټانکونـه پـه سـوکونو وهـل
هغـه مـې خـړ وطـن سمسور غوښتى
مـا چې سکروټې پـه غاښـو چيچلې
مـا مـې سـړو وينـو تـه اور غوښـتى
مـا چې ګوليـو تـه سـينه سـپرول
مـا د ابـا سـاتلى کـور غوښـتى
مـا د حيـا پـرده کې پټـې غوښـتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مې پېغلوټې د کابل ستايلې
ما يې سرونه تر عزت جارول
چې بې عزتو را سرتوري کړلې

بس که آسمانه نور يې مه زنګوه
د اهريمن د اولادونو زانګو
په نوراني غېږ کې دي مه لويوه
دا تور بد رنګه دا زامن د تيارو

نور د منبر څوکو ته مه خېژوه
د رياکارو زاهدانو ټولې
نور د عصمت کوڅو ته مه ورولـه
د نامحرمو دلالانو غـدې
نور پر کمبله راته مه ږغوه
دا د مرګي د چيغو ډکه شپېلۍ

چې په رګونو کې ساه وچلوي
دې سرو وينو ته مې اور ورکه
چې د کنهو غوړونه وپاڅوي
آسمانه چيغو ته مې زور ورکه

ويرجينيا ۱۹۹۴/ ۹/ ۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شیش محل

څو مره خوږې وې برایې د نیمې شپې خبرې
چې د خیالونو مو ماڼۍ او بنګلې جوړې کړې
د خوب او خیال د جنتونو شیش محل ته تللو
تا هر څه زما د پاره غوښتل پکښې
ما هر څه ستا د پاره وغوښتله
زه ستا د پاره شهنشاه د جهان
ته زما د پاره ملکه د حسن
او زما د خوښې په ښایستو ارغوانې جامو کې
له سر تر نوکه په زیور په مرغلرو پټه
او د الماسو غاړکۍ دې ستر ګکونه وهل
داسې خو زه او ته سل ګونه ځلې
د دې خیالونو شیش محل ته تللې
او په پردیو خزانو کې مو خوبونه کړي
خو تا په ویښه یا په خوب کې کله
د بېلتانه خیالونه هم لیدلي؟
داسې یې وګڼه چې نور دا ستا په ژوند کې نه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

او کرۍ ورځ دي لکه سیوری د ر سره نه یمه
ته دا بد رنګه دا بې خونده دا یوازي ورځي
دا اوږدې شپې د تنهایي کلونه څنګه ګالې؟
چا ته د شپې رنګین خوبونه وینې؟
څوک به دي وړي د ورځي سل نازونه؟
چا ته به سترګي تورولې
چا ته به ځان جوړولې؟
څوک به دي بولي ملکه د حسن؟
د دې محله څخه لیري د میاشتو په مزل
سل ګونه غرونه لوی سیندونه او رودونه تر منځ
زموږ د ابا زموږ د نیکونو پر ټاټوبي باندي
زموږ د غیرت زموږ د عصمت پر کهول
زموږ د کابل په اوږدو تورو شپو کي
د لېونیو قاتلانو د ګولیو باران
داسي زرګونه شیش محل او جنتونه وران کړل
او د ښایست ملکې
دا ستا په شاني ښایستې مېرمني
چېرته د حسن په بازار کي ګرځي
نازکو شونډو یې پټري نیولي
ځي په اغیارو کي نازونه پلوري
د شیش محل خوبونه نه سي لیدای

۱/۳/۱۹۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سپین وږمته

کله مي زړه ته سي راتیري پخوانۍ خبري
سترګو ته راسي د ځوانۍ خبري
د ژوند په تورو ، په تیارو کونجو کي
د امیدونو شمعي ولګیږي
د زماني له اغزو ډکي کوڅي
ګلونه وسپړي لاله لاله سي
د پسرلي د نسیم
له جنتي ، له زرغونو ، له ښایستو ګوتو نه
دانه دانه زلمۍ نغمې تویږي
او د بڼو پر څوکو
راته وربښمین زرین خیالونه ناځي
وایم وزر وکمه والوزمه
وایمه ګور د خیام ولړزوم
له هره رګه نشې وپاڅوم
وایم سیتار سم له هر تاره سره
د ترانو سیلونه وځغلوم
چي یو ناڅاپه د خیالونو لړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه پرېشان خوبونه وتورېږي
د آيينې مخې ته ودرېږم
پر خپلو سپينو وېښتو لاس تېروم
ژبه کې زور د ګړېدلو نه وي
پښو کې مې واک د نښېدلو نه وي
سينه کې اور د مستېدلو نه وي
له دوو لېمو اوښکې راوڅڅېږي
او د خيالونو ځولۍ ورغړوي

واشنګټن ډي سي ۶/۴/۱۹۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زنداني بلبل

دې پراخ جهان کې تا ته نصيب سول
پــه پنجــره کـــي بنــد وزرونـــه
دلتــه بــه پــايې دلتــه بــه اوســې
دلتــه بــه تېــر کــړې اوږده کلونــه
پــه دې قفــس کـــي تــا تــه ليکلــي
د ژونــدون ورځـــي بــاقي عمرونــه

تــه هــم پــو هېږې چـي ســتا وزري
خــداى پيــدا کــړي و الوتــو تــه
پورتــه آســمان دى لويــه فــضا ده
تــه جګېــداى ســي هــسکو درو تــه
خـــالق درکـــړي پـــاپې نـــازکي
پــر ســرو غوټيــو و کښېنــستو تــه

تــه هــم پــو هېږې چـي ســتا آواز کــي
ســورونه خــوځي نغمـــې غـــوړېږي
پکښي سيتار دى پکښي رباب دى
رنـــګ د ســـازونو پکـــښي بهيـــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا لـه کوګلـه ترانـې پـاځي
ستا لـه خولګیـه سـندري زېـږي
ستا پـه منګولـو غـوټۍ نـازېږي
ستا لـه مـشوکي شـبنم او بېـږي

دومره مي پوه که چي دا څه سوز دی
ستا پـه نغمـه کي ستا پـه آواز کـي
زړه پـه کوګـل کـي راسـره ژاړي
ورک سم لـه ځانـه دا ستا پـه ساز کي
دا څـه اسـرار دی دا څـه جـادو دی
لـږ مـي شـریک کـړه د زړه پـه راز کـي

دا چـي تـه هـر ځـل نغمـه نغمـه سـې
دا دي مـستي ده کـه دي فریـاد دی
دا لـــه زندانـــه پـــه وینـــو ژاړې
کـه ترانـې دي کـه دي زړه ښـاد دی
همـدا نـصیب دی تـه پـه رضـا یـې
کـه دا سـتم دی ژونـد دي بربـاد دی
تـــه زنـــداني یـــې زه مـــسافر یـــم
دواړه لـــه خپلـــه سـبله جـلا یـــو
دواړه بـې اوره بـې لـوګي سـوځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

درد او مـــاتم تـــه دواړه تنهـــا يـــو
زمـــا پردېـــسيو ژبـــه ګـــونګې کـــړه
زمـــا پـــه آواز کـــي ورکـــي نـــارې دي
ستا پـه نغمـه کي زګېروی اسير دی
ســـتا فريادونـــه زمـــوږ ترانـــې دي

راځـه چي دواړه هسک تـه روان سو
ګرېـــوان کـــو ځيـــري د قـــسمتونو
راځـــــه ازل کـــــو د دوږخ زنـــــې
لار کـــــو بدلـــــه د قلمونـــــو

راځـــه خطونـــه د تنـــدي وران کـــړو
نـــصيب پخپلـــه خوښـــه روان کـــړو
ويرجينيا ۴/۱٦/۱۹۹٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تورتمونو ښار

مور د رڼا له کوره لېږي د نور ډکي کړلې
لکه ماشوم پوځونه
د تاريکيو پر لور وخوځېدو
مور ته پلرونو کيسې کړې وې د تورو تيارو
د کوه قاف د ځنگو غرونو د ژورو درو
د ځناورو او د ديوانو د لښکر د نارو
مور ته سپين ږيرو نکل کړی و د شپو د سپرو
مور ته هوښيارو سترګورو خلکو
په سل په زر ځله دا وويله
چې که تيارو ته ځئ ډيوې اخلې
د نور له کوره لېږي نه ډکېږي
مور په لمنو مور په لپو کي رڼا واخيسته
پر اوو، لسو او پر شلو لارو
څوک د مېږي او څوک د باد په قدم
د تور تمونو ښار ته وخوځېدو
او هلته ټولو لاري ورکي کړلې
کوم لاروي يو ځلې چيغه کړله
چې د تيارو شيطان ډيوې وژلې
د نور چينې يې ټولې وچې کړلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ستنېدو لارې يې وتړلې
تاسې پر کومه خوځئ
په دې تيارو کې به لا څونه مخ په وړاند ورځئ
زه په تيارو کې اژدها وينمه
د ځناورو انګولا اورمه
زه پېريانان زه ښاماران وينمه
اې د تورتم د کږلېچو ملګرو
دا زما آواز چاته رسېږي کنه
تاسې پر کومه خوځئ
خو سمدستي يوې ناولې زيندۍ
د لاروې ستونې کې ټولې چيغې وچې کړلې
د تورتمونو د ښار
د هرې تږې هر پېچومي سره
ړانده وګړي سره ولګېدل
دوست او دښمن پکښې چا نه پېژندل
د جنګ اورونه پکښې وتوږېدل
بس يو په بل يې تودول تېغونه
بس يو په بل يې سړوله زړونه
بس يو د بل يې پرې کول سرونه
لارې کوڅې له مړو ډکې سولې
کندې درې له مړو ډکې سولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو لېونيو چيغي پورته کړلې
د تورتمونو مسافرو واورئ !
د تورتمونو مسافرو واورئ !
چيغي هغه ګړی خاموشي سولې
او په تورتم کي لا رواني دي د وينو ويالې

ويرجينيا ۸/۱۵/۱۹۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سباوون په تمه

زه د زوی مـړي سـباوون پـه تمـه
کـــرار کـــرار تېـــروم لاســـونه
یـو څـو شـپې پـه انتظـار تېـري کـړم
بیـا پـه ورو ورو پورتـه کـوم ګامونـه
مځکـه آسـمان راتـه د پـوان ښـکارېږي
تپـه تیـاره مـي ډاروي خیالونـه
لـه لیـري اورم د لېـوه انګـولا
د مرګـي وهـم تـښتوي خوبونـه

تپـه تیـاره ده هولناکـه شـپه ده
لاس کړو مـه څـه لیـدلای نـه سـم
د ورکـــولارو مـــسافرلاروی
لـه وهمـه ګـام پورتـه کـولای نـه سـم
بـوتې او کـانې لړمـان اغـزي دي
یـوه شـپه کرار پـدلای نـه سـم
لـه کلـي کـوره لـه وګـړو لیـري
لـه ډاره چیغـې هـم وهـلای نـه سـم
پـه خیـال کـې ګـورم چې سبا راغلـی
د شنه آسـمان پـه غېږ کې لمر ختلـی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاس په هوا ګرځي د زاڼو کتار
لاندې د ځمکې مخ ژړ ګل نیولی
د آسماني بلا له وهمه چینجی
د ونې بېخ ته خوځي غلی غلی

نور په تیاره کې مې له سترګو سره
د توري شپې شیطانان نه تېرېږي
خیالي ماران په لار کې نه دي پراته
سینه کې زړه له وهمه نه رپېږي
نور د دېوانو ښار کې نه اوسېږم
د چا له سترګو لمبې نه خوځېږي
لیري نیږدې له هري ونې سره
د ځناورو سترګې نه ځلېږي
وایم خپلوانو ته مې چیغې کړمه
چې شپه سبا سوه نور دې نه وېرېږي

خو یو ناڅاپه له نیږدې اورمه
د یو څو غټو ځناورو غړومبې
په تاریکه کې له یو ځایه راځي
د کوم زخمي غوندې وګړي زګېروی
ساړه باد ونه راته کرېږي راوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مــار چيچلـو پــه شــان ســوی وی وی

شــــپه لا تيــاره ده نـــوره هـــم پاتـــه ده
د دې تيـــارو لمنـــــه نـــــه ټـــولېږي
د ســـباووناميـــد مـــي پاتـــه نـــه دی
کـه شـــپه تېرېـــږي پـــر مـــا نـــه تېرېـــږي
هغـــــه ده راغلــــه د لېوانــــو ټـــولۍ
اوس بـه مـي غـوښـو بانـدي وپـړسـېږي

نـــور بېهـــوده نـــارې وهـــلای نـــه ســـم
پـــه کـــرږو ســـتونی څيـــرولای نـــه ســـم
د مرګـي خولـه کـي د ســبا پـــه وعـدو
ځـــان تېـــر ايـــستلای غـولـولای نـــه ســم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پټه مينه

د غم شپېلۍ به راته نه ږغوي
ما به په خپلو اوښکو نه اوبوي
زما د سينې له قفسچې څخه به
د پټې مينې مشال نه تښتوي

ولې مې بيا د پټو سترګو څخه
يو په يو تښتوې خوا ږه خوبونه
ولې مې بيا د زړه آرام لوټوي
راته راوړې د چا پردي خيالونه

ما د يوې ځوانۍ اختيار لرلو
د يوې مينې نذرانه مې کړله
ما په تندي کې تصويرونه مات کړل
چې څه بتانو ه بېګانه مې کړله

زه که تندي کې خپل تقدير سوځوم
دا پر قولونو پښېماني خو نه ده
زه چې خيرات خيرات ناري وهمه
نو د ځوانيو ارزاني خو نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه لمبه چې د ځان ونه ګڼې
چې ما د زړه په تل کې وسوځول
پر هغې شمعې بد ګومانه نه سې
چې ستا په لاره کې مې ولګول

چې ته په خپل حسن مغروره نه سې
تا ته مې اوښکې در لېږلې نه دي
د زړه په وینو مې رنګین خطونه
ستا پر کوڅه در استولې نه دي

ما چې ځنځير د اوښکو وتوراوه
دې خپل جنون لره مې زور غوښتی
چې ستا تصوير ته مې په ځير کتله
خپلو بڅرو ته مې اور غوښتی

هغه به زما نظمونه خپل وبولي
چې پر لنډۍ زنه خالونه وهي
چې يې پر جګو سپينو غاړو باندې
ګڼې زلمې زلفې تالونه وهي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغـه بـه زمـا پـه چيغـو نـه مړيـږي
لـه شـوګيريو بـه مـي ميني غـواړي
زړه بـه يـې زمـا لـه درده نـه سـړيږي
هغه به زما له سترګو ويني غـواړي

خو زه پو هيږم چي به ګور ته يوسم
دا لـــه جانانـــه ســـره پټــه مينــه
دا د بتـــانو پـــه ســـجدو تـــومتي
دا نافرمانـــه دا سرکـــښه وينـــه

ويرجينيا ۵/۴/۱۹۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آیینه

زه نور د مستي ځوانۍ چیغه نه یم
چي په قاه قاه مي کنهوله د رقیب غوږونه
نور دي کوڅو کي نڅېدلای نه سم
نور مي جنون زولنې نه مستوي
نور مي آواز خوبونه نه تخنوي
او نه مي تږې جل وهلې سینه
ستا د خیالونو په کوثر اوبیږي
اوس که د رځم نو ته مي نه پېژني
اوس په کوڅه کي دي زما پلونه بېګانه ښکاریږي
زه بوډا سوی یمه
زما په آواز کي زګېروي ځاله کړې
نور مي سندري ستا د ناز خوبونه نه ویښوي
لاس مي رباب ته نه ځي
نغمه مي ګوتو کي بې سوره سي
کږه وږه سي
شهباز خوله خوله سي
زما له لاسونو هنر کډه کړې
زما له قلمه ښکلا کوچ کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي ستا د ښکلي مخ تصوير جوړوم
تندي کي راسي بې حسابه ګونجي
شونډي بې واکه سي راوځړېږي
او ښکي راتوی سي تصوير وژړېږي
زه د کلو د سودايي په رسم
پر آيينه ټپروم لاسونه

ويرجينيا ۲/۲۸/۱۹۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې رنګه مستي

زما دوست، محمدابراهيم عطايي، يو وخت له کابله ليک راته لېږلی و، او د تېرو خوږو خاطرو د يادولو تر څنګه يې د نوو ناخوالو يادونه هم کړې وه. څو ورځې وروسته مي يو ليک، د دغه منظوم جواب سره، ور واستاوه.

ولـــي را اســـتوې تـــصوير د پـــرون
رايــــادوې مـــــي د کلــــو خبــــري
دا زمـــا د ورانـــو هـــديرو عکـــسونه
د ســــوځېدلو کنــــډوالو خبــــري

زمـا لـه بې وزلـو اوښکو څه جوړوې
زړه کـي مـي ولـي تـوروې زخمونـه
ځلـه راباسـې دا بـې ســوره چيغــي
زمــا د قلـم سـتوني کـي وچ نظمونـه

تـه کـه زخمي يې زخمي سوی بـه يې
مــا تـــه دي څلــه پرهارونـــه ژاړي
زه پـــه نظـــر لکـــه چـــي روغ درځمـــه
چـي راتـه سرې سترګي رودونـه ژاړي
زمـا پــه رګونـو کـي ساه وچـه سـوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د مستۍ پر نغمه زنګ پرېووت
زمـــا د خيـــالونو وزر ورژېــــدی
زما لـه ژونديو وينو رنګ پرېووت

زمـا پـه لاسـونو کـي سـورونه ژاړي
زمـــا د هنـــرګوتـــو کـــي زور نـــسته
زمـا پـر آواز بانـدي مرګـی مېلمـه دی
د ژونـد پـه ساندو کي مي اور نـسته

که د زړه مراندي مي نغمه نغمه سي
پــه دي کنــو يــې اورېــدلای نــه سـم
زه د بېــــدردو د محفــــل تــــومتي
لـــه پرهــارونو ژړېــدلای نـــه ســـم

چا ته يې توی کړم دا پردېسي اوښکي
دلتـــه يـــې سـترګي د ليــدلو نـــسته
چـــا تـــه بـــه ووايـــم رنګـــين خوبونـــه
دلتــــه يوســــف د اورېـــدلو نـــسته

زه د ريـــا پـــر بـــازار ژونـــد کومـــه
دلتــــه آهونــــه پــــه پيــــسو خرڅېـــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې بې پتو سوداګرو حساب
زما د نرخونو سره نه جوړېږي

راسه غني غوندي ځان وغولوو
د سرو لالونو خزانې وستايو
د هسکو غرونو په درو کي چېرته
د خپلو تورو نښانې ووايو

راسه چي کړکي د ميوند پورته کړو
يو څو ناسازه افسانې وليکو
بيرته ويده کو دا ژوندي خيالونه
هېرو قبرو ته ترانې وليکو

په شنو پيالو کي به سره مې وڅښو
د حميد قبر ته به بنګ ورکو
ځه چي بې رنګه مستي وتخنوو
راسه د خپلو وينو رنګ ورکو

راځه په سرو سترګو نغمه نغمه سو
کوم لېوني رباب ته شرنګ ورکو
راځه چي اوښکو ته اتڼ وښيو

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځه د مرګ په لاس کې چنګ ورکو
راځه چې ساندې سره ونڅوو
اوښکې په سترګو کې زېندۍ کم درته
څو د زاغانو سیوری وسوځوو
څو ژړې پاڼې دې ژوندۍ کم درته

راسه ناټک وکو د ژوند سره
راسه چې نوی کو دا خپل مخونه
زړونه خالي کو له زړو خبرو
راسه چې وسوځو زاړه یادونه

پر خپل شهباز نوي نغمې وکړو
خاورو ته وسپارو شناخته سورونه
له سره وزېږوو نوي کیسې
له سره ولیکو تازه نکلونه

کشکې له ځانه بېګانه سو سره
بیا به نه اوښکې نه به وینې ژاړو
نه به د نن له بد رنګۍ ګیله وي
نه به زړې رنګینې مینې ژاړو

ویرجینیا ۱۹۹۴/ ۲۸/ ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بېگانه نسيم

زه هر سهار چي د نسيم مخي ته
د لېونو په شاني ځيري ګرېوان
په سرتور سر په لڅو پښو ورو وزم
او ترې پوښتم د ورک اشنا حالونه
هغه په بېړه بېړه
ګلونه و سپړي اغزي و کړي
او د بلبلو له چغاره سره
په نازولو په پستو پاپيو
په نا اشنا لوري نغمه رهي کړي
ما ته احوال د اشنا نه راکوي
ما کي الهام د نظم نه پاڅوي
زما په رګو کي ويني نه ويښوي
دا د اشنا پر کلي نه تېرېږي
دا نسيم زما په ژبه نه پوهېږي
ده سره نسته د يارانو د ښارونو کيسې
ده سره نسته د پرېسو هديرو خبري
ده سره نسته د شپونکيو د شپېليو آواز
د ده له څنګه د جانان د کوڅې بوی نه راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به هم نه وروزم
زه به هم نورد ده په ګونګه او ړنده لاره کي
د انتظار او د امید سترګي ونه ګنډمه

ويرجينيا
۳/۱/۱۹۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تصویر

سړه د ژمي شپه ده زه ستا له یادونو سره
لکه ماشوم په وړانګو لوبي کوم
ستا د تصویر مخي ته ودرېږم
او دا یوه لحظه دي خپله کمه
هلته سینه کي غولېدلی زړګي وخوځېږي
او پردې مینې ته ټوپونه وهي
تصویر ژوندی سي سترګي و رپوي
پرشونډو بیا ګرځي زاړه قولونه
بیا د سبا د لمرختو په طمع
شپه تر سهاره شمعي ولګېږي سترګي سوځي
خو یو ناڅاپه د تصویر له سترګو
د ژوند او میني رڼا وتښتي
قولونه مړه سي
زه او تصویر پاته سو
او زړه هم نه وهي زاړه ټوپونه
دواړه لاسونه لېوني لاسونه
بې ارادې د تصویر خوا ته ځغلي
تصویر څیري او ژمنۍ سکروټي
لمبه لمبه کي د کلو خیالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا يې لمبه په ستر ګو وينمه خاموشه نه ده
لا د تصوير بې نوره ستر ګي زما پر لور کږې دي
چي په سينه کي مي د زړه په تل کي
ستا له تصويره سره مينه نوی اور بلوي
او په رګونو مي بخري ګډه سي
نور دي تصوير ته هم کتلای نه سم
يوه لحظه دي خپلولای نه سم
يوه لحظه زړه غولولای نه سم
او دا د ژوند سره ملګري لمبې
دا په رګونو کي ژوندي بخري
دا د تيارو دا د رڼا ملګري
ستا د خيالونو له محله سره
په تصويرونو رويباري نه کوي

۱۲/۳/۱۹۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپیلۍ

زه چي زلمی وم ه کلونه مخکي
ما د دې غرونو په لمنو کي شپېلۍ ږغول
يو څه ځواني وه، څه مستي وه، څه موسم د ګلو
څه شنهار د مرغلينو اوبو
او د چنچڼو شور ماشور کي به د زرکو آواز
د هسکو غرونو درې ډکي کړلې
د پسرلي وريځو به
د نسترن څڼو کي
ګېډۍ ګېډۍ ګلونه وشيندله
ما به شپېلۍ ږغول
او هري تيږي، هر ګل بوټي، هري زرکي به مي
نغمه راغبرګه کړله
وينو به اوروا خيست ګامونو ته به زور ورغی
او د شپېلۍ آواز به غونډي درې وڅېرلې
کلونه واوښتل عمرونه تېر سول
او يوه ورځ د بېګانه و په حجره کي چېرته
يوه زاړه يو تک تور يوه غريب ربابي
زما د اشنا غرونو کيسې کولې
يوه بوډا په ساندو ساندو ژړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو څو زلميو ورته هېښ کتله
له ربابي سره شهباز ژړله
او زما د غرونو غم لړلې کيسه نه ختمېده
هغه کيسې د تباهيو سوځېدلو کړلې
هغه کيسې د چنچڼيو د وژلو کړلې
هغه سندري د باروتو او لمبو ويلې
هغه ژړل هغه سلګۍ وهلې
او پر تور مخ يې له بې واکو له بې نوره سترګو
لړۍ د اوښکو ګرېوانه ته تلله
هغه ژړل هغه سلګۍ وهلې
او کيسه نه ختمېده
هغه ويل د هغه غره لمن کي
نه چڼچڼۍ سته نه د زرکو آواز، د چا شپېليو کي نغمې ويښوي
که نسيم الوزي ايرې اوروي
پر سوځېدلو ونو
او د قبرونو پر کږو جنډيو
په نس ماړه او پړسېدلي کارغان
د چڼچڼيو او د زرکو پر ځای
د هر آواز سره واخ واخ پورته کړي

واشنګټن ۱۲/۱۴/۱۹۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د توپان شپه

ما د ساحل له غېږې وخوځوئ
زه په دې توره هولناکه شپه کې
په دې تورتم کې د سېلیو او څپو پر اوږو
د دې وحشي سمندر غېږ ته ورځم
چې د دریاب ساړه تیاره کوګل کې
یوه بېړۍ له انسانانو ډکه
یاغي موجونو او څپو کې ګیر ده
زه یې د زړه په غوږو
دلته له لیري څخه
د ماشومانو او بې وسو ترهېدلو ښځو
چیغې نارې او غلبلې اورمه
زه د بې وزلې مور د څنګه سره
یوه ماشومه وینم
لکه ویشتلې وارخطا کوتره
چې سر تر پایه رېږدي
او د برېښنا له پړکه و وېرېږي
د ترهېدلې مور تر شا پټېږي
او توري وریځې، توره شپه او دا بېرحمه آسمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بې پناه بېړۍ په جنګ وتلي
آسمان غړومبېږي لکه وږی هيبتناکه زمری
او د ژليو او سيلۍ د زوره
د سمندر له سينې وخوځېږي
لکه د غره په شاني لويې څپې
د بېړۍ والو واوېلا پورته سي
د بې اسرې خلکو غوغا پورته سي
زه به ورځم
هرو مرو به ورځم
او دا د مرګ څپې په سترګو وينم
زه دا بېړۍ چېرته ژغورلای نه سم
هغه ماشومه خلاصولای نه سم
د دې څپو لامبو وهلای نه سم
خو زه ورځم
هرو مرو به ورځم
غواړم کيسه د قهرېدلي آسمان
د هيبتناکه خروښېدلي توپان
د څپو غېږ کي د بې وزلي انسان
درته را ورسوم
اې د ساحل او د محل وګړو
له جنتي سکونه مستو لېونو ملګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې له سیلیو له توپانه بې خبرو خلکو
دا زما چیغې د رسېږي کنه
د خدای د پاره لږ څه رحم وکړئ
په دې بېړۍ کې مو خپلوان ډوبېږي
رقیبان نه دي قریبان ډوبېږي
او که توپان کرار ولاړ نه سئ
که دا بېړۍ را خلاصولای نه سئ
نو په قاه قاه ورته خندېږئ خو مه
نو پر ساحل ورته نڅېږئ خو مه

ویرجینیا ۱۲/۲۸/۱۹۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د جانان تصویر

ما ته مي سل ځله رویبار ویلي
چي هغه ستا د شاپېریو ارم
اوس د دېوانو پېریانانو شیطانانو کور دی
اوس یې ډېوې د توري شپې بلاوي نه تښتوي
اوس د رباب او د شهباز له جنګه
اوس د مستانو د پیالو له بنګه
اوس د جامونو او پیالو له ګړنګه
نازکو پښو کي د پایزېب له شرنګه
د شپې له سترګو تیاري نه ټولېږي
او هغه ستا د جانان ټولي کوڅې
چي تا یې خاورو ته سجدې ورو وړلې
چي هري تیږي ستا له تږو قدمونو سره
د ازلي پیوند خپلوي درلوده
د غمازانو د پیرو ډکي دي
لاري یې ټولي له اغزو ډکي دي
او هغه ستا د شعر او نظم خالق
ستا د غزل ستا د خوبونو او خیالونو جانان
چي تا یې خپلي بې هنره ګوتي
د تصویرونو په ایستو وچي کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي تا يې پښو کې د ځوانۍ ورځې دانه دانه کړې
ستا په نامه لېونی نه پېژني
ستا له نغمو سره خپلوي نه لري
ستا د غزل په ژبه نه پوهېږي
رنګ يې بدل زړه يې بدل مينه پردۍ غوندي ده
او تش يو نوم ستا د جانان پاته دی
ما د رويبار خبري وژړوي
دانه دانه اوښکي راوڅڅوم
د آيينې مخې ته ودرېږم
په هره اوښکه کې تصوير وينمه
د خپل جانان او د جانان د کوڅې
دا اوښکي زما دي دا تصوير مي خپل دی
وصل خوښي بېلتون او وير مي خپل دی

۹/٦/۱۹۹٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د رڼا څاڅکی

دا شعر د برطانيې د شهزادګۍ (ډيانا)
د مرګ په شپه ليکل سوی دی.

د خـــدای لـــه ښـــکلو هنرمنـــدو ګوتـــو
د تيـــارې غېـــږ تـــه رڼـــا وڅڅېـــده
د تـــورې شـــپې پـــر کرغېړنـــه لمـــن
د عـــرش د ســـتورې ښـــکلا وځلېـــده
تـــور د شـــيطان لـــښکريـــې وتـــوراوه
د فرشـــــتو صـــــفونه وخوځېـــــده
څـــو ماښـــامونه د ابلـــيس پـــر ګوتـــو
د رســـوا شـــمعې لمبـــه وســـوځېده
د بـــد رنګيـــو د دېوانـــو پـــر ښـــار
د شـــاپېرۍ پلوشـــه وغورېـــده
د غـم پـه خونـه کـې نغمـه نغمـه سـوه
او ښـــکه لـــه نيمـــې لارې وګرځېـــده
د چـــا رنځـــورې شـــپې يـــې وپوښـــتلې
پـــر هېـــرو شـــونډو مـــستې ومـــسېده
خـدای تـه پـه کـار سـوله د حسن ځـولۍ
د فرشـــتو لـــه کـــوره تللـــې غـــوټۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آدم لـــــور او د حـــوا نـــاوکۍ
د جنتونـــــو راوتلــــې شـــهۍ
نــوري دي نــه بړدي پــر اغزنــه مځکــه
لــه نــوره جـوړي سپيني سپيني پـاپۍ

بـس يـوه شپه تــوره تيـاره خپـره سـوه
د عزراييـــــل لاســـونه وښـــوربېده
د خـــداى لـــه ګوتـــو څڅېـــدلي رڼــا
پــه تــور توپـان کـي يــو ځـل وځلېـده
ولـي تيـاره سـوه شمع څـه سـوه څـه سـوه
لـــه ښـــار او کلــي چيغـــه وپاڅېـــده

د تورتمونـــو لـــه کونجونـــو څخـــه
د تورتمونـــو لـــه لـــه غـــارونو څخـــه
د هېبتناكـــه ســـمندر لـــه څپـــو
د پيريانـــانو لـــه ځنګلونـــو څخـــه
د شـــيطانانو آوازونـــه راځـــي
ږغ د ســـورنا او د ډولونـــو راځـــي
لـــه هـــر آوازه يـــې راځـــي دا وينـــا
وايـــي ژونـــدى دي وي تيـــاره پـــر دنيـــا
دا د شـــيطان پـــه قوالـــه ده ځمكـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د دېوانـــو ميراثـــه لـــه پخـــوا
دې د ابلـيس پـه کـور کـي نـه چليـږي
د خـــدای لـــه ګوتـــو څخېـــدلي رنـــا

ويرجينيا ۹/۴/۱۹۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د هستۍ مستي

پرېږدئ پرېږدئ زما لاسونه زه اورونه په لړمه
زه په سوي مذهب پوه يم زه دوږخ ځانته کرمه
زه د خضر چينه سوځم نړوم د کوثر غاړي
زه له مړه ژوندونه مور يم ما ژوندی لحد ورغواړي
زه د مست ګرداب په غېږ کي لا موجونه ويښومه
زه په ستوني د ښامارکي مرګ له خوبه پاڅومه
زه په زړه د جهنم کي انګارونه لټومه
اهريمن را پاروم لا يي ځانته قهرومه
پرېږدئ پرېږدئ زما لاسونه زه اورونه په لړمه
زه په سوي مذهب پوه يم زه دوږخ ځانته کرمه
پرېږدئ رونيي دا تيارې کو پرېږدئ پې کو دا مزلونه
ټول په ګډه سره لمبه سو او روښان کو رباتونه
راځئ لنډي کړو دا لاري ور هوار کو کږلېچونه
د ژوندون دپاره ومرو څو ژوندي کړو لحدونه
په دې هيرو خرابو کي د هستۍ مستي آغاز کړو
دا د مرګ شېلي رڼا کو پکښي کوک د ژوندون ساز کو
زه شاعر يم د دې مينې زه سکوت ورماتومه
زه هاتف د ژوندۍ چيغي زه دا مړي ويښومه

اګست ۱۹۷۹ کابل خيرخانه مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## معصومې

چېرته د مني مازيګر د سمندر پر غاړه
يو ازي زه او ته واى
او ننداره مو د موجونو کړلاى
لمر د رخصت په وخت کې
د سمندر پر لمن تخم د طلا شيندلاى
او څو شېبې وروسته د شپې اژدها
د سمندر له غېږې وړلاى طلايي خمونه
وړو او لويو څپو
د ساحل غېږې ته په منډو منډو
را رسولاى د درياب له توپاني کوګله
د هېبتناکه تلاطم خبري
او دلته تا د يوې ګارې تر څنګ
له خپله ځانه بې خبره غوندې
ورېښميني څونې واى سپارلې بازيګر نسيم ته
تا د موجونو ننداره کولاى
او ما دې غېږه کې کتاب ويلاى
نه د امام، نه د خيام، نه د رستم پهلوان
نه د نشې، نه د خمار، نه د مستيو داستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه د بلبلي، نه د شمعي او بورا خبري
کتاب د خپلو لېونو خوبونو
پر ورکو لارو د خيالي ګامونو
مياشتي کلونه پخوا
ما دغه غېږه کي خوبونه کول
او د ځوانۍ نشه کي
راڅخه ورک و ستا د سترګو خمار
زما معصومې زما ښايستې معصومې
کشکي چي ستا بهار ته نه راتللای
د زمانې د خزانونو سيلۍ
کشکي چي ستا پسرلي نه ليدلای
ژړي ګلونه او زهيري غوټۍ
کشکي چي تل دي پر سرو شونډو باندي
د ميني مسته نغمه ګرځېدلای
کشکي چي تل دي په توده سينه کي
زما د خيالونو پانوس بل ساتلای
او ستا د ويښو شپو له وهمه څخه
د زمانې داړه مار نه لوټلای
زما د ځوانۍ د شپېو دنګه ماڼۍ

ويرجينيا (امريکا) ۱۹۹۳– ۵– ۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پرېشان خوبونه

زه چي دا ټوله سره شپه ستا پر مړوند بیده وم
او ستا په سپینه پسته غېږه کي مي
په اوښتو را اوښتلو خولې سترې کړلې
ته وا مین و د ازل د ورځې
لکه د میني جل وهلي تږي
د یوه بل په غېږه نه او بېدو
او چي سهار د لمر زرینو وړانګو
د شپې پر سترګو باڼو وړپاوه
او د ګلونو له ګېډیه شبنم کډه وکړه
نه ستا په غېږه کي زه اوښتلم
نه زما له غېږي ستا آواز خوځېدی
د پردېسۍ کټ مي اغزی اغزی سو
خیال مي زخمي زخمي سو
شپه له خوبونو سره والوتله
او بیا د تل په شان یوازي سومه
بیا هغه زه هغه زاړه هغه اغزن خیالونه
هغه اوږده هغه ناکام هغه خیرن چرتونه
هغه ترخه د کاشکي کاشکي ناپایانه لړۍ
هغه د عمر په محبس کي زنداني آهونه

واشنګټن ۴/۱۱/۱۹۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ویاړ

څومره شیریني دي د جنګ د میدانونو کیسې
څومره آسان دي د شاباس او آفرین ږغونه
څومره خوږې دي د میړونو د مردۍ خبرې
د اتلانو د سرونو د بازار نکلونه
څه پر غوړونو بنې لګیږي پخوانۍ سندرې
د مستو پیغلو په اتڼ کې د زمرو نومونه
په څه غرور د شهیدانو تر مزاره ورځي
د ښایستو نجونو ټولۍ ګډه ګډه ګلونه

خو چا پوښتنه له شهیده د زخمونو کړې؟
چا له اتل سره خواله د پرهارونو کړې؟
چا یې د مرګ پر پوله سترګو ته یو ځل کتلي؟
چا یې په سترګو کې کیسه د ارمانو لیدلې؟
چا د شهید د بوري مور سوی کوګل کتلی؟
چا د ښایستې سرتوري کونډې وران اوربل کتلی؟
چا په سینه کې د مرګي د ګولۍ زور لیدلی؟
چا د زرګونو ارمانو سوځلی کور کتلی؟
چې زولنو او ځنځیرونو ته نظمونه لیکي
هغه شاعر د سیاه چالونو سرې شپې لیدلي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لړمـــانو پــه کالــه کــي يــې خوبونــه کــړي؟
وچــو هــډو يــې د نېــښونو سلــسلې څکلــي؟

د هوښــيارانو دا يــوه خبــر مـــي نـــه هېرېـــږي
"مځکه هغه سوځي چي اور وربانـدي ولګېږي"

ويرجينيا ۱۲/۲۷/۱۹۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تیاره تصویر

ته چې په نیمه شپه کې غلې غلې
زما د خیالونو تر جنته راځې
او زمولوې تازه تازه ګلونه
د پښو آواز دې نه وي
خو له تصویره دې تیارې را اوري
زما د زړګي دپاره خپله سینه
تنګه سي، توره سي، اغزي اغزي سي
په رپېدېدلو لاسو
موږم بې واکه، ترهېدلي، خوبولي سترګي
ستونی مي ډک سي
وایم چیغې کړم ګرېوان وشلوم
په خیال کې وینمه تصویر د جانان
چې له سرو شونډو یې څک څک راځي کوتلي ویني
زه لېوني خو نه یم
که نه دا څوک یې چې دې نه پېژنم
او ته مې هره شپه
د تنهایي رنګین رنګین خیالونه
د مرګ او ویر په چیغو وتوروې

ویرجینیا ۲/۲۸/۱۹۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مورته

ستا له قسمت سره د میني پټ ځنځیر تړلی
موري له تا سره د ویښو شپو تصویر تړلی
ستا له انځور سره ملګري دي رنځور کلونه
ستا د ژوندون له هري شپې سره شوګیر تړلی
هسي دي نه کړل جنتونه تر پښو لاندي خالق
ستا له رضا سره د هر بنده تقدیر تړلی

راته یادیږي دي رنځوري خوبولي سترګي
شپه تر سهاره دي په جار او په قربان غوښتمه
راته یادیږي نیمي شپې د الاهو سندري
چي زمزمه به دي کوله زه دي ځوان غوښتمه
تا په سیالانو په همزولو کي سرلوړی غوښتم
تا له خالقه لکه ستوری پر آسمان غوښتمه
چي دي زانګو کي زما تندی او زما فالونه کتل
پر هر میدان دي بریالی او قهرمان غوښتمه
تا مي په لاس کي د احمد او محمود توره لیده
یو ځل دي بیا پر پاني پت او اصفهان غوښتمه
تا مي د پیغلو په سندرو کي کیسې غوښتلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر لـه تـوري د ظـالم دي پـه امـان غو ښـتمه
زما له سايې دي د مرميو سيورى ليري غو ښتې
ژوندى دي غو ښتم د پلو دي نګهبان غو ښتمه
موري پـو هېږم چې پر سره کفن دي نه وم پېرزو
مګـر تـولىۍ کـي د غازيـانو دي روان غو ښـتمه

تـا وې چـي زمـا د زوى د تـوري لـه هيبتـه څخـه
د خلکـو زړونـه پـه لـړزه سي لـه کټونـو پرېـوزي
تا وې چي زوى مي لکه باز پر لوړو څوکو ګرځي
چي له حملو يې کرګسان له ګړنګونو پرېوزي
سي يې لـه ډاره د غليم پـه زړه کـي وينـي وچـي
لـه خرخښو يـې د چـا تـوري لـه لاسـونو پرېـوزي

زه نـه د جنګ نـه د ميدان سوم نـه د تـورو سـومه
لکـــه شـــاعر هـــديرې ژاړم جنـــازې ژاړمـــه
په خوب او خيال کي مي کوثر کوثر وطن ګورمه
پردېسـو ګوتـو کـي سـپېرې تـشې پيـالې ژاړمـه
د عزيزانـــو کـــډي ووتـــې لـــه ښـــاره څخـــه
د بـې وطنـو تـوري ورځـي سـړې شـپې ژاړمـه
پـه ورکـو لارو تـورو شـپو کـي بـې منزلـه کـډي
دا بـــې جرســـه بـــې ســـالاره قـــافلې ژاړمـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته په غېږ کې د ساحل د سودايي په رسم
په توپانونو کې بېړۍ وينم څپې ژاړمه
د خيال پر کور مې د مرميو بارانونه اوري
موري کابل مې اوراخيستی دی لمبې ژاړمه

موري د تورو ميدانونو ته ورتللای نه سم
د فرشتو په شاني ميندي ژړولای نه سم
زه د بازانو له ځالې څخه راغلی نه يم
مرګ د کوترو په سېلونو ګډولای نه سم
ما ستا په غېږه کې يوازې مينه وڅکله
اوس مې په وينو کې غضب راويښولای نه سم
تا راته زر ځله کيسې د عرش د خدای کړي دي
ياغي تندی مې بل څښتن ته لګولای نه سم
تا مې په وينه کې د مينې ډېوې بلې کړلې
د چا د شپو بلې ډېوې خاموشولای نه سم
تر څو مې ستا د الاهو زمزمه غوږ کې ګرځي
د چا په شونډو د للو نغمه وژلای نه سم
زه دي د شنو جلګو شپېليو لره و روزلم
ملامت نه يم که نن اور ته ګډېدلای نه سم

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د غلیم په وینو سره توره مي رانه وړله
موري د ورور په وینو سره لاسونه نه لرمه
که مي د ښمن ته جنتونه سره تبی نه کړله
د خپل بابا په هدیره کي لمبې نه کرمه
که پر د ښمن باندي مي میندي بوري کړي نه دي
په خپلو کلیو کي د ساندو تخم نه شیندمه
که د دوی کونډي مي په وینو ژړولي نه دي
د خپلو کونډو پر پوړني یرغل نه وروړمه

که د ناموس د غلیم خویندي مي سرتوري نه کړې
پر غلیمانو مي د خویندو ستر نه پلورمه
که پاکه خاوره مي په سرو وینو رنګینه نه کړه
خپله کعبه د عرش د خدای د ښمن ته نه سپارمه

که مي له وینو سره غاټول راټوکېدلي نه دي
د خپل ټاټوبي پر ګلڅانګو مرمی نه اوډمه
که مي سینه په سرو ګولیو غلبېل کړې نه ده
ستا نازولي په ژوندوني ګور ته نه لیږمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

که خپل مورچل مي په سروو ينو لمبولی نه دی
ســتا د پلــو د دښــمنانو ســنگر نــه ســاتمه

ځــم چــي شــنوا کــړم د کږديــو د کڼــو غوږونــه
لا مــي پــه وينــو کــي بخــري ستــه لا اور پاتــه دی
راپــا څوم لــه درانــه خوبــه دا ويــده وګــړي
چــي پــه سينه کــي د يــوې غلبلــې زور پاتــه دی
موري ايمان مي راته وايي چي سبا مي خپــل دی
چي يې په غرو کي يو افغان پاته يو کور پاته دی
ويرجينيا ۵/۷/۱۹۹۸ د مورد ورځې په مناسبت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزلي او سندري

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

یو ته نه یې پر هر چا مي شک پیدا سو
پر دنیا او مافیها مي شک پیدا سو
غل خو نه یې چي په نیمه شپه کي راغلې
د جانان خیاله پر تا مي شک پیدا سو
کړی، شپه شمع بلېږي پټنګ کرځي
پر لمبه او پر بورا مي شک پیدا سو
هر کلنګ سو د فرهاد په نامه پورته
پر مجنون او پر لیلا مي شک پیدا سو
د جلاد پر باڼو او ښکه را ښکاره سوه
پر ازل او انتها مي شک پیدا سو
د ابلیس پر ګوتو سترې تسپې اوړي
پر قسمت او پر قضا مي شک پیدا سو
شیخ په لو بېره د حق ناري وهلې
د منصور پر مدعا مي شک پیدا سو
نن زاهد له جهاني سره ژړله
پر هر قول او رشتیا مي شک پیدا سو

ویرجینیا ۱۱/۲۱/۱۹۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د حسن شور ماشور يې محشر وسو
په کاږه کاته يې کور د مجمر وسو
چې په ذکر يې خلوت بتکده کيږي
د هغه صنم په ياد مې ځګر وسو
چې د زلفو شپې يې خال په غېږ کي واخيست
د فلک په شبستان کي قمر وسو
تبسم يې د غوټيو خوله کړه پټه
د ښکلا هجوم يې کور د آذر وسو
نيم سېراب يې د لاله سينه داغي کړه
د فردوس په خُم کي جام د کوثر وسو
چې په تور يې جهاني دوږخ ته کش کړم
د هغې ميني په اور يې منبر وسو

کابل پښتو ټولنه **۱۳۵۴** لمريز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه ویـر کـي د بېلتون چي پـه غوغـا راسره نـه سې
منصوره چي شریک مي پـه لـیلا راسره نـه سې
ما پرېږده چي مي اوښکي د تقدیر پر لمن څاڅي
تـر سترګو دي واری سـم پـه ژړا راسـره نـه سـې
جانانــه زمــا جنــون تــه ازل هــسي لېــوني دی
ملګـری پــه سـفر کـي د صـحرا راسـره نــه سـې
لـه سترګو یـې بېرېږم هـسي نـه نظـر مـو نـه کـي
پـه مـخ کـي د رقیب چي پـه خندا راسره نـه سې
جنونـه کـه پـه غـاړه کـي ګرېوان درتـه پـه کـار دی
زما شپې د لېونتوب دي چي تنهـا راسره نـه سې
زخمونــه پـښتانه دي مــالګي لپــي لپـي راوړه
قــسمته مــروره چــي پخــلا راســره نــه ســې
د سـترګو اشـارو تـه د رقیـب سترګي څلـور دي
مـا سـتا پـه تهمت وژني تـه رسـوا راسره نـه سې
نصیب رنځوري شپې د جهـاني پـه نامـه کښلي
طبــــیبه تــه بدنامـــه پـه دوا راســــره نـه سې

۱/۱۵/۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

✲

پناه تــه لــه ناکامــه توپــانو راوړی یــم
ملګــرو دې محــل تــه زلزلــو راوړی یــم
صیاد مي پر زګېروي باندي مین سو توره بخته
قفــس تــه مــي خوږمنــو غلبلــو راوړی یــم
قــسمت مــي لــه وزر سره اورونــه دي ګنــډلي
یــارانو دې انګــار تــه زولنــو راوړی یــم
یــوه شــېبه مــي پرېږده زنګــوم سترګي خوبونــه
ســاحله تــر لمنــي دي څپــو راوړی یــم
کلونــه لکــه اوښکي د ګرېــوان پــر لــوري ولاړل
مرګیــه نــن دې غېــږي تــه سلګو راوړی یــم
زخمي اوښکي مي نه دي د ناسور له پرهارونو
دیــدن تــه دي حبیبــه بهــانو راوړی یــم
دا لار مــي د بڼــو پــه څوکــو نــه ده پیــدا کــړې
جانانــه تــر منزلــه دي ســجدو راوړی یــم
لا ولــي مــي پــه لاس کي پیمانې پــه کاڼو ولــې
زاهــده دې مقــام تــه خــو توبــو راوړی یــم
ســرابه جهــاني دي پــه دام نــه دی کــښېوتلی
کــوثر تــه د نــصیب هېــرو وعــدو راوړی یــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

نصیب د تورو شپو مي د دې ښار ليدلی دی
دا رنګ مي په تندي کي د رويبار ليدلی دی
په کومه ژبه وستايم د تورو زلفو څوکي
د خيال په خزانو کي مي ښامار ليدلی دی
ملګرو د خوبونو تعبيرونه به مي څه وي
په صف کي د يارانو مي اغيار ليدلی دی
تر څو په پلوونو پټوې د رقيب سيوری
جانانه ما يې پل پر دغه لار ليدلی دی
لا زما له ستوني ولي د هوس ترانې غواړې
شهباز مي ستا په کلي کي سنګسار ليدلی دی
له هوډه به وانه وړمه زاهده مروره
ما ستا په جنتونو کي انګار ليدلی دی
پر لاس د جهاني دي ولي ستړي کړه فالونه
پر پاڼه د ازل مي قسمت خوار ليدلی دی

واشنګټن ډي سي ۹/۲۹/۱۹۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

د ویـــښو شــپو زړه کــي لمبــې تېرېـــږي
یـــا د یــــادونو قـــافلې تېرېـــږي
بـــوډۍ ځـــواني مـــي پـــه نظـــر نـــه ورځـــي
ښــکلي پــه وار جـــوپې جـــوپې تېرېـــږي
بـــاده د خـــدای د پـــاره تـــم ســـه دلتـــه
تـــر پلـــو لانـــدې پـــښتنې تېرېـــږي
ورو ورو د اوښـــکو پـــه ګـــامونو راځـــه
ســـتا د خیـــالونو جنـــازې تېرېـــږي
مرګـــه ظالمـــه چـــي نظـــر مـــي نـــه کـــي
څـــو ښـــکلي شـــپې لکـــه شـــېبې تېرېـــږي
د افلاطـــون هنـــره تـــښتې ولـــې
د لېونیـــو زولنـــې تېرېـــږي
شـــیخه غوږونـــه دي کاږه ګرځـــوه
د مطـــرب ګوتـــو کـــي نغمـــې تېرېـــږي
زاهـــده ســـر تـــر نو کـــه ســـترګي ســـولې
د ښـــکلیو نجونـــو سلـــسلې تېرېـــږي
جهـــاني بیـــا کلـــه تـــوبې مـــاتوو
زلمـــي کلونـــه لکـــه شـــپې تېرېـــږي

واشنګټن ۱۹۹۷ د ډسامبر دېرشمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

ملګـرو ځــو بــه د خمونــو لاري بنـدي ســولې
پــر تــړو شــونډو د جـامونو لاري بنـدي ســولې
فرهــاده اوس بــه د شــېريني مـزل چېرتــه وهــې
پــر کلنګونــو دي د غرونــو لاري بنـدي ســولې
پــــر خزانـــــه د ښـــامارانو پيـــره ودرېـــده
راځـــئ پــه غــلا د ديـدنونو لاري بنـدي ســولې
ســوړميه اوس د افــسانو تخمونــه چيــري لــونې
چــي د کيــږدۍ د ماښـامونو لاري بنـدي ســولې
زلمــي بـه نـه شـمېري لحظـې د انتظـار پـر ګوتـو
چــي پـر پېـزوان د ګودرونــو لاري بنـدي ســولې
نــور دي درخــو پــه نقــابونو کــي ځـواني تېـروي
د آدم خـــان د ربـــابونو لاري بنــــدي ســـولې
د ســيتارونو لــه خــالي کوګلــه ســاندي اوري
د ترانـــو پـــر شـــهبازونو لاري بنــدي ســـولې
نـــسيم پـــرون د پـــسرلي جنـــازه وايـــستله
زمـوږ پـه وطـن کـي د ګلونــو لاري بنـدي ســولې
پتنګــه بــل چيرتــه ســينه پــر لمبــه وســولوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ پر ماښام د پانوسونو لاري بندي سولې
سپرلیه غېږه کې دي وساته ځولۍ ګلونه
پر دې بېدیا د بهارونو لاري بندي سولې
له خزانونو تورېدلی بلبل نه راځي بیا
پر دې چمن د بهارونو لاري بندي سولې
جهاني ستا یې په تندي کي دي زخمونه کښلي
چې پر طبیب د مرهمونو لاري بندي سولې

واشنګټن ډي سي ۸/۳۱/۱۹۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

درد مي له سينې نه بهر چېرته ځي
ستا د تورو سترګو اثر چېرته ځي
زه په خپل اختيار درته راغلى يم
نور له دې زندانه خبر چېرته ځي
ميني ته ولاړ دي جلادان د وخت
ښکلي به پر لور د ګودر چېرته ځي
شيخه ريشتيا وايمه معذوريمه
ډله د شيطان کي کوثر چېرته ځي
خدايه دا سزا د کومي ورځي ده
شپو له پاسه شپې دي سحر چېرته ځي
زه خو يې ګرېوان مخي ته نه وينم
خدايه دا د اوښکو لښکر چېرته ځي
ژوند له حادثو سره پېيلى دى
دلته له ساحله خطر چېرته ځي
څو به جهاني له لاري وګرځي
ستا په نوم ليکلى سفر چېرته ځي

ويرجينيا ۱/۲۵/۱۹۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

د ښو پر څوکه ژوند دی پاتېدلای سم که نه سم
لکه او ښکه پر باڼو دي رغړېدلای سم که نه سم
د سرکښي ځوانۍ باز مي په رضا دام ته درلوېږي
پټ په خيال کي دي په زلفو زنګېدلای سم که نه سم
د پردۍ نشې مستي ده چي په سترګو کي يې وينځ
شپه لا ځوانه ده يارانو نور چښلای سم که نه سم
د اجل قاصد راغلی د ځوانۍ پولي ته پرېووت
وايه بيا دي نرۍ شونډي مچولای سم که نه سم
د تقسيم په آينه کي ځان ته ګورمه تا وينم
د تقدير له ځنځيرونو خلاصېدلای سم که نه سم
ستا محفل کي شمع نسته زما وزري لمبې غواړي
دا يو څو خاموشي چيغي درلېږلای سم که نه سم
چا پرون راته ويله چي شهباز خاورو ته سپارې
د مستۍ په هديره کي نښېدلای سم که نه سم
دوږخي خيالونه مړه سول جنازې يې او ښکي يووړې
څه دي رايه ده زاهده سوځېدلای سم که نه سم
د مورچل د پيغور غشو دواړي سترګي را ړندې کړې
پښتني نور دي پلو ته درکتلای سم که نه سم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځوانۍ مستي شېبې مې د ديدن سراب الوې کړې
په کوځه کې دي جانانه ښخېدلای سم که نه سم
هسکه غاړه د غرور مې د تسليم په توره پرې کړه
جهاني دي اوس قدم ته پرېوتلای سم که نه سم

واشنګټن ډي سي ۱۱/۱۲/۱۹۹۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا میکده په نڅېدلو ارزي
ساقي دا جام دي په څښلو ارزي
چي لېونتوب ته عقل وتخنوي
دا زولنې په شرنګېدلو ارزي
چي زړه ته خیال د سرکو شونډو راوړي
دا شنې پیالې په تشولو ارزي*
چي توروي د کوڅې کاڼي شګي
دا سوي چیغې په وهلو ارزي
چي یې کیسې د مینې تخم کري
هغه وزر په سوځېدلو ارزي
د کوه طور د لاري سترې نکل
جانانه ستا په اورېدلو ارزي
ستا له خوږو خوږو پلمو وګرځم
وعدې دي ټولي په منلو ارزي
ستا په جلوه د سوځېدو په امید
ژوندون په تمه تېرولو ارزي

---

* حمید:
دا زما له غمه شین زړه پکي خیال د یار د شونډو
هسي رنګ زیب و زینت کا لکه می په شنه پیاله کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چــي جنــازه مــي ســتا کــوڅې تــه دروړي
دا انتظـــــار خــــو پـــــه کولــــــو ارزي
مرګــه ايلــه اوس يــې پــه قــدر پــوه ســوم
دا تـــوري شـــپې پـــه ســـپينولو ارزي
چـــي جهـــاني د جانـــان غېـــږ‌ي تـــه وړي
هــــسي خوبونــــه پــــه ليـــــدلو ارزي

واشنګټن ډي سي
۱۱/۱۶/۱۹۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

د جانـــان پـــه تـــور اغيـــار نيـــولى ښـــه يـــم
ستا محفـل کـي لکـه خـار غنـدلى ښـه يـم
مـــا تـــه مـــه ښـــيه نخـــرې د پارو ګـــانو
زه د تـــورو زلفـــو مـــار چيچلـــى ښـــه يـــم
د ســـجدې تمـــه بـــه نـــه کـــوې نمـــروده
زه خليـــل يـــم پـــه انګـــار ســـوځلى ښـــه يـــم
زمـــا يوســـفه ســـر مـــي زر ځلـــه درجـــار ســـه
پـــه بـــازار کـــي خريـــدار منلـــى ښـــه يـــم
کـــاږې مـــه راتـــه رانبـــکاره لږو تتوبـــه
د دې ښـــار ځخـــه هوښـــيار وتلـــى ښـــه يـــم
چـــي اوبـــه مـــي د اغيـــار پـــه کـــوثر نـــه کـــې
پـــه ســـراب کـــي انتظـــار وژلـــى ښـــه يـــم
زه يـــې پيـــژنم رقيـــب دى طبيـــب نـــه دى
مـــرهم ليـــري کـــه پرهـــار خـــوړلى ښـــه يـــم
د بدمـــستو لـــه مـــستيه مـــي زړه شـــين دى
انجمـــن کـــي دي خمـــار وهلـــى ښـــه يـــم
جهـــاني تـــه لاري مـــه ګـــوره د تيـــښتي
زه د حـــق پـــه نـــوم پـــر دار ختلـــى ښـــه يـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویرجینیا ۱۹۹۷/دسامبر ۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

جانانه زړه مي ستا کوڅې ته له در تلو صبر سو
ستا په انګړ کي مي تندی له لګېدو صبر سو
زما لــه زلمیــو ورځــو ولــي کـساتو نه اخلــې
بـوډی زاهد پـه سپینه ږیـره لـه توبـو صبر سو
چـي دي محفـل کـي لـه پانوسـه لمبـې وشـړلې
پتنګ تیـاره کفـن کـوي لـه سوځېدو صبر سو
چـي جنـازه دي د مطـرب لـه کـوره پورتـه کړلـه
شهباز نـری فریـاد کـوي لـه شرنګېدو صبر سو
اوس مـي د ښـار پـه دروازو کـي کـاڼي نـه پېژنـي
عقلـه راځـه چـي لېونتـوب لـه زولنـو صبر سو
نور به مي سیوری د رقیب توري ته نه وي ولاړ
کیسه مي هېره که زما نکل دي له شپو صبر سو
زه دي لـــه ښـــاره جهـــاني رنګـــه راووتلـــم
ستا پـه مالـت کـي مـي آواز لـه خپرېدو صبر سو

ویرجینیا ۵/۱۶/۱۹۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

چي ګوندی، ته مي راغلی د غرور دی
دا فلک لکه چي زما سره تربور دی
چي سجده يې د غرور له زوره تښتي
نن له هسکه ګدايي کوي مجبور دی
څه لمبې لمبې ناري وهي آسمانه
دا وطن چي پيدا سوی دی تنور دی
دلته هره زولانه کي مجنون اوسي
هر آواز چي در رسيږي د منصور دی
يا د دار له سره چيغي پورته کيږي
يا موسى پر کنګره د کوه طور دی
خوني نه يم پښه نيولی چي را نه سي
دا مي لاس د خپل قاتل په وينو سور دی
ستا د توري تر سايې لاندي زمری سو
رقيب کله دونه نر دونه باتور دی
د رقيب کوثر مي ليري که له مخي
د رو يبار په خوله انګار راته منظور دی
عزرا ييله لاس دي جار سم مهلت راکه
د رقيب زکندن وينمه ضرور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـــه تـــسل مـــي عـــلاج نـــه کيـــږي يـــارانو
چـــي طبيـــب مـــي لـــه کتـــو څخـــه معـــذور دی
جهـــاني لـــه يـــوه غـــشي فريـــاد نـــه کـــړي
دلتـــه هـــر زخـــم چـــي اړوي ناســـور دی

واشنګټن ۹/۲/۱۹۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

يوه لحظه دي مخ ته ودرېدم خداى په امان
پردېسو هيلو ته مي وژړېدم خداى په امان
زه لكه اوښكه بيا مي تمه د راتللو نسته
پر ښايسته باڼو دي ورغړېدم خداى په امان
كه مي غرور كه مي ځواني وه نذرانه مي كړله
پښو ته دي ولوېدلم ورژېدم خداى په امان
ستا د شغلې بلاګردان سوم د پتنګ په رسم
ترسر دي وګرځېدم وتپېدم خداى په امان
ستا د نامه مينه مي وكړل د مرګ تر پولو
د دار په پړي درته ونښتم خداى په امان
پر سر مي بلې كړې لمبې چې لاري وركي نه كم
چېرته پردي ولات كي وسوځېدم خداى په امان
زه د ګلونو په بستر كي نصيب نه منلم
لكه شبنم درڅخه وغورځېدم خداى په امان
پوه سوم چي نوري مي د پلونو نخښې پاته نه دي
زه لكه سيوري دلته وهستېدم خداى په امان
بيا به مي نوم د چا ماشوم خوبونه نه زنګوي
لكه كيسه له ياده ووتلم خداى په امان
نور جهاني ستا د محفل د يادولو نه دى

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوې برېښنا په شاني وځلېدم خدای په امان

ویرجینیا ۷/۲/۱۹۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

خالي دي ميکدې نه سي چې زه بيرته راځم
خماري دي پيالې نه سي چې زه بيرته راځم
يوسف مي د خوبونو د تعبير پر لارو ورک دی
رڼا ورځې دي شپې نه سي چې زه بيرته راځم
لښکر د رقيبانو مي په سترګو دی ليدلی
کوڅې دي هديرې نه سي چې زه بيرته راځم
قاصد راته ويله چې زما مينه دي پردی کړه
پښېماني دي وعدې نه سي چې زه بيرته راځم
وعده مي په سکروټو کې منزل ته رسېده وه
دا سرې لمبې سړې نه سي چې زه بيرته راځم
قسمت مي وزرونه ستا محفل کې دي سوځلي
دا شمعې دي تيارې نه سي چې زه بيرته راځم
جنون مي ستا په کلي کې باران د کاڼو غواړي
خالي درنه کوڅې نه سي چې زه بيرته راځم
جانانه ستا په سترګو لنډوم دا توري لاري
تياره درنه ډېوې نه سي چې زه بيرته راځم
پر سر درسره ځمه چې تنها مي خوشي نه کې
رواني قافلې نه سي چې زه بيرته راځم
ازل او جهاني دی لېونتوب سره منلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېغمــه زولنــې نــه ســي چــې زه بيرتــه راځــم
واشنګټن ۶/۲۸/۱۹۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

خمــار مــي نــه مــا تيږي شــرا بو نه بېګانــه دي
ســا قي راتــه اشــنا دی خــو جا مونــه بېګانــه دي
پــښېمانه درتــه نــه يم بد ګو مانــه راتــه نــه سي
جنو نــه تــه مــي خپــل يــي ځنځيرو نــه بېګانــه دي
ســجدې تــه يــي د يــار کــو څې تــه نــه يمــه بللــی
پـــردی قاصــد راغلـــی پيغامو نـــه بېګانـــه دي
پتنګ پــه دې محفــل کي وزر نــه سي خپــرولای
لمبــې پکــښې ســرېږي پانو ســو نه بېګانــه دي
دې ښار کي ربابو نه د سنګسار پــه غېږ کي غوا ړه
نغمــې ګــوتي کــي ژاړي شــهبازو نه بېګانــه دي
لـــښکر د غمـــازانو دي لـــه کومـــه رابللـــی
جانانــه ستا پــه کلي کــي مــي پلو نــه بېګانــه دي
چــي زمــا د لبونــو چيغــو جــواب ورســره نــسته
يــا زه يــم بــدل ســوی يــا دا غرونــه بېګانــه دي
غرور مي له ناکامه تش آسمان ته کچکول نيسي
ازل خـــو دا ســـي نـــه و قـــسمتونه بېګانـــه دي
ستا دم د مــسيحا دی زه منکــر ور بانــدي نــه يــم
طبيبــه لاس دي جــار ســم پرهارونــه بېګانــه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سـجدې د جهـاني پـر تنـدي مـه غـوا ړه زاهـده
پـه دې سر کـښـه ښـار کـي محرا بو نـه بيګانـه دي

ويرجينيا ۱۹۹۷/٦/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

خوب مې ليدلی دی سبا رقيبان کډه کوي
زما د جانان د کوڅې ټول غمازان کډه کوي
سترګو ته راغله جل وهلي مېلمانه خيالونه
د پښتنو او ښکي د زوره ګرېوان کډه کوي
يا دي قسمته بدلوم يا به تندی ماتوم
چېرته چي ځم له هغه ښاره خوبان کډه کوي
ګوره چي عقل د جنون جامې په غاړه کړلې
د لېونيو له مستيه رندان کډه کوي
زه پوهېدم چي اسوېلي مې بې اثره نه دي
هغه دی ورو ورو له ساحله توپان کډه کوي
چا خو به چېري د سنګسار خبري کړي نه وي
چي د مکې له ښاره ځغلي شيطان کډه کوي
يارانو راسئ تماشې د رياکارو کړئ
زموږ له کوڅې نه خرقه پوش زاهدان کډه کوي
قسمته چېري د سکروټو ځنځير و شرنګېدئ
چي مې د حق له چيغو تښتي آسمان کډه کوي
جهاني زېری مې دربانديي رويبار خط راوړی
ستا له سوځلي ګلستانه زاغان کډه کوي

ويرجينيا ۵/۲۴/۱۹۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

دارو مــــي د رنځونـــو مـــسيحا راتـــه راوړي
خبــر چــي مــي د کلــي د اشــنا راتــه راوړي
ازل مـي ستا پـه لاره کي غـرور قربـاني کـړی
سـجدې بـه مـي تنـدي تـه خامخـا راتـه راوړي
لـه سترګو د قاصـد مـي معلـوميږي تعبيرونـه
ځـولۍ مـي د خوبونـو نيمـه خـوا راتـه راوړي
منصوره ککرۍ مـي د قـسمت پـر لاري رغـړي
د حـق چيغــي لــه داره هـر سبا راتــه راوړي
آسمان سرې ته ګوري بيا جامې کي ورتـه جوړي
مجنــون يمــه ملګـرو چــي لــيلا راتــه راوړي
يـو نـور مـي پـه تيـاره کي دی ليدلی نـه پـوهيږم
کلـيم لـه کـوه طـوره زيـری ستا راتـه راوړي
يوسف رنګـه بـه عمـر جهـاني زنـدان تـه يوسـم
دا تــور مـي پـه نـصيب دی زليخـا راتـه راوړي

ويرجينيا ۵/۱۷/۱۹۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

د رقیب سیوری د جانان په آشیانه کې وینم
مرګه تصویر دې د خپل ژوند په آیینه کې وینم
د جنتونو له تصویره دي اورونه څاڅي
د لمبې عکس په نصیب د پروانه کې وینم
ماشوم زړګی مې د دروغو په وعدو غولوې
له هر پیمان سره ماران په خزانه کې وینم
تا له غمازه سره زما پر لېونتوب خندله
زه افلاطون د خپل جنون په زولانه کې وینم
دُرې دې ولې د پرهېز په نامه سترې کړلې
د قدم نخښې دې په لار د میخانه کې وینم
د حسن ربه د هنر ګوتې یې غوڅې کړلې
د انځورګر سترګې ړندې په جېلخانه کې وینم
خدایه تېولی د بلبلانو چېرې وکوچېدې
د زاغ منګولې د غوټۍ په ګرېوانه کې وینم
هغه دې بیا یې له کوڅو څخه رندان وایستل
پیر مغان سر پر زنګون په خُمخانه کې وینم
د جهانې پردېسو هیلو قصاصېږئ ولې
لستوڼی خپل دی تېغ په لاس د بېګانه کې وینم

ویرجینیا ۱۹۹۷/ډسامبر ۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

٭

زما د سوي کور نکلونه چي راځي پرېږده چي راسي
د قاصد په خوله اورونه چي راځي پرېږده چي راسي
بتخانې به نسکورېږي خليل نه سي ستنېدلای
د نمرود ياغي اورونه چي راځي پرېږده چي راسي
زه او ته شينکی آسمانه ازله پر يو ازمېيلي
ستا د لوري توپانونه چي راځي پرېږده چي راسي
له فريادِه بېګانه دي دا سينې دا پرهارونه
رقيبان کاري زخمونه چي راځي پرېږده چي راسي
دې وطن کي له نسيمه د ګلونو بستر هېر دی
د خزان وحشي بادونه چي راځي پرېږده چي راسي
له توپانه دي لړزېږي په حرم کي محلونه
کنډوالو ته سېلاوونه چي راځي پرېږده چي راسي
له پېريو انتظار دي هډيرې او لحدونه
غمازان او تورپوځونه چي راځي پرېږده چي راسي
نن به بيا امتحان اخلي زمانه په زړه سنګينه
د سکروټو بارانونه چي راځي پرېږده چي راسي
دا وطن د منصور نه دی په رضا چي دار ته خيژي
جلادان تېره تېغونه چي راځي پرېږده چي راسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ځُـتن کـي بـه يـارانو قـافلې تللـې د مـشکو
د بـاروتو کاروانونـه چـي راځـي پرېـږده چـي راسـي
جهــاني چــي ترانــو دې مــستوله پايکوبونــه
نـن د وينـو غزلونـه چـي راځـي پرېـږده چـي راسـي

ويرجينيا ۶/۹/۱۹۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

زه د لبونتـــوب او زولنـــو د ښــــاره و وتـــم
نــه یمــه منــصور د غرغـــرو د ښـــاره و وتـــم
څوک مي په جونګړه کي بې سوره نغمه نه اوري
مــا تــه ســوه شــپېلۍ د ترانــو د ښــاره و وتــم
نــن بــه مــي رقیب د تومتونــو ځولۍ چېري وړي
زه د ګودرونـــو او بنګــــړو د ښـــاره و وتـــم
مــا تــه د ســفر د سـختو لارو توښــې مــه ګــوره
او ښــکه غونــدي ولاړم د لېمــو د ښــاره و وتــم
زمــا د پلونــو نـښي د اغــزو لــه څنګــه مــه څــاره
بــوی رنګــه پــردی سوم د غونچــو د ښــاره و وتــم
نــور مــي د خيــالونو د تــالونو غېــږ تــه مــه بولــه
نکــل ومــه هېــر ســومه د شــپو د ښــاره و وتــم
ځه د توپــانونو بېړۍ ځه خدای دي ملګری سه
پــرې مــي ړده ســاحل تــه د څپــو د ښــاره و وتــم
برخه د جنون مي د قسمت په کور کي خواره وه
مینـــه د فرهـــاد ومـــه د غـــرو د ښـــاره و وتـــم
نـــوري جهـــاني تـــه د پـــانوس خبـــري مـــه کـــوه
نـــه ومـــه پـــتنګ چـــي د لمبـــو د ښـــاره و وتـــم

ویرجینیا ۱۹۹۸/۲۴/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

ساقي تشو جامونو ته راځې که نه راځې
خمارو قسمتونو ته راځې که نه راځې
شيرينه بهانه ده وعدې تهولي ازلي دي
فرهاده کلنګونو ته راځې که نه راځې
اغزي دي د تنهاکو رنګولو ته راوزي
مجنونه دې د ښتونو ته راځې که نه راځې
پرون دي پر اوږو باندي خرقه نه ټينګېدله
زاهده نن ځمونو ته راځې که نه راځې
شګون د بېلتانه دی تياري وينمه په خوب کي
يوسفه تعبيرونو ته راځې که نه راځې
پښتو مي له کچکوله سره نه سي ګرځېدلای
طبيبه پرهارونو ته راځې که نه راځې
منمه چي ځواني مي په خيرات منظوره نه سوه
رويباره جوابونو ته راځې که نه راځې
د عقل زنارونه مي تسبيح کړې د شيخانو
جنونه ځنځيرونو ته راځې که نه راځې
يوازي جهاني د حق په نوم غرغره کيږي
منصوره سنګسارونو ته راځې که نه راځې

واشنګټن ۱۹۹۵/ اپريل

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

شمع مړه سوه شپه تیاره خونه سوه توره
ولي نه وزې پتنګه له دې کوره
قلندر غوندي مې تور په ژړا سپين کړل
د ميرا احوال رانه غی له لاهوره
ما په بيه د جنون دی رانيولی
ته مې څنګه بېروې له هغه توره
تر چارچوبه مې سجدې ورپسې وروړې
لا هنوز وتلی نه يم له پېغوره
له محفله مې ګيله نسته يارانو
له آسمانه مې کاسه راغې نسکوره
سپيني شپې مې د مزار له ډېوې ښکاري
مرګه ولې نه شرمېږې زما له ګوره
لا زګېروی د جهاني اورېدل کيږي
د خوږمنو مينه ونه ګڼې توره

ويرجينيا ۱۹۹۸/۲۴/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

✡

علاج د تورو شپو ته مي سبا کله راځي
زخمونه مي ناسور سول مسيحا کله راځي
پر لار د انتظار مي دي لېمه درته فرش کړي
روېياره جوابونو له ره ييا کله راځي
په تمه د ديدن مي سپيني ورځي کړلې توري
ړندې مي سولې سترګي په ژړا کله راځي
په نوم دي د تورو مخو غمازانو مرکې دي
جرګو ته د خيالونو مي ريښتيا کله راځي
د وصل په وعده دي او بوم تېري کلونه
د عمر مسافره پر دې خوا کله راځي
د توري تيارې ستوني ته وروستی لمبې څڅيږي
د ميني امتحان له ره بورا کله راځي
د حق چيغي دي ولي دي په ستوني کي نيولي
منصوره غرغرې سوې نيمه خوا کله راځي
غرور د جهاني مي نذرانه دی درته ايښی
نصيبه پر دې لاره به پخلا کله راځي

واشنګټن ډي سي ۷/۲۰/۱۹۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

ماتم دی په دې ښار کې جنازې دې چې راځي
خالقه ورځې څه سوې توري شپې دې چې راځي
دا کاڼي د غضب یوازې زمونږ پر کلي اوري
انصاف څه سو آسمانه زلزلې دې چې راځي
د اور د پاسه اور دی سره ورک نه سو جانانه
دا لومې د شیطان دي وسوسې دې چې راځي
پر څه دې سترګې سرې دې ساحل نه دی لا راغلی
لږ صبر سه توپانه لا څپې دې چې راځي
بلبلو باندې اوري آفتونه لکه غشي
پاتا د ترانو ده غلبلې دې چې راځي
سفر دی بدل سوی منزلونه نا اشنا دي
پر تورو رباتونو قافلې دې چې راځي
محفل به رنګین نه کې دا سوځلي وزرونه
د شمعې جنازې ته پروانې دې چې راځي
د عقل بندیوانو د حساب کړی ماتېږي
جنون مو مبارک سه زولنې دې چې راځي
د حق د لیونیو ننداري ته ځي وګړي
منصور میدان ته بیایي غرغرې دې چې راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زلمـي زلمـي كلونـه جهـاني قبـر تـه تـوى سـول
د سـاندو لــه كوګلــه زمزمــې دي چــي راځــي

۷/۵/۱۹۹۷ واشنګټن ډي سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي پانوس له سوځېدو سره اشنا دی
دا پتنګ د دې لمبو سره اشنا دی
زما د خیال وزر ته مه ایږده دامونه
دا یوسف له زندانو سره اشنا دی
چېرته بل وطن کې وکړه سېلونه
زما کورګی له نړېدو سره اشنا دی
سل فرهاده یې له هر ګړنګه زیږي
دغه غر له کلنګو سره اشنا دی
له جرسه یې راځي بږغ د پېرېو
دا ربات له قافلو سره اشنا دی
زما د صبر لښکر ولي جنګ ته بولې
دا پلټن له ماتېدو سره اشنا دی
له شهبازه یې لا ولي ساندي غواړې
رباب تش له شرنګېدو سره اشنا دی
پکښې نه سړوي رنګ شهیدي وینې
دا انګړ له جنازو سره اشنا دی
د جلاد رحم ته مه اړوه سترګي
هغه تېغ له دې کتو سره اشنا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آرام ساحل ته لار د خضر نسته
سمندر له توپانو سره اشنا دی
جادوګر آسمانه لومي دي کړې نوي
جهاني دي له دانو سره اشنا دی

واشنګټن ډي سي ۷/۲۷/۱۹۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

✵

ساقي پياله مي ډکوه که نه وي ځم درځخه
خمار مي مه راويښوه که نه وي ځم درځخه
زه سيلاني د جمال نه يم لمبې مه سپموه
وزر مې ژر تکوروه که نه وي ځم درځخه
ما ته ازل ستا په کوځو کي لېونتوب ليکلی
زولنې مه ايساروه که نه وي ځم درځخه
زخمونه ستا د نامه ذکر ته پاللي ښه دي
طبيبان مه راخبروه که نه وي ځم درځخه
زه ستا د مينې په تور کله چا نيولی نه وم
رقيبان مه پلمه کوه که نه وي ځم درځخه
پښتنه مينه مي له سواله سره نه جوړېږي
غرور مي مه را ماتوه که نه وي ځم درځخه
د ژوند سراب تېرو مزلونو ته راوړی يمه
مرګيه ځان تياروه که نه وي ځم درځخه
زه دي د وصل په خوبونو زنګېدلی ښه يم
دا شپه مي مه سهاروه که نه وي ځم درځخه
نن جهاني د رقيبانو په سيالي راغلی
دا ځل مي مه آزاروه که نه وي ځم درځخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویرجینیا ۱۲/۱۲/۱۹۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د وطن ترانه

ګران افغانستانه تا به ييرته موږ ودان کو
لوړ به دي نښان کو
کور به دي د سولي درنه ورک به دښمنان کو
لوړ به دي نښان کو
زما ګرانه وطنه ته خو کورد عظمتونو يې
مېنه د مېړونو يې
ځاله د اکبر او مسجدي د ميدانونو يې
کور د توپانونو يې
بيا به دي وطنه افسانه د دې جهان کو
لوړ به دي نښان کو
ستا هغه بچي دي چي نيولي يې ملکونه دي
وړي يې جنګونه دي
نوم د احمد شاه دي لړزولي هيوادونه دي
پاته يې نکلونه دي
نوی به تاريخ د پاني پت او اصفهان کو
لوړ به دي نښان کو
ستا د ګل سرخ لمن به ډکه له ګلونو وي
جوش به دي سيندونه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا به دي په غــاړو کي شرنګی د امېلونو وي
بړغ به د سازونو وي
بیا به دي ړانده په غبرګو سترګو غلیمان کو
لوړ به دي نښان کو
ستا پر پاکه خــاوره چي راځــي دلته سرونه خـوري
زړه باندي زخمونه خوري
دلته د بازانــو په ځـالۍ کي تیندکونه خوري
ویني خوري دردونه خوري
ســتا د سر خیرات به ډلي ډلي رقــیبان کــو
لوړ به دي نښان کو
ستا پر پاکه خـاوره چي ګولۍ دي اورولي چا
هغه دی د ښمن زما
ســتا په جــنتونو کي مرګونه چي کــرلي چا
خپل به نه سي زما او ستا
ځو چي د ســیالانو په ټولۍ کي دي روان کــو
لوړ به دي نښان کو
ګران افغانستانه نور به نه یې د خــوارانو کور
وران د غریبانو کور
نور به دي څوک نه بولي د کونډو یتیمانو کور
رنګ د شهیدانو کور
جوړ به دي وطنه د عمرو څیري ګــرېوان کو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوڕ به دي نښان کو
ييا به له آمو تر ارغسـانه شنه دښـــتونه وي
مست به يې ګلونه وي
يو به له پنجــشېره تر هــراته اولــسونه وي
يو به يې پوځونه وي
تاج به د لعلونو درته جـــوړ د بدخشان کـــو
لوڕ به دي نښان کو

واشنګټن ډي سي ۱۱/۱۷/۱۹۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نغمې قبر

ما به ګرېوان په سړاوه او ښـــکو مي اور واخیست
لمبو يې زور واخیست
مـــا هـغه اور نه و وژلی چې يې نور واخیست
لمبو يې زور واخیست
رويباره پوه سوم چې مي ښار د هستـېدلو نه دی
زما د ليدلو نه دی
د ژوند خـيرات مي نور د چا د قبلېدلو نه دی
د اخيستلو نه دی
ما لېونتوب ته په پردې کوڅه کي کور واخـيست
لمبو يې زور واخیست
چا ويل اوس هـلته ياران پر شـمع نه ټولېږي
پروانې نه سوځيږي
اوس د سـاقي له پيالو رنګ د مســتۍ نه پاڅيږي
ځواني يې نه نڅيږي
د تورو شـپو اجاره دار له ورځو شور واخیست
لمبو يې زور واخیست
چا ويل نور د مـطرب ګـوتو کي شهباز نسته
ژبه د ساز نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرنګ د نغمې شــور د بلبل د راز و نیاز نسته
د چا آواز نسته
وایي برات له جــنازې څخه پېغور واخیست
لمبو یې زور واخیست
نور پر سورکیو شــونډو ځواني نغمې نه خوځېږي
رنګونه نه بهېږي
له خــزانو نو تښتېدلي مــــرغۍ نه ستنېږي
ګلونه نه غوړېږي
وایي ملیاریې له کــوڅې څخه نسکور واخیست
لمبو یې زور واخیست
نور د آدم نغــمو ته شپې د درخو نه سپینېږي
نکلونه نه ویښېږي
د چــندنې رباب له شوقه پردې نه څیرېږي
افسانې نه جوړېږي
د بزم شمــعې له تیارې کفن په پور واخیست
لمبو یې زور واخیست
نور مې د هــیلو په کوګل کې شمعې نه بلېږي
خوبونه نه تخنېږي
د خــیال وزري د جانان غېږي ته نه غوړېږي
یادونه نه مسېږي
راته تقدیر کــور د توپان پر اوږو سپور واخیست

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمبو یې زور واخیست
نه پر ګودر باندي پېغلوټې نه منګي دي کتار
نه څوک د چا انتظار
نه جـهاني ستا د سـندرو هلته سته خریدار
نه دي آواز دی په کار
ما ځوانیـمرګو ارمانـونو لره ګـور واخیست
لمبو یې زور واخیست

ویرجینیا ۲۰/۵/۱۹۹۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شينډنډ فتح

زېړی راغی د اغيارو لښکر مات سو
پر چمن مې د زاغانو ګذر مات سو
نور يې زما پر ګلزارونو سيوری نسته
د ابليس د وزرونو شهپر مات سو
په شنه ډنډ کي سوې د زهرو اوبه وچي
د غم از لاس کي لوېدلی کوثر مات سو
خوله دي جار سمه رويباره راته وايه
د رقيب په لړمانه کي خنجر مات سو
د خيالونو پر مزار مي جنډې ناڅي
د غليم په جنازو مي محشر مات سو
نن به زما له مستۍ ځان ساتي آسمانه
د جانان پر مخ د بدو نظر مات سو
نور د چا له سترګو نه ډارم فلکه
په لېمو کي يې د قهر نشتر مات سو
ساقي نن مي ميخانه په اجاره ده
د واعظ د تودو چيغو اثر مات سو
چي په شپو پسي يې شپې راته کرلې
د زمان د تورتمونو منتر مات سو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس نوبـــــت د جهـــــاني د پـــــايكوبۍ دی
د رقيـــب په نـــوم ليكلـــی ســـاغر مـــات ســـو

۱۹۹۵/۳/۹ واشنګټن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مسافر خوب

برایـي مـي خـوب لیـدی چـي مـخ پـر ښـار ځـم
لــه پـــردی، مېنــي پـــر لـــور د کنـــدهار ځــم
پـــه تنـــدي کـــي مـــي ســجدې ورتـــه ســاتلي
پـــه زیـــارت مـــي د مـــسجد د مـــور او پـــلار ځـم
د زاغـــــانو جنـــــازې لـــــــه باغــــــه وزي
شـين طـوطي رنګـه چمـن تـه پـه چیغـار ځـم
پروانـــه یـــم پـــر زخمـــي ګلونـــو ګـــرځم
پـــه لېمـــو د رقیبـــانو لکـــه خـــار ځـــم
د ازل وعـــده مـــي وړې د نـــصیب کـــور تـــه
پـــه اغزیـــو کـــي ورلغـــړم پـــر انګـــار ځـــم
د رنځـــــورو کنـــــډوالو اســـــوېلي اورم
طبیـــب نـــه یـــم تـــش کتـــو تـــه د پرهـــار ځـــم
لـــه زرینـــو پنجـــرو مـــي وزر خـــلاص کـــړ
ســـو ځېدلي ګلـــستان تـــه پـــه اختیـــار ځـــم
لا نـــسکوري بنګلـــې پـــه ســـاندو ژاړي
لا تپـــوس تـــه د زخمونـــو د بیمـــار ځـــم
لا شـــهیدي وینـــي ثـــاڅي لـــه بګړیـــو
لا د مـــرګ د قـــافلو ســـره پـــر لار ځـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا یتیمـــو ګرېوانـــو تـــه اوښـــکي ګـــوري
لا زلمیـــو هـــدیرو تـــه پـــه کوکـــار ځـــم
لا زګېـــــروی دی د قبرونـــــو د جنـــــډیو
لا د اوښـــکو د جرګـــو ســـره رویبـــار ځـــم
نـــن لـــه مځکـــي او آســـمانه ګیلـــه مـــن یـــم
چـــي د مـــستو ځوانیمرګـــو تـــر مـــزار ځـــم
نـــور تـــر مرګـــه مـــروریمـــه آســـمانه
چـــي لـــه جـــوره دي پاتـــا تـــه د دلـــدار ځـــم
جهـــاني لېـــونی مـــه بـــولئ یـــارانو
چـــي د یـــار کـــوځې تـــه ځمـــه نـــو هوښـــیار ځـــم

۴/۱۶/۱۹۹۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

# محشر

شیخه مه راځه محشر دی مځکه سوځي آسمان سوځي
خُم له اوره سره چوي پیاله سوځي مستان سوځي
د سکروټو مجمرونه د سینو ګرداب ته لوېږي
په دوږخ کي پایکوبي ده څپه سوځي توپان سوځي
د سوما له خُمه اخلي نوش پر نوش وروستي جامونه
د زردشت لحد اور واخیست خرقه پوش زاهدان سوځي
مهارت د عمر غواړي په محفل چي ورګډیږي
د پخو رندانو ځای دی سست مذهب او ایمان سوځي
دا مسلک د خرابات دی په هر خُم کي خرابې دي
حریفان پکښي غرقیږي ساقي سوځي رندان سوځي
بد مستان دي هیاهوی دی توبې سر پر سر ماتیږي
چیغي ورغلې محراب ته توبه سوځي شېخان سوځي
د مطرب ګوتي نښیږي له شهبازه لمبې څاڅي
څوک تازه محفل ته راغی چي بورا ورته ځان سوځي
عقل لاره ورکه کړې د جنون غېږي ته لوېږي
د مجنون حکم چلیږي دانا سوځي نادان سوځي
جهاني لاري یې څاره هسي نه چي سره ورک سئ
زمانه په زړه کړه ده قول سوځي پیمان سوځي

کابل ګذرګاه مارچ ۱۹۷۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کيسې او نکلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملک بلو خان

دې کيسې ته مې غوږ نيسئ هوښيارانو
له ځوانۍ مې اورېدلې له پوهانو
چې بدرۍ د بلو لور وه په کلونو
مسافره له وطنه له د ښتونو
نه خپلوان نه يې همزولې وه ليدلې
نه سندرې يې د نجونو اورېدلې
نه يې ورونه نه يې خويندې ورغلې
نه په تول کې د خپلوانو يې خندلې
نه خبره په واده د بسوګۍ وه
نه کيسه چا ورته کړې د ابۍ وه
ماشومان چې دې د کلي وه ليدلي
زلمي سوي وه چنار غوندې ختلي

يو ورځ بلو روانه کړله کورته
خپل تاتوبي د ابا ، غېږې د مورته
بدرۍ وکړه له بلو څخه پوښتنه
ابا نه يمه خبره له وطنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نــه خبــره لــه احوالــه یــم د نجونــو
نــه کیــسې دي چــا راوړي د ودونــو
نــه خبــره یــم د چــا لــه رنځورانــو
نــه احــوال راتــه معلــوم د ماشــومانو
سلامت مي تهوله غوښتي دي له خدایه
په وطن کي چي څه پېښ دي راته وایه
بلــو دواړه برېتــه تــاو کــړل ویــل لــوري
تــه اوس لــور د بلوخــان یــې بختــوري
ستا بابا دی اوس ملک د غره د سمي
چاتــه مــه کــوه خبــري کمــي کمــي
که څوک مري او که زندان ته روانېږي
زما په خوله تهولي دعوې فیصله کیږي
پــه وړه خبــره ســوځمه کورونــه
او چي زړه مي سي بخښم لوی ګناهونه
لاس تړلــي خلــک بیا یمــه ســرکارتــه
اشــاره مــي خېــژوي وګــړي دارتــه

هم سید یمه هم خان یم هم هوښیار یم
تــه وا تهول مي غلامان زه یې بادار یم
پــرون خلــک شــرمېدل زمــا پــه پوښــتنو
نــن روپــی، دي را روانــي پــه لمنــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بـــدرۍ شــــنه د ژړا ولاړه ویـــل پـــلاره
هـدیرې تـه مـي پـر څـه بیـایې لـه ښـاره
مـا وې زه بـه مـي دیـدن کـوم د کلـي
مچـوم بـه مـي خپلـوان او نـازولي
خپـل کالـه تـه بـه ورځـم پـس لـه کلونـو
ننـداري تـه بـه ورځـم د ګودرونـو
پـر بـام بوتـو بـه مـستي کـوي پېغلانـي
تـر سـالو لانـدي بـه پټـي وي ناویـاني
بیرسـري ماشـومان بـه وي کوڅـو کـي
شـرمیندوکي جینکـۍ پـه دروازو کـي
ږغ بـــه اورمـــه د وریـــو د ســـپرلیانو
لـــه ګـــورم ســـره نـــارې د ګوروانـــانو
لـــه دښـــتونو بـــه راځـــي ږغ د لېوانـــو
لـــه کیـــږدۍ ښخـــه ســـندري د کوچیـــانو
د آدم او د درخـــو نـــارې بـــه کیـــږي
ځوان مین به او ښکي خوري ورته زنګیږي

خـــو چـــي تـــا تـــه ملکـــي ده رســـېدلې
پـــر وطـــن مـــي د بـــلا ســـاه ده ختلـــې
زموږ په کلي کي څوک نسته تولـه مړه دي
کـه واړه دي کـه ځوانـان دي کـه زاړه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

څــو بــه ژاړمــــه د خپــــل اولــــس وګــــړي
خــدای خــو مــه وای را لیــدلي دونــه مــړي
تـــه ورځـــه د وطـــن کـــانو هـــدیرو تـــه
زه بــه پاتــه یــم پردېــسو ورځــو شــپو تــه

ویرجینیا ۱۹۹۸/۱۹/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوه ماران

هوښیارانو دي راوړي دا نکلونه
پرې اوښتي دي وختونه او قرنونه
او سېدله دوه ماران یوه ځنګله کي
خدای ورکړي عجایب وه صورتونه
د یوه یې سل لکۍ وې یو یې سر و
د ها بل یوه لکۍ وه سل سرونه
د یو سري مار خوراک یوه مړۍ وه
له ښکارونو به یې اخیستل خوندونه
یو یې خوب یو یې خوراک یو یې آرام و
په نصیب یې وې ښادۍ او نعمتونه
سرې شپې یې تېرولې په خپل غار کي
تر غوږ لمر لاندي یې تل کول مزلونه

ځناوري له لکیو بېرېدله
له هیبته به یې تښتېدل پوځونه
د سل سري اژدها په کور کي غم و
خدای ورکړي وه سل سره سل خیالونه
ځوک به ویښ ځوک به ییده ځوک نا آرام و

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا پـه نیمـه شپه کـي غو ښـتله ښـکارونه
چي به ښکار د کوم یو سر خولې ته نژدې سو
نـورو ټولـو بـه وهـل ورتـه ټوپونـه
کلـه کلـه بـه ښـکار پاتـه تـر مـابین سـو
دوی بـه یـو پـر بـل کولـه ګوزارونـه
پـه یـو تـن کـي سل سرونه سل غلیمـه
یـو پـه بـل یـې ښـخول تېـره غاښـونه
نـه سـل سـری اژدهـا پـه ګېډه مـوږ سـو
نـه یـې ورک سول په سرونو کـي زخمونـه
نـه یـې ولیـده کـراره ورځ پـه ژونـد کـي
نـه یـې وکـړل د آرامـي شـپي خوبونـه
یوه ورځ د لـوی ځنګله په یوه کونج کـي
راښکاره سوې سرې لمبې یاغي اورونه
وچ لانـده بـوټي یـې ټولـه سـوځوله
لـه لمبـو یـې تـر آسمانه تلـل دودونـه

هـري خـوا تـه یـې سـکروټي غورځـولي
ورپـسې وه د خـزان وحـشي بادونـه
ځنـاورو هـري خـوا تـه کړلې منـډي
خلاصـول یـې خپـل ځانونـه اولادونـه
سـل لکـې پـه ځـان پـسې کړلې یـو سـري

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یوه تاخته یې پی کړله مزلونه
د سل سري اژدها پر کور ناورین سو
هر یو سر یې هره خوا وهل زورونه
نه یوه له بله ځان سو خلاصولای
نه یوې خوا ته رهي سول ټول سرونه
په ځنګله کي سو دا یو سل سری پاته
تور نصیب یې کړل په برخه دوږخونه

۳/۲/۱۹۹۴ ویرجینیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دارالمجانین

مــا یـــو نکــل اوریـــدلی دی یـــا رانو
پـه مجلس کـي د سپین ږیرو هوښیا رانو
چـي یـو وخـت یـوه وطـن کـي فالبینـانو
جـــا دوګرو د عمرونـــو کوډګرانـــو

د وطـــن خلکـــو تـــه و ویـــل خبـــر سـئ
زمـوږ وینا تـه ټـول غوږونـه سرا سر سئ
هـسي نـه چـي بیـا سبا بـه پـښیماني وي
د مرګونـــو او د ســـاندو ارزانـــي وي

چپاوونـــه د غلـــیم ناګهـــاني وي
شـنه کـښتونه سره تبـې وي ویرانـي وي
د قسمت ستر ګي نن زموږ پر لوري سرې دي
د آسـمان پـه زړه کـي بیـا ویـښي فتنـې دي

ژر بـــه وســـي پـــر دې مځکـــه بارانونـــه
لـــوړو څوکـــو نـــه بـــه راســـي سېلاوونه
د آفـــت اوبـــه بـــه ونیـــسي ښـــارونه
که څاهـان دي کـه ویالې دي کـه سیندونه
چـي هـر څـوک د دې اوبـو نـه سېرابیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه ورځ به يې هوښ ورنه کوچېږي
نه په دوست نه په دښمن به څوک پوهېږي
نه ترخه نه به خواږه پر چا بېلېږي
د ورور مړي ته به وېره خوله خندېږي
د عمرونو لېوني به په شرمېږي
د هغو ورځو امان غواړئ د خدايه
موږ خبر کړاست نور نو ستاسي خپله رايه
چا خندل څوک يې خبرو ته حيران سول
فالبينان د ښاره ووتل روان سول
ژر آګاه کړ وزيرانو او قاضيانو
له دې رازه خپل پاچا د پاچاهانو
پاچا وکيندل په قصر کي حوضونه
د لاجوردو يې ورجوړ کړله فرشونه
ذخيرې يې د اوبو کړلې تياري
ورته نه وې د باران د څاڅکو لاري

ويل پرېږدئ که باران د پاسه راسي
او کيسې د فالبينانو هم ريشتيا سي
په امان به وزيران پوځ او پاچا سي
لېوني به دا نور خلک شا و خوا سي
يوه ورځ پر آسمان راغلې توري لړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړانګې پټې سوې د لمر زرینې ژړې
تور پلو پر سپینه ورځ باندې راخپور سو
د تیارو په غېږ کې ډوب کلی او کور سو
لــه آســمانه اورېدلــه بارانونــه
پـه شېلو کـې سـول روان یـاغي سېلونه
د آفـت لـه اوبـو ډک سـول ټـول کونجونـه
کـه څاهـان وه کـه ویـالې وې کـه رودونـه
پـه سبا چې لمر راپورتـه پـر آسمان سو
بیرتـه څیري د تـاریکي شپې ګرېوان سو
بیـا نـسیم کړلـې خپـرې پـستې وزرې
بیـا بـورا سینې تـه سیخ کړلې نیـشترې
بیـا آسمان کړلې را تـوی زرینې وړانګې
د بلبـل نغمـو تـه مستې سوې ګلڅـانګې
بیـــا ســـبا د پـــرون وکینـــدل قبرونـــه
بیـا د ژونـد سـره ملګـرې سـول ګامونـه

نـــابېره ســـوه غوغـــا د انـــسانانو
کلــی کــور او ښـار ســو ډک د لېونیـانو
څوک سپاره دي یو د بل پر اوږو باندې
څوک په سرو وینو کې لژند دي نور خاندې
څوک د وېرې دي پراتـه تر خاورو لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک غوریږي څوک ناحقه وايي ساندي
څوک پیشو غوندي میو میو کوي روان دي
څوک لړزیږي خیال کوي چي موږکان دي
د چا لاس کې دي چړې د چا تبرونه
بې پروا څیري د یو او بل نسونه
خبر راغی تر پاچا تر وزیرانو
چي په ښار کي قصابي ده د ښاریانو
له وحشته زړونه رپي د سپاهیانو
امر نه مني هیڅوک د سرکاریانو
که پاچا که وزیران وه که قاضیان وه
که په پوځ کي یې څه لوی منصبداران وه
د تحقیق د پاره ووتل و ښار ته
ټول ایستلي توري ورغلل بازار ته
لېونیو ته یې وکړلې خبري
ښې پستې خوږې خوږې لکه شکري

ویل ګورئ لېونو زه شهریار یم
هم پاچا د دې وطن یم هم مو پلار یم
ولې یو د بل څیرئ سره نسونه
ولې یو په بل مو سره کړله لاسونه
نړۍ وال او ګاونډیان راته حیران دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايــي دلتــه ځنــاور كــه انــسانان دي
لېونــو ســرونه غور ځــول ګفتــار تــه
پـه قـاه قـاه بـه خندېدل خپـل شـهريار تـه
چا به سترګي چا به خولې ورتـه كږې كړې
چي پاچا خبري كړې دوى يې پېښې كړې
يــو او بــل تــه يــې ويــل چــي لېــونى دى
يــا هغــه شــهريار نــه دى دا پــردى دى
پاچا پوه سو چي بل هيڅ تدبير نه كيږي
لېونــو تــه لېــونى پاچــا ښــاييږي
شــــهريار شــــهزاده ګـــانو وزيرانــــو
د لـــښكر ســـپه ســـالار او افـــسرانو
هـم قاضـي هـم يـې كوتـوال هـم اردليـانو
د حـــرم ښايـــستو مېرمنـــو غلامـــانو
د رعيتــو د ښاهــانو اوبــه نــوش كــړې
سمدستي يې د هوښ لاري فراموش كړې

دوى هــم لــوڅ لپــړ راووتــل كوڅــو تــه
خندېــدل بــه د يــوه او د بــل كــړو تــه
قتلــول بــه يــې پــه تــورو خپــل وګــړي
د چــا غــاړي يــې زينــدى كړلــې پــه پــړي
څوك يې واچول ژوندي ژوندي لمبو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستېد له غورېد له غرغړو ته
له کورونو تر آسمان پورته لمبې سوې
د ماشومو او د میندو غلبلې سوې
ګاونډي کړل چا خبر د دې کیسو نه
د دوی خوا کې د بېهوښو لېونو نه
چې مو ثنګ ته د سړو خالي دېرې دي
ښار او کلي ټول له لوټ تشې مېرې دي
که پاچا دی که رعیت دي لېونیان دي
یو د بل وینو ته تږي دي لېوان دي
پاچا مشر دی د پوځ د جلادانو
غوښې خوري د خپل وطن د انسانانو
بې ملیاره شنه پټې دي کروندې دي
بې صاحبه نګهبانه خزانې دي
په هر کونج کې د طلاوو خرمنونه
سره یاقوت دي جواهر دي درمندونه

ګاونډیو ژر راټولې کړې لښکرې
چا را واخیستې نېزې چا توري زغرې
پر وطن د لېونو یې ناتار جوړ کړ
د هستۍ د خزانو یې لوټمار جوړ کړ
دروازې یې د قلا کړې دړې وړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر کورونو سوې خپرې د مرګي لړي
چورول يې واړه کلي لوی ښارونه
سوځول يې درمندونه شنه باغونه
قتل عام يې کړ وطن د لېونيانو
ترې رواني يې کړې ډلي د مينځيانو
غرغره يې کړل پاچا وزيران واړه
د قاضي ککرۍ ورغړېده ولاړه

۵/۲۳/۱۹۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حیات آباد

یــوه ورځ چېرتــه مجلــس کــي د یــارانو
چــا کیــسې کــړې د کابــل او د ښــاریانو
چــي راغلــي مهــاجر دي پــه زرګونــو
تــښتېدلي دي لــه جنــګ او لــه توپونــو
پــه کمپونــو پــه ښــارو کــي سرګردان دي
ټول خلقیان دي، پرچمیان دي کافران دي
دې کفــارو را وســتلي جینکــۍ دي
ســپیني ســپیني بلــوریني نــاوکۍ دي
ښایــستې لکــه د نکــل د پریــانو
پــه ســیالۍ ورځــي د حــورو او غلمــانو
پیــښور ســره نېــژدې حیــات آبــاد دی
د دې ښــکلو مرغلــرو ډک دی ښــاد دی

چي هر څوک یې له کوڅو څخه تېرېږي
د زړه مــراد یــې حاصــلیږي روا کیــږي
چټهــي پیغلــي پــه کرکیــو کــي ولاړي
خریــدار پــه اشــارو ځانتــه ورغــواړي
لکــه مــستي زرکــي ګرځــي پــه سېلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بـازانو پـه شـان ښـکار کـوي د زړونـو
پـه سينه کي مي زړګی پـه غور ځېدو سو
بـې پـروا لـه دوړخونـو لـه توبـو سـو
ما وې ځم چي هر څه کيږي دې کوڅې تـه
د دې ښـکليو سپينو حورو ننداري تـه
آيينـه کـي چـي مـي وکتـل پـه ځيـره
تـر نامـه مـي رسـېده بيـره ږيـره
مـا وې ښـکلي بـه مـي ونـه مني چيـري
ژر مـي ږيـره کـړه لـه مخـه څخـه ليـري
ور روان سـو مه ليـدو تـه د خوبـانو
يـوه چټـه مـي پيـدا کړلـه يـارانو
چټـه نـه وه يـوه ونـه وه د ګلـو
سـر تـر پايـه د کتلـو د سـتايلو
پـه ليـدلو مـي يـو دم د خنـدا شنه سوه
لکـه څانګـه د سـرو ګلـو را کـږه سوه

مـا تـه ګـوري پـه کټ کټ راتـه خنديږي
پـر نازکـه نـرۍ مـلا بانـدي غبرګيـږي
وې يې ماتـه چي راځي ټولـه شېخان دي
طالبـان دي، ملايـان دي، مولويـان دي
د عمرونـو مجاهـد قومانـدان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یـا امیـر یـا د امیـر نیـژدې خپلـوان دي
کـه دا نـه وي مقامـات دي افـسران دي
یـا عـرب دي یـا تـور مخـي پنجابیـان دي
کـه دا نـور وګړي نیت زمـوږ د ښـار کـړي
سمدستي یې ملا حکم د سنګسار کـړي
دا تـه څرنګـه را پېښ سوې دې کـوټې تـه
چـې خریلـې ږیـره راغلـې زمـا دېـرې تـه
دا کــوڅې پــه اجــاره دي د غازیـــانو
چـــي ښـــارونه لوټـــوي د کـــافرانو
جـــوړوي چـــې د ســـرونو منارونـــه
اوروي چـــې د ګولیـــو بارانونـــه
پر ښایستو ځوانانو میندې سولې بورې
دوی ته ورکړې خدای په دې دنیا کې حورې
د اسـلام پـه نـوم یـې جـوړې خزانـې کـړې
خپـل نـاموس تـه یـې تیـارې هدیرې کـړې

چـې مېرمنـې پـه اوو پـردو کـې نغـاړې
د وطـن لـوڼې پـر د غـه بـازار غـواړې
چـې اسـلام یـې د ی یـوازې پـه خبـرو
تـو لعنـت سـه پـر دا هـسې ږیـرورو
خـو پـه زړه مـې دا خبـره همـېش ګرځـي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دنیا کي چي "بد غورځي بد به پرځي"
د سرونو په بازار کي چي څوک زر خوري
عاقبت به په همدې بازار کي سر خوري

ویرجینیا ۵/۳۱/۱۹۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایکېرس او ډیډېلس

## (د یونان له افسانو څخه)

د تـــورو ســـمڅو هـــسکو څوکـــو اتـــل
ایکېـــرس خـــدای و د یونـــان د غرونـــو
ډیـــډېلس پـــلار و د دې لـــوی پهلـــوان
او ازمېیلـــــي د پېـــــړۍ جنګونـــــو
ده تـــه لـــه خپلـــه ځانـــه ګـــران ایکېـــرس
ویـــل بابـــا دلتـــه مـــي زړه تنګیـــږي
مـــا تـــه وزر جـــوړ کـــه چـــي والوزمـــه
نـــور مـــي لـــه سـمڅو ســره نـــه جـــوړیږي
غـــواړم چـــي زمـــا تـــر وزرونـــو لانـــدي
د لویـــو غرونـــو څـــوکي ولړزېـــږي
زمـــا لـــه هیبتـــه ســـمندر خبـــر ســـي
زمـــا لـــه طاقتـــه څپـــې وتـــوریږي

زوړ پهلـــوان هغـــه هوښـــیار ډیـــډېلس
د ســـترګو تـــور تـــه وزرونـــه جـــوړ کـــړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـــه یـــوه غـــره تـــر بلـــه غـــره رســـېدل
ور کــي د مــوم یــې پیوند ونــه جــوړ کــړل
ویـــل یـــې زمـــا د زړګـــي ســـره زویـــه
چـي هــوس ونــه کــې شـغلو تــه د لمـر
پــه وزرونــو کــي دي مــوم کــار ســوي
چـي ځـان نیـژدې نـه کـې لمبـو تـه د لمـر
آســمان تــه وخوځېــد مغــرور ایکېــرس
ورلانـــدي پرېوتـــل ســرکـــبنه غرونـــه
د کـــــوه قـــــاف د شـــــاپېریو ارم
او د دېوانـــــو فـــــولادي بنـــــارونه
لانـــدي یـــې ولیـــدې ناپایـــه اوبـــه
د ســـمندریـــاغي وحـــشي موجونـــه
د زرکلنـــــو نهنګـــــانو ځـــــالې
د شنـه آسـمان پـه شـاني شنـه سیندونه
پــر ســریــې ګرځېــدلې تــوري وریځــي
وریـــــادول یـــــې د ابـــــا نکلونـــــه
لکـــه ګردونـــه د خـــدایانو د جنـــګ
لکــه پــه تېــښته د شــیطان پوځونــه

د ایکېـــــرس لویـــــو تېـــــرو وزرو
د تــورو وریځــو لــوی لــوی غرونــه ځیــرل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه ګوربت مخ يې آسمان ته ونيو
د هسک پر لوريې وزرونه وهل
د لمر زرينو پلوشو ته ځير سو
د شنه آسمان لور ته يې سر ونيوی
د پلار خبري ورنه هيري سولې
د لمر شغلو ته يې وزرونيوی
د لمر له تاوه يې موم ويلي سوله
له دوو ښنګو يې وزرونه مات سول
سيند ته را ولويدی د غرو قهرمان
د نهنګ خوله کي يې بندونه مات سول

امريکا ويرجينيا ۱۹۹۴/۱۲/۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښامار افسانه

وايي پروت په چين ماچين کې يو لوی ښار و
ښــار لا څــه چــې د جنــت پــه شــان تيــار و
هــر ســپرلي يــې د جنــت ســره ســيالي کــړه
هــر يــو بــاغ يــې د فــردوس د ســترګو خــار و
پــه هــر د ښــت کــې يــې رنګونــه اوريــدلي
لــه نغمــو ډکــه او دلــی هــر ابشــار و
هـــره ونـــه يـــې د مـــشکو ســـوداګره
هـــر يـــو بـــوټي نـــسترن پـــه ګلـــو بـــار و
هــر کــودر يــې پــه پيغلوټــو ښايــسته و
د پـــاوليو پـــايزيبونو شـــرنګهار و
هـــره پيغلـــه يـــې ښايـــسته د ګلـــو ونـــه
هــر زلمــی يــې ښــکلی لــوړ لکــه چنــار و

خـــدای ورکـــړي خزانـــې وې انبارونـــه
لــه يــاقوتو مالامــال يــې هــر کهــسار و
خــو آفــت و نــازل ســوی پــر دې مېنــه
ورتــه پــروت د غرونــو شــاته يــو ښــامار و
پــه نوبــت يــې لــه دې ښــاره ولجــه وړلــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یــوه پېغلــه او یــو اوښ پــه خــوړو بــارو
هــره نجــل بــه پــه نوبــت ورتــه راتللــه
دا مرګــی د هــري پېغلــي پــه خپــل وارو
د چــا کــور لــه غمــه نــه ســو خلاصــېدلای
کــه نېــستمن و کــه بــډای و کــه نــادارو
لــــوېي تللــــې د قاضــــیانو کوتوالانــــو
نــه پاچــا او نــه وزیــر د خپــل اختیــارو
د پاچــا د ښایــستې لــور نوبــت راغــی
غــم نــازل پــر کــور پــر کلــي پــر بــازارو
کجـــاوه یـــې تېـــرول پـــر بـــازارونو
پــه ســرو ســترګو یــې ژړل ښــځو مېړونــو
پـه کوڅـو کـي سوې د نجونـو پورتـه ساندي
لــه بــامو یــې غورځــول ځانونــه لانــدي
چــا کــړل ځیــري ګرېوانونــه تــر لمنــو
چــا شــیندلې ایــري خــاوري پــر ســرونو

لـــه ښـــامار ســـره د چـــا برابـــر زورو
ټولــو خلکــو تــه منظــور شــرم پېغــورو
د زرګــر پــر دوکــان ناســت یــو پهلــوان و
مــــسافر لــــه بلــــه ملکــــه ســــرګردان و
پــــه خواریــــو تــــر دې ښــــاره و راغلــــی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوم نهر په شپو په ورځو ګرځېدلی
پټ یې تو ره کړه تر ملا و ووت له ښاره
او ښ د مخه ده و هل ورپسي لاره
مخ یې و نیوی د ښار د باندي غرو ته
د ښامار د هستوګني و درو ته
لمر نیهام سو مخ د غره او درو تور سو
د رڼا پر مخ پلو د تیارې خپور سو
را ښکاره د غره له سره اژدها سو
د پاچا د لور زړګی په واویلا سو
مخامخ روان پر لور د کجاوې سو
او ښ او بار له ره په وازه خوله نیژدې سو
دوې یې سترګې ځلېدې لکه اورونه
تر سږمو یې را ایستله سپین دودونه
په مستیو په نارو په غرغړو سو
په نخرو سو د هوس په غړومبېدو سو

پهلوان توره په پښو کې کړله بنده
اژدها ته یې له لیري کړه ثرګنده
اژدها تر پهلوان کړه زامه لاندي
هغه توره د خولې کونج ته کړه وروړاندي
چي ښامار به تېراوه د نس پر لوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــر کوګـــل یــې وتـــل تـــوره پـــوري ووري
د ښــــا مار پورتـــه رمبـــاړي غلبلــې ســــوې
پــه تېره تــوره یــې پــرې د نــس پــردې ســوې
پهلـــوان یـــوه څـــرمن ورنـــه جـــلا کـــړه
مخ پــر ښـار ســو د پاچـا لـورتـه یـې شا کـړه
ښـــا مار مـــړ ســو ښـــار آزاد ســو لـــه غمونـــو
نـــور لـــه چـــا ســـره غـــم نـــه و د ســـرونو
ږغ ســــو پورتــــه د ســـورنا او د ډولونـــو
غېــــږي ورکـړلــــې پلرونــــو او زامنــــو
زېــــرى ولاړى تـــر ښــــارونو او ملکونـــو
مــرګ ســو کــډه لــه کــږدى لــه ګودرونــو
ســره غور ځکــه ســوله پورتــه د جــشنونو
نــور بــه نــه وي جنــازې د ښــکليو نجونــو
زغـــــري واغوســـتې زامنـــــو د غښتـــانو
تــــوري واخيـــستې بچــــو د وزيرانــــو

ســـرې پـــه وينـــو ســـوې نېـــزې د افـــسرانو
مــــست اســــونه ځغلېـــدل د ســـردارانو
ســترګي ســرې ســوې د زامنـــو د قاضـــیانو
غـــرو تـــه وختـــل بچـــي د کوتوالانـــو
پـــر وژلـــي ښـــا مار پيـــل ســـول ګوزارونـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چـا پـه سـرې کړلـې نېـزې چـا خنجرونـه
هــر يـــوه يـــې پـــرې کولـــه اندامونـــه
چـا يـې سر چـا يـې لکۍ چـا يـې غاښـونه
هر يـوه يـې د ښـامار د جنـګ کيـسې کـړې
هــر يـــوه يـــې لــه مــستيه غرغـــړې کـــړې
چـــا خبـــرې د ښـــامار د ننـــدارې کـــړې
چـا کيـسې د هيبتنـاکې تـورې شپې کـړې
چـا بـه لاپـې د کـرۍ شـپې د جګـړې کـړې
چې به بل کيسه کول دوی يې پېښې کړې
پــه يــو کــونج کــې بيــده ســوی پهلــوانو
د ښـــامار لـــه جنګـــه ســتړی و ســتومانو
ږغ راوېښ کـــــړ د ډولونـــــو اتڼونـــــو
د خوښـــــيو د جـــــشنونو د رقـــــصونو
مځکـــه رېـــږدې لـــه هيبتـــه د فوجونـــو
پـــر آســـمان ګرځـــې کـــوترې پـــه ســـېلونو

د هـــر چـــا پـــر ژبـــه بـــس يـــوه کيـــسه ده
د ښـــامار د مـــرګ خبـــره ده خپـــره ده
چـــا ويـــل ښـــامار وژلـــی دی ځوانـــانو
د دې ښـــــار پهلوانـــــانو توريالـيـــــانو
چـــا خبـــرې کـــړې د فـــوج د بـــاتورانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا زامن ستایل د خپلو وزیرانو
پهلوان په زوره بږغ کړله ښاریانو
خوشي ولي منت وړئ د مفت خورانو
ما وژلی دی پاچا د ښامارانو
ما بېغمه کړاست د ژوند له غلیمانو
ما راوړې دا څرمن ده له ښاماره
ښباني یې ده د قتل معلومداره
زه ورځم ستاسي پاچا ته تر درباره
ما ته وښیاست کوڅه لیکه او لاره
پهلوان چي د ښامار کیسه کوله
چا په پټه چا په وازه خوله خندله
یو له بله یې پوښتل چي دا د چا دی
دلته نوی پیدا سوی که پخوا دی
له کوم ښار څخه راغلی دا سړی دی
باوله دی سودایي دی لېوني دی

اورېدلې یې له چا څخه کیسه ده
جوړه کړې یې له ځانه افسانه ده
کله کله کړي کیسې د ښامارانو
زوروري بولي ځني تر ایرانو
وایي مات مي کړل پوځونه د دېوانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتــه هــيڅ نــه دي لــښکري د لېوانــو
پهلــوان يــې د ښــاريانو خنــدنې کــړ
پــه خنــدا او پــه نــارو يــې لېــونې کــړ
ښــار پــه ښــار بــه ګرځېـدی کلـي پــه کلـي
چــا پــر سر بانــدي ويــشتلی چــا پــر ولــي
چــي بــه ده کيــسه آغــازه د ښــامار کــړه
پــر خپــل ځــان يــې ســپره د خنــدا لار کــړه
انعــام واخيــستی زامنــو د غټــانو
پاچــا غــټ کړلــه بچــي د وزيرانــو
منــصبونه يــې کــړه لــوړ د افــسرانو
د قاضــيانو کوټوالانــو د بچيــانو
پهلــوان کلــي پــه کلــي ســرګردان و
کلــه ځــان ســره پــه جنــګ کلــه حيــران و

ويرجينيا ۲/۱٦/۱۹۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځنګل شاهي

کتـــــابونو دي راوړي دا نکلونـــــه
چـا تـري واخيـستي مـزي چـا عبرتونـه
چـي لا نـه و انـسانان پـر مـخ د مځکـي
ځنـاورو يـــو پـــر بـــل کـــول حکمونـــه
پــه ځنګلــو کــي د ځنګلــه قــانون روان و
چلــول اميــر زمــري پکــښي امرونــه
د کمـــزورو ســـره غـــم و د ســـرونو
لــوی لېــوان لکــه خوګـان پــه غوښــو بـار و
ګرځېدل به سرې سرې سترګي غوړ برېتونه
د کمـــزورو پـــه ژونـــدوني ســـاه ختلـــي
پــر هـــډوکو يـــي وچ ســـوي وه پوســـتونه
اميـــــر هـــــم د زورورو طرفـــــدار و
چـا يـي نـه کـړل پـه حضور کـي فريادونـه
يـوه ورځ د لـوی اميـر ته وکـو تـه زړه سـو
را حاضـر يـي کـړ جـلاد تېـره غاښـونه
ويـل راولـئ مـوږک زمـا تـر حـضوره
چـي سـپارمه دي بيکـاره تـه کارونـه
حاضـر باشـو جلادانـو مـوږک راووست

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربړ.دېدلــه يــې لــه ويــري انداموتــه
د اميــر حــضوريــې هــيڅ نــه و ليــدلى
نــه خبــر و لــه دســتوره لــه قانونــه
د دربــار هــره ګوښــه ورتــه بــلا وه
د مرګ ږغ تــه يــې بــوڅ کــړي وو غوږونــه
نــابيره اميــــر وويــــل موږکـــه
ستا لــه لاســه همېــشه راځــي عرضــونه
په ځنګله کي حيوانان له لوږي مړه سول
ستا پــه کــورکــي د غنمــو ګودامونــه
پيــشو هــم تــا بــې حيــا بــې شــرمه بــولي
درباريــان مــي هــم لــري شــکايتونه
مــا تــا کلــې ســتا دپــاره وظيفــه ده
چي مصروف دي کړي هفتې مياشتي کلونه
هغــه دا چــي هغــه ليــري غــره دپاســه
چـــي ولاړ دي چنارونـــه او صـــبرونه

لــويي ونــي او کونــدې کــړه تــرې رابېلــي
چــي را نــه وړې نيــالګي وا ړه ښــاخونه
مــوږک وويــل اميــره ســتا قربــان ســم
تاسي وګورئ زمــا پــښې او زمــا لاســونه
زه بــه څرنګــه چپــه کــړم لــويي ونــي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به څرنګه راوړم لوی چنارونه
ما ته وسپاره یو کار زما تر قدرته
صدقه دي سه زما ویني اولادونه
لویي وني ماتول د فیل په وس دي
بار ته وټاکه اوښان خره او آسونه
د امیر سترګي سوې سرې له ډېره قهره
ویل ووزئ درباریانو پرېږدئ خونه
چي یوازي سول امیر او موږک دواړه
او خالي سول د دربار ټوله کونجونه
په حیرت حیرت موږک ورته کتله
زمري پورته کړل له مخي نقابونه
د نقاب د لاندي بل حیوان ښکاره سو
غټي زامي پنډ اوربوز اوږده غوږونه
دا هغه له کلي تللی سپېره خر و
چي یې وړای نه سول درانه بارونه

موږک وازه خوله حیران خر په خندا سو
ویل واخله زما له عقل نه پندونه
چي زه خر یم د زمري پر کرسۍ ناست یم
وروېشمه فیل او پړانګ ته منصبونه
ته هم کړلای سې چي لویي وني پرې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د ځمکـي سـره سـم کـړې دا ځنګلونـه
دلتـه مـه وايـه چـي دا مـي پـه وس نـه دي
کـه دي زړه غـواړي د ژونـد واړه عيـشونه

ويرجينيا ۱۹۹۰/۳/۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# متلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیگانــــه لــــه خپلــــه نــــه ســــي ســــمېدلای
د پــــردو پــــه مخکــــي مــــه ترټــــه خپلــــوان دي
کــــه عــــزت غــــواړې د خپلــــو پــــرده پــــوش ســــه
د خپــــل کــــور خبــــري مــــه کــــوه دبانــــدي [1]

لــــه ســــړو اوبــــو يــــې زهــــر بهتــــري کــــړي
برابــــر مــــه ســــې پــــر کــــور د نــــامردانو
د ګيــــدړ تــــر نــــاز ثيــــرل د زمــــري ښــــه دي [2]
خــــدای دي مــــه لــــره محتــــاج د ناکــــسانو

دلتــــه خــــولې تــــه کتــــل کيــــږي چــــي د چــــا ده
وينــــا هــــم تللــــه کيــــږي پــــه لوټونــــو
نــــه خبــــره د غريــــب مــــلا ثــــوک اوري
نــــه روژه يــــې مــــاتوي پــــه آذانونــــو [3]

---

[1] د کور خبره دباندي مه کوه.

[2] د ګيدړ تر ناز د زمري ثيرل ښه دي.

[3] د غريب ملا په آذان ثوک روژه نه ماتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نــن يــې مــه ګــوره چــې وژنــي يــو لــه بلــه
دا خـــــروړي ســــبا بيــــا ســـــره جــــو ړيږي
و فقيــــــر تـــــه ده يــــوه ســــلا د ټولــــو
کنــه ســپي خــو کــور پــه کــور ســره غپيــږي [۴]

هـــــره چـــاره د تـــــد بير پـــــه ژبـــه کيـــږي
کلـــــه زور لـــــره محتـــــاج ســــي تد بيرونـــــه
کــــاږه تيکـــي تــــه کـــږه تـــوره جـــو ړيږي [۵]
کـــږې خـــولې لـــره پـــه کـــار دي ټينـــګ ســـوکونه [۶]

د پـرديـــــو پــــه ســـــوغات مــــسته مغـــــروره
ړنـــدې ســـترګي بـــه دي کلـــه بينـــا کيـــږي
بېهـــــوده د نا کـــــسانو لاس نيـــــوی کـــــړې
د خپـــل کـــور پيـــر کلـــه چـــا تـــه معلـــوميږي [۷]

---

[۴] د سپو کور په کور ميرڅه وي فقير ته يې سلا يوه وي.
[۵] د کاږه تيکي سره کږه توره جوړيږي.
[۶] کږه خوله سوک سموي.
[۷] د خپل کور پير چا ته نه معلوميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خبره د هوښیارو د جرګو ده
چې د غار خولې ته مار ورسېږي سم سي[۸]
ډېر مو ولیدل کاره په خپل انګړ کې
په بهر کې مستقیم لکه قلم سي

چې پرون یې هډیرې په اجاره وې
نن یې دوړې د ځوانۍ پر مزار ګرځي
دا دستور د زمانې دی نه بدلېږي
په دنیا کې چې بد غورځي بد به پرځي[۹]

توریالي بو دا زامنو ته ویله
توره سره ښه ده خو نه د ورور په وینو
که په کور کې او په ګور کې عزت غواړئ
یو تر بل سره جارېږئ زما زامنو

---

[۸] مار چې د غار خولې ته ورسېږي سم سي.
[۹] چې بد غورځي بد به پرځي.
[۱۰] توره سره ښه ده خو نه د ورور په وینو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ثمر به يې څوک وخوري نه به ښاد سي
دا خبره په ګومان د چا کښېوزي
د بې بختي کونډي دوه غوايي په برخه
يو د ننه نه ورځي بل نه راوزي(١١)

چي د تخت په هوا ځي تخته يې ځاى وي
له تقدير سره جوړ نه دي تدبيرونه(١٢)
چي کوهي چاته کيني پکښي به لوېږي(١٣)
نه رسېږي تر مزله کاږه بارونه(١٤)

له ازله يې ښه ورځ ليدلې نه ده
په پرون او پرونيو پسي ژاړي
دا نصيب دى د بدبختو افغانانو
تل زاړه کفن کښان له خدايه غواړي(١٥)

که د خپل کاله امان غواړي له خدايه
له لمبو ژغوره نيژدې ليري کورونه

---

(١١) د کونډي دوه غوايي وه يو ووت نه بل ننووت نه.
(١٢) تقدير او تدبير نه سره جوړېږي. (تدبير بندونه تړي تقدير پر خاندي م هوتک).
(١٣) چي بل ته کوهي کيني پخپله پکښي لوېږي.
(١٤) کوږ بار تر مزله نه رسېږي.
(١٥) دعاوي زاړه کفن کښ وګټلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـــه انګـــار ســـره خپلـــوي د هيچـــا نـــسته
وچ لانـــده ســـوځي چـــي اورواخلـــي ځنګلونـــه[۱۶]

هـــر فرعـــون لـــره موســـی دی پيـــدا ســـوی[۱۷]
غـــشي مـــه ګـــوزاروه د چـــا پـــر زړونـــو
کـــه ســـوکونه دي پيـــرزو پـــر ســـينه نـــه وي
ګـــوره څـــوک چـــي آزار نـــه کـــړي پـــه نوکونـــو[۱۸]

پـــردی کـــټ تـــر نيمـــو شـــپو دی بختـــوره[۱۹]
پکـــښي نـــه کيـــږي درانـــه خـــوا ړه خوبونـــه
چـــي پـــه کلـــي کـــي دي نـــه پريـــږدي وګـــړي
د ملـــک پـــه کـــور کـــي مـــه تـــړه آســـونه[۲۰]

شـــيخه مـــوږ دي د دعـــا پـــه تمـــه راغلـــو
ســـتا لـــه کـــوره بـــوی راځـــي لـــه شـــرابونو

---

[۱۶] ځنګل چي اور واخلي وچ او لانده ګډ سوځي.
[۱۷] هر فرعون سره موسی سته.
[۱۸] که څوک آزار کړي په نوک تا به ووهي په سوک. (که د بل دروازه ووهې په نوک ستا دا به ووهي په سوک، م هوتک).
[۱۹] پردی کټ تر نيمو شپو دی.
[۲۰] چا په کلي کي نه پرېښود ده ويل زما آس د ملک په کور کي وتړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لــــه رســـــتمه يــــې ســـــل نــــوم بهتـــــر دي[۲۱]
ډول د ليــــري ښــــه لګيـــــږي پــــر غوږونـــو[۲۲]

چـــي پــه كـــور كــي د كـــوركي جــوړول غـــواړي
مركـــــــــه ده د ابلـــــــــيس او د زامنـــــــــو
دوه بــه جــوړ ســي كــه دريــم يــې تــر مــنځ نــه وي[۲۳]
دا مـــــو زده كـــــړه لــــــه ملګـــــرو ملتونـــــو

ثــــه خبــــر لـــــه خپلــــه زوره ځنــــاور دى
يــــوه بــــل تــــه چــــي پــــه ســــرو ســــترګو ځــــښمېږي
دوه غــوايي چــي ښــكر پــه ښــكر ســي پــه پټــي كــي
زيـــان يـــې بوټـــو او يـــا كـــاهو تـــه رســـېږي[۲۴]

---

[۲۱] له رستمه يې نوم بهتر دى.
[۲۲] د ډول ږغ د ليري ښه خوند كوي.
[۲۳] دوه به سره جوړ سي د دريم دي مخ تور سي.
[۲۴] دوه غوايي چي په پټي كي په جنګ سي، زيان يې بوټو او كاهو ته رسيږي. بل روايت دى: دوه غــوايي چــي ښــكر پــه ښــكر ســي زار د بوټــو و د كــاهو. دلتــه زار د افسوس او حسرت په معنى دى، پير محمد كاكړ وايي:

زار د هغه چا دى چي آزار كــوي د زړونو
ژوند د ظالم كم دى چي مدام دل آزاري كا
(م هوتک)

(c) ketabton.com: The Digital Library

یــوه ورځ بــه د فلــک پــه دام کــې ګیــر ســې
چــې نــن ســره منګــول ورځغلــې پــر خوارانــو
د لنــــدو ختــــو نــــری بـــاران پلمــــه وي[۲۵]
خونــــه ولـــــې ورانــــوې د غریبـــانو

د آســـمان بـــې انـــصافي ده کـــه دي خپلـــه
چـــې بـــدل دي جـــواهر کـــړل پـــه ډبـــرو
د حـــساب ســـترګي پـــه لپـــو لپـــو ژاړي
قـــدر تـــل وي د زرګـــر ســـره د زرو[۲۶]

پـــه مزلونـــو ورځـــي ســـتړي ســـوې شـــپې ســـپیني
د کــــاروان غبـــار پـــټ کـــړي رباتونـــه
یـــا ســـاروان پـــه زړه کـــافر یـــا انـــصاف نـــسته
اوښـــان نـــه ژاړي لا ژاړي یـــې بارونـــه[۲۷]

---

[۲۵] لندو ختو ته نری باران پلمه سي.
[۲۶] د زرو قدر له زرګر سره وي.
[۲۷] اوښان نه ژاړي بارونه ژاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هـــره ورځ خـــو پـــه دې ښـــار کـــي غـــټـــان نـــه مـــري
دا خيــــرات کلـــه نـــا کلـــه پيـــدا کيــــږي
پـــه تلـــوار او ګـــره چـــا نـــه ده ســـره کـــړې[۲۸]
مـــلا پـــام کـــوه نـــن صـــبر پـــه کـــاريږي

پـــه اتـــڼ کـــي يـــې نومونـــه نـــه يـــاديږي
رنـــګ بـــدل ســـو د کيـــسو او د نکلونـــو
پـــه اول کـــي بـــه مړانـــه پـــه ســـيالي وه
اوس ســـپيتانه پـــه ســـيالي ســـوه د ميړونـــو[۲۹]

د رويبـــار خولـــه مـــاتوئ ژبـــه يـــې پـــرې کـــړئ
پـــه دې ميڼـــه کـــي اوس داســـي بـــاتوران ســـته
چـــا چـــي دا خبـــره کـــړې ملامـــت دی
چـــي ايلچـــي لـــره نـــه مـــرګ او نـــه زنـــدان ســـته[۳۰]

---

[۲۸] او ګره په تلوار نه سرېږي.
[۲۹] اول به مړانه په سيالي وه، اوس سپيتانه په سيالي ده.
[۳۰] ايلچي لره نه مرګ سته نه زندان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل سوړسک د بل تر وریجو غوښو ښه دی[۳۱]
خپله خونه د پردیو تر قصرونو
باز چې خپله ځاله پرېږدي او روان سي
د پاچا منګولیې ځای سي تر عمرونو[۳۲]

سرې غوټۍ سوې د خزان د چپاو شومه
لا چاغېږي د اغزیو درمندونه
د پلرو هره خبره د زړو تول دی
بد بانجڼ ته نه رسېږي آفتونه[۳۳]

تر ورخ تیري او به بیرته نه جاروزي[۳۴]
هسې نه کوردي ځالۍ سې د غمونو
بدي ورځې لره بد تربور په کار دی[۳۵]
تېغ دي لیري که د ورور له مړوندونو

چا به ډیري ککرۍ وي رژولي
خو لا مینه له مېړونو نه ده توره

(۳۱) د بل تر وریجو غوښو سوړسک د کور ښه دی.
(۳۲) باز چې له خپلې ځالي روان سي د پاچا منګولیې ځای سي.
(۳۳) بد بانجڼ آفت نه لري.
(۳۴) تر ورخ تېري او به بیرته نه جاروزي.
(۳۵) بد ورور د بدي ورځې د پاره ښه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیـــټ نظـــر یـــې پـــه جـــونګړه بانـــدې مـــه کـــړه
وېـــش چـــې کـــړې برخـــه وېـــشه مړونـــه ګـــوره [۳۶]

د کـــوچ ږغ تـــه یـــې غوږونـــه پـــه هـــوا دي
مـــوږ لـــه هـــر څـــه لاس پرېـــولي دي تیـــاریـــو
دا بـــاقي هـــستي دروا خلـــه نـــوش جـــان دي
سپي درګرځـــوه لـــه خیـــره دي بېـــزاریـــو [۳۷]

پـــه سنګـــساریـــې نیمـــه خـــوا کـــړې هغـــه ونـــې
چـــې ښـــاخونه یـــې کـــاږه وه لـــه بـــارونو
بـــې مېـــوې ونـــې تـــه نـــه غـــورځي ډبـــري [۳۸]
نـــه یـــې تمـــه څـــوک لـــري لـــه نعمتونـــو

لـــــه پخـــــوا راتـــــه کېدلـــــه دا خبـــــره
چـــې پـــردې خـــواږه یـــا پـــوردې یـــا پېغـــوردي [۳۹]
نـــه د پـــورنـــه د پېغـــورغـــم ورســـره دی
دا بـــې ننګـــه مېلمانـــه د چـــا د کـــوردي

---

[۳۶] برخې وېشه مړونه ګوره.
[۳۷] سپي درګرځوه د خیره دي بېزاره یو.
[۳۸] بې ثمره ونه څوک په ډبرو نه ولي.
[۳۹] پردې خواږه یا پوردي یا پېغوردي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پرون به يې خمتا په وس کې نه وه
نن د تخت د پاسه ناست دی بختور دی
وران قصرونه چا ليدله او ويل يې
بې له شکه پردی غم نيمی اختر دی[۴۰]

نن کاري ګوزار کوه واری دي خپل دی
چې سبا بدله نه کړې خپله رايه
پښتون سل کاله پس وار اخلي لا وايي
په بدل کې مې تلوار وکړ بې ځايه[۴۱]

په نصيب يې لويه برخه نه وه کښلې
نن لوېږي واړه خلک په بدلو[۴۲]
يوه ورځ به يې خپل برغ له خولې راوزي
ګيدړ نه دی د خپل ځان د ټينګولو

---

[۴۰] پردی غم نيم اختر دی.
[۴۱] پښتون سل کاله وروسته بدل واخيست ويل يې تلوار مې وکړ.
[۴۲] په بدلو څوک نه لوېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه قــسمت کــي یــې تیـاري پــه نـصیب ســوي
د افغـــان پـــر آســـمان لمـــر نـــه دی ختلـــی
لـــه بارانـــه ســـي ولاړ نـــاوې تـــه کـــښېني [۴۳]
بخـــت یـــې کـــور تـــه پـــه ژونـــد نـــه دی ورغلـــی

پـــه یـــوه زیـــن کـــي دوه تنـــه نـــه ځـــایېږي [۴۴]
نـــه ځـــایېږي یـــوې تیکـــي کـــي دوې تـــوري [۴۵]
د زینونـــــو او آســـــونو پـــــه تـــــلاښ کـــــي
ډیـــري خوینـــدي ســـولې وراري مینـــدي بـــوري

ځـــــو دي خپلـــــي متـــــې نـــــه وي آزمېیلـــــي
د دښـــمن چـــي درتـــه جـــوړي پلمـــې نـــه کـــړې
دواړي غبرګـــــي د بـــــایللو پـــــه شـــــماره دي
خپلـــي پـــښې چـــي لـــه کمبلـــي اوږدې نـــه کـــړې [۴۶]

---

[۴۳] له بارانه ولاړ سو ناوې ته کښېنستی.
[۴۴] په یوه زین کي دوه تنه نه ځایېږي.
[۴۵] په یوه تیکي کي دوې توري نه ځایېږي.
[۴۶] خپلي پښې له کمبلي اوږدې مه غځوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــــه مــــردا ره بانــــدي وژنــــي يــــو لــــه بلــــه
چــــا ويــــل چــــي دا تهــــولې ده د بــــازانو
بــازچـي‌هـرشـومره‌سـي‌خـوارچنګـښي‌نـه‌خـوري (۴۷)
دا بچــــــي دي د کارګــــــانو کرګــــــسانو

هــــې توبــــه يــــې لــــه وحــــشته لــــه هيبتــــه
چــــي د ژبــــو پــــر ځــــای تــــوري ســــره ورســــي
وايــــي زور چــــي پــــه هــــر ځــــای کــــي زورور ســــي
عقــل کــوچ وکــړي لــه ځايــه مــرور ســي (۴۸)

پــــردې وينــــه بيګانــــه ده نــــه خپلېــــږي
وروربـــه‌نـــه‌ســـي‌چـــي‌دي‌مـــورنـــه‌وي‌زوولـــی (۴۹)
چــــي د پــــلار پــــر قــــدم ســــم پــــر لاري نــــه ځــــي
پــــه‌ســــپي‌زوی‌وي‌تــــل‌ښــــاغلی‌پــــلار‌ښــــکنځلی (۵۰)

---

(۴۷) باز چي هر څومره خوار سي چنګښي نه خوري.
(۴۸) زور چي زورور سي عقل مرور سي.
(۴۹) چي نه دي وي له موره داسي مه وايه چي وروره.
(۵۰) په سپي زوی ښه پلار ښکنځلی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دوستۍ او په خپلوۍ يې باور نسته
پرون ستا وه نن د بل کره هستېږي
چې يې ښه هلته يې شپه ده هورې اوسي
دا پردي سپي د ډوډۍ په زور خپلېږي[51]

کشکي هر چا ته پرون وريا د پېدلای
هره ستر ګه له حيا نه رپېدلای
پز پرېکړي که درلودلای څه شرم
د چړې نوم به يې هر ګز نه اخيستلای[52]

چې په شپو د بل په کور کې ډېوې ځاري
هغه نه دي پوه په ګټه او تاوان خپل
ګاونډي يې شپې له درده کړلې سپيني
بدبخت وخوړې په تش ګومان ايمان خپل[53]

---

[51] پردي سپي د ډوډۍ په زور خپلېږي.
[52] پز پرېکړي که شرم درلودلای د چړې نوم به يې نه اخيستلای.
[53] بدبخت په تش ګومان ايمان وخوړ. بد ګومان د ايمان زيان (م هوتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا بــــه ځــــو تــــر دې نقــــاب لانــــدې پټېــــږې
لا بــــه ځــــو خــــورې د دروغــــو ســــوګندونه
نــس مــي مــوړ کــه پــه جــار جــار مــي دې ښــه نــه ســي [(۵۴)]
نــــور دي ويــــنم لــــه دانــــې ســــره دامونــــه

ســړی تــل پــه درنــو درونــد پــه ســپکو ســپک ســي [(۵۵)]
همنــــشين مــــه ســــه لــــه چــــا ســــره نــــاولی
دې کنــــډو ســــره عمرونــــو خپلــــوي کــــړې
پــــه دې لاره بانــــدې زر کلونــــه تللــــی

دا دامونــــه دې درتــــول کــــه واريــــې تېــــر ســــو
لــــه ړانــــده لکــــه يــــو ځلــــي ورکېــــږي [(۵۶)]
لــــه کتــــوي بــــه راوزي پــــه ځمځــــه کــــي [(۵۷)]
تــــر قيامتــــه شــــنې پــــه غــــلا نــــه چيچــــل کېــــږي [(۵۸)]

---

(۵۴) په جار جار مي ښه نه کېږي نس مي راموړ که.
(۵۵) په درنو دروند په سپکو سپک.
(۵۶) ړوند يو ځلي امسا ورکوي.
(۵۷) چي څه په کټو کي دی په ځمځه کي به راوزي.
(۵۸) شنې په غلا نه چيچلي کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن دي تاج پر سر ايږدي سبا دي وژني
باور نسته په خپلوي د دښمنانو
خپل دي نه غورځوي لمر ته که دي مړ کي (۵۹)
ټولۍ مه خوشي کوه د ښو دوستانو

دا د کومو بې انصافو نصيحت دی
چي په زړه به څومره سخت وه دا زوی مړي
په لمن کي وړه غوړي که بل څه نه وي
له انګړه د ناداره پوروړي (۶۰)

له لومړۍ ورځي حساب درته په کار دی
چي په کور کي دي تر ګټي تاوان ډېر دی
نور په شګو د سېل مخ نه سي نيولای (۶۱)
وچه مه خوره چي دي پور تر سلو تېر دی (۶۲)

يا د توري يا فرياد په ژبه کېږي
حق په خوښه چا ته نه دی رسېدلی

---

(۵۹) خپل که دي مړ کي لمر ته دي نه غورځوي.
(۶۰) د ناداره پوروړي له کوره غوړي په لمن کي وړه.
(۶۱) د سېل مخه په شګو نه بندېږي.
(۶۲) پور چي تر سلو تېر سو وچه مه خوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شــــيدې نــــه ورکــــوي مــــور هغــــه ماشــــوم تــــه
چــــي پــــه چيغــــو چيغــــو نــــه وي ژړېــــدلی [٦٣]

لــــه ريــــشتيا ســــره د ښــــمنه زمانــــه ده
چــــا تــــه مــــه کــــوه خبــــري ســــپيني ســــپيني
د غــــرض څــــښتنان ټولــــه لېــــوني دي [٦۴]
د عــــسلو پــــه کنــــدو کــــي ګنــــدېږ ويــــني

لــــه مړونــــو يــــو ښــــه نــــوم دی چــــي پــــاتېږي
چــــو پړ مــــه خوشــــي کــــوه د محتاجــــانو
چــــي چــــا لاس درپــــوري ونيــــو غــــوڅ يــــې نــــه کــــې [٦٥]
دا خبــــره ده راپاتــــه لــــه مردانــــو

نــــه پــــه خپلــــو کــــي لــــه ســــياله ســــره ســــم ســــو
نــــه پــــه ښــــار کــــي د پــــردو يــــې قــــدر ډېــــر ســــو
پــــام چــــي زده نــــه کــــې خويونــــه د پرديــــو
کارګــــه چــــم کــــاوه د زرکــــي خپــــل يــــې هېــــر ســــو [٦٦]

---

[٦٣] چي ماشوم ونه ژاړي مور شيدې نه ورکوي.
[٦۴] د غرض خاوند لېونی وي.
[٦٥] چي چا لاس درپوري ټينګ کړ مه يې غوڅوه.
[٦٦] کارګه د زرکي تګ کاوه خپل يې هېر سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا متــل دی چــي خپــل خپـل پــر دی مغــل دی [٦٧]
چیر تـــه خپـــل د بېګانـــه برابـــر نـــه کـــې
دو ســت تــه حـال وایــه دښــمن تــه وهــه لاپــي [٦٨]
چــي غلــیم دي پــه خپــل غــولي خبــر نــه کــې

پــه تېــر کــي دي نــا اهلــه پیــدا مــه ســه
نــوم د پــلار او د نیکــه پــه تبــاه کېــږي
نـــه ورکېـــږي د نـــه زوی د لاســـه مېنـــه
د ســپي زوی د لاســه تــل مېنــه ورکېــږي [٦٩]

ســخاوت او اخـــلاص دواړه پـــه قـــسمت دي
لـــه ازلـــه د هـــر چـــا برخـــه رســـېږي
د دولـــت ســـره د زړه ملګـــري نـــسته
چـــي د چـــا دنیـــا ډېرېـــږي زړه تنګېـــږي [٧٠]

---

[٦٧] خپل خپل دی پردی مغل دی.
[٦٨] دوست ته حال وایه دښمن ته لاپي.
[٦٩] د نه زویه مېنه نه ورکېږي د سپي زویه مېنه ورکېږي.
[٧٠] چي دنیا ډېرېږي زړه تنګېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر کړی د جواهرو په قیمت دی
لکه مری تېر کړی دی نه ستنېږي
له سړې ګټې نه تود تاوان بهتر دی (۷۱)
پاڅه ژوند په نن سبا کې تمامېږي

ژوند تلاښ دی خوځېدل الوتل دي
د انسان دي دا جهان او ږده مزلونه
له ځایي سړي نه ښه وي خرڅي ګرځي (۷۲)
وړي پر ملا باندي درانه درانه بارونه

چا ته عرض وکړم د شنه آسمان له جوره
چې محتاج یې کړم و لاس ته د سیالانو
هی افسوس دښمن مې ته یې تشه لاسه (۷۳)
ما به څه کاوه دربار د ناکسانو

---

(۷۱) تر سړې ګټې تود تاوان ښه دی. تر بېکاره ودانۍ، په خرپ نړېدلې ښه ده (م هوتک).

(۷۲) تر ځایي سړي ګښته خر ښه دی.

(۷۳) تشه لاسه دښمن مې ته یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ښکاره د ملايکو لښکر ښکاري
ډېرې چور کړل ډېرې ښخ کړل بې کفنه
چا ويل چې توتکۍ ده بې آزاره
له چينجيو د چمن وکړئ پوښتنه[۷۴]

که بدي دي که دوستي په ژبه کېږي
ټپ د ژبې په کلونو نه رغېږي[۷۵]
اخيستلای نه سي څوک توکړي ناړي[۷۶]
زړه ښيښه ده که دي مات کړ نه جوړېږي

ښه خو دا چې غم ښادي دي پر خپل کور وي
چې مېلمه نه سي پر کور د ناکسانو
تل پر ځای پرته ډبره وي سنګينه[۷۷]
چې ونه وزې له ټوليه د سيالانو

---

[۷۴] ويل يې توتکۍ بې آزاره ده، ويل يې د چمن د چينجيانو وپوښته.
[۷۵] د توري ټپ جوړېږي د ژبې ټپ نه جوړېږي.
[۷۶] توکړي ناړي بېرته نه اخيستلي کېږي.
[۷۷] ډبره چې پر ځای پرته وي سنګينه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سل سرونه سره يو سي لښکر جوړ سي
کلي جوړ دي له مړونو له کورونو
له يوه لاسه ټک نه خېژي ملګرو (۷۸)
تجربه ده د پلرونو د نيکونو

چي يوه ګوته څوک نيسي د بل لور ته
دري يې سمد ستي د ځان پر لور کږې سي (۷۹)
لټوي د ځان عيبونه په جهان کي (۸۰)
پر خپل ځان يې د انصاف سترګي ړندې سي

له کماله سره ګوندي د زمانې ده
سيالي نه کوي سيالان د ناکسانو
ګيدړ خوار ته خپل پوستکی بلا سوی (۸۱)
ورپسې سترې ټولۍ وي د ښکاريانو

هره ورځ مې د رويبار په انتظار وي
هره شپه مې د جانان پر کوڅه شپه وي

---

(۷۸) له يوه لاسه ټک نه خېژي.
(۷۹) چي يوه ګوته بل ته نيسي دري دي ځان ته کږې سي.
(۸۰) د ځان عيبونه په جهان کي لټوي. (چي په ځان کي ويني په جهان کي ويني).
(۸۱) ګيدړي ته خپل پوست بلا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـــږی تـــل وینـــي ســـرې او بـــه پـــه خـــوب کـــي [۸۲]
خـــوب او خیـــال یـــې پـــر ســـاحل بانـــدي مېلمـــه وي

چـــي د ژونـــد پـــه ســـفر ځـــې قـــدم پـــه ورو ږده
هېـــریـــږي نـــه کـــړې نـــصیحت د هوښـــیارانو
بـــې بـــاوره دي دا دوه شـــیان پـــه دنیـــا کـــي
لمـــــر د ژمـــــي او خنـــــدا د دښـــــمنانو [۸۳]

نـــور د ګلـــو د موســـم هـــوس ونـــه کـــړې
پنځـــه ورځـــي د ځـــوانۍ وې بهـــار تېـــر ســـو
جنـــازې تـــه دي طبیـــب دی رابللـــی
پـــه دېـــوال تپـــه نکریـــزي اختـــر تېـــر ســـو [۸۴]

د ژونـــد لاره د ورېـــښمو جـــوړه نـــه ده
کلـــه کلـــه ځـــوک د تـــورو پـــر ســـرو ځـــي
هـــر ســـفر دي لـــه یـــارانو ســـره بویـــه

---

[۸۲] تږی په خوب کي سرې او به ویني. لځ (لوځ) په خوب کرباس ویني (م هوتک).
[۸۳] د ژمي په لمر او د دښمن په خندا اعتبار نسته.
[۸۴] نکریزي چي له اختره تیري سي په دېوال یې تپه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چـي بـې ملـو ځـي نـو تـور مـاريـې پـر اوږو ځـي[۸۵]

تـــل بـــه نـــه وي پـــر نغـــري بانـــدي دېګونـــه
يـــوه ورځ دا د خيـــرات مـــړی خلاصـــېږي
چـــي د يـــار د لاســـه پيـــازوي خـــو پـــه نيـــازوي[۸۶]
د منـــت پـــه حلـــوا ســـتونی نـــه خـــوږيږي

هـــر قـــدم دي د ســـر غـــم درلـــره بويـــه
بـــاور نـــسته پـــه دوســـتي د ځنـــاورو
چـــي د اوســـپني بـــازو درســـره نـــه وي
زړه ور مـــه كـــښېنه تـــر ښنـــګ د زورورو[۸۷]

د ژونـــدون مـــزل ژونـــدي ګامونـــه غـــواړي
مـــړي نـــه ســـي پاڅېـــدلای لـــه قبرونـــو
د لېـــوره پـــه تمـــه پاتـــه لـــه مېـــږه ســـوه

---

[۸۵] چي بې ملو ځي تور ماريې پر اوږو ځي.
[۸۶] پيازدي وي په نيازدي وي.
[۸۷] د زورور له ښنګه زړه ور مه كښېنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کونډه چي وه ناسته په کلونو [۸۸]

چي د توري شرنګ يې نه وي تر غوږ سوی
هغه نه دی و ميدان ته د وتلو
ژړ د نجونو د مجلس دی تور د تورو [۸۹]
د پلنګ خوبونه کار د نازولو

چي خبره د قسمت که د غيرت ده
د چا برخه وي خولې د چا کارونه
عبدالله دي مړی خوري فکر دي نه کړي
د لالا نصيب دي توري ميدانونه [۹۰]

يو څه فکر يو څه سره وينه په کار ده
تش د فکر په تالو اعتبار نسته
توکل دی نارينه اندېښنه ښځه [۹۱]

---

[۸۸] کونډه د لېوره په تمه د مېړه پاته سوه.

[۸۹] تور د تورو دی ژړ د نجونو.

[۹۰] توري دي لالا وهي مړی دي عبدالله وهي.

[۹۱] توکل نر دی اندېښنه ښځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مړو له اندېښنو سره کار نسته

ځان پخپله د سيالانو سره سيال که
د مړو تربور ګلوي د مټ په زور سي
د پرديو جامو ستر څو شپې وي
ها جامې دي په ځان اورسي چي د پور سي [۹۲]

جنګ چي نه کوي تل اخلي لو ډبره [۹۳]
مه غولېږه په ګفتار د نامردانو
د ګيدړ په جنګ چي نه سي وروتلای
هغه تل کوي خبري د زمريانو

د سرونو چي سودا وه ده پلمې کړې
په جرګه کي يې د توري کيسې سرې کړې
څه ښه وايي چي جنګ سوړ سو ميرى تود سو [۹۴]

---

(۹۲) جامې چي د پور سي په ځان پوري اورسي.
(۹۳) چي جنګ نه کوي لو ډبره اخلي.
(۹۴) چي جنګ سوړ سو ميرى تود سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ناحقه غلبلو يې غاړي شنې کړې

قافلې سوې په هفتو د مخه تيري
دی لا ځان په شوارو زبولي د وړاندي
چا په ژوند کې پر خره سپور نه دی ليدلی
دی د بل مستو اسونو پوري خاندي[95]

په ګرمي چې يې ګټې خوره يې په سيوري[96]
د مېړه ملګري ګټه او تاوان وي
په خواري، بد ايسېدلی هيڅوک نه دی[97]
بېکاري بلا د ژوند شرم د ځان وي

سل کلنه يې دوستي او دښمني ده
د پښتون يوه خبره يو پيمان وي
هسې نه چې په خوله خوږ وي په زړه کوږ وي[98]

---

(٩٥) په ژوند کې چا پر خره سپور نه دی ليدلی، د بل په اسونو پوري خاندي.
(٩٦) په لمر يې ګټه په سيوري يې خوره.
(٩٧) مېړه په خواري بد نه ښکاري.
(٩٨) په خوله خوږ په زړه کوږ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـــــه خنـــــدا دي د غلـــــيم كـــــور تـــــه روان وي

تـــــل پـــــه جګـــــه غـــــاړه ژونـــــد كـــــوي ميړونـــــه
پـــــر ځـــــان نـــــه قبولـــــوي منـــــت د شـــــلو
لـــــه هغـــــه چـــــي د يـــــوه پـــــه مـــــخ كـــــي پـــــړ ســـــي
ښـــــه خـــــو دا چـــــي ځـــــوك وهلـــــى وي پـــــه ســـــلو [99]

د حيـــــا پـــــر كـــــور چـــــي نـــــه وي ځـــــوك زوولـــــى
لـــــه هغـــــه د حيـــــا تمـــــه ولـــــي كيـــــږي
لـــــه ناپـــــاكو اوبـــــو خپلـــــي جـــــامې ژغـــــوره [100]
چـــــي پـــــه شـــــرم ځـــــوك پـــــوهيږي نـــــه شـــــرميږي [101]

لـــــه هـــــر ګامـــــه ســـــره ځـــــار كـــــوي بيـــــا درومـــــي
لـــــه واښـــــكي ښخـــــه ډاريـــــږي مـــــار چيچلـــــى [102]
ګـــــرم يـــــې مـــــه بولـــــه چـــــي هـــــر ځـــــه تـــــه كـــــوږ ګـــــوري

---

[99] په سلو وهلى ښه دى نه په يوه پړ.
[100] له ناپاكو اوبو خپل كالي ساته.
[101] شرميږي هغه چي په شرم پوهيږي.
[102] د مار چيچلي ويره له واښه (واښكي) وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همېــــشه مـــستې پـــو کي شـــيدو ســـو ځلی [۱۰۳]

د انـــــصاف ســـترګي ړنـــدې ژبـــه ګـــونګی ده
چـــي انـــسان د بنـــار پـــه مـــنځ کـــي سنګـــسارېږي
دا زمـــــان د چـــا پـــــه حکـــم شـــاته بيـــايې؟
پـــه غلبېـــل کـــي اوبـــه نـــه راوړلـــي کېـــږي [۱۰۴]

څـــه عجيـــب وختونـــه راغلـــل پـــر دې خـــاوري
ســــاهوګان ســــول مــــزدوران د غلامــــانو
پـــه ګـــورم کـــي چـــي يـــې غـــوا پـــه نامـــه نـــه وه
هغـــــه نـــــن ســـــر مــــاتوي د ګورونـــــانو [۱۰۵]

يـــا را پاڅـــه د ســــفر مـــوزې پـــه پـــښو کـــه
يـــا کـــاروان در څخـــه درومـــــي روانېـــږي
پـــه چرتونـــو بـــه پـــی نـــه کـــړې رباتونـــه

---

[۱۰۳] شيدو سوځلی مستې پوکي.
[۱۰۴] په غلبېل کي اوبه نه راوړلي کيږي.
[۱۰۵] په ګورم کي غوا نه لري د ګوروانانو سرونه ماتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــش د ګــوړي پــه نامــه خولــه نــه خــوړېږي[۱۰۶]

همېـــشه بـــه د خـــزان ظـــالم لـــه لاســـه
د مرغيـــو ټـــولې نـــه وي تـــښتېدلي
يـــوه ورځ بـــه ورتـــه ګـــورې بيـــا بـــه راســـي
پـــه ويالـــه کـــي چـــي اوبـــه دي کلـــه تللـــي[۱۰۷]

خپلـــه خولـــه دي هـــم کـــلا هـــم بـــلا ده[۱۰۸]
ټـــپ د تـــوري بـــه جـــوړ نـــه ســـي د ښـــکنځلو[۱۰۹]
د ځنځيـــر پـــه څېـــر پيونـــد لـــري وګـــړي
پـــه يـــوه څپېـــړه مـــخ وهـــې د ســـلو[۱۱۰]

تـــر څـــو مځکـــه د بـــورا د اتـــڼ نـــه ســـي
پورتـــه نـــه ســـي د بلبلـــو آوازونـــه
پـــسرلی پـــه يـــوه ګـــل نـــه دی راغلـــی[۱۱۱]

---

[۱۰۶] په ګوړه ويلو خوله نه خوږېږي.
[۱۰۷] په وياله کي چي اوبه تيري سوي وي بيا راځي.
[۱۰۸] خپله خوله هم کلا ده هم بلا ده.
[۱۰۹] د توري ټپ جوړېږي د ژبي ټپ نه جوړېږي.
[۱۱۰] په يوه څپېړه د سلو مخ خوږېږي.
[۱۱۱] په يوه ګل نه پسرلی کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــــه یــــوه ګــــل ښــــکلي نــــه ســــي چمنونــــه

یــــو د بــــل پــــه وینــــو ســــره لاســــونه ناســــت دي
د دښــــمن ســــره خــــوري غوښــــي د خپلوانــــو
حیــــا ولاړه شــــرم غــــره تــــه دی ختلــــی[۱۱۲]
بــــاور نــــسته پــــه پــــښتو د بــــې شــــرمانو

چــــي احمــــق پــــر دنیــــا وي مفلــــس بــــه نــــه وي[۱۱۳]
پــــه بــــې عقلــــو دي تــــاوده لــــوی لنګرونــــه
پیــــر کــــه خــــس وي د مریــــد دپــــاره بــــس وي[۱۱۴]
پــــه دروغــــو بــــه ور جــــوړ کــــړي وزرونــــه

پــــه رنجــــو د ړنــــدو ســــترګو عــــلاج نــــه ســــي
ســــترګي ولــــي تــــوروې د غریبــــانو
پــــه خــــواري بــــه پیــــشو جــــوړه لــــه اوړو کــــړو

---

[۱۱۲] حیا ولاړه شرم غره ته وخوت.
[۱۱۳] څو په دنیا کي احمق سته مفلس نسته.
[۱۱۴] پیر که خس وي مرید ته بس وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میــو بــه ځــوک وربانــدي وکــړي عزیزانــو [۱۱۵]

پــه حکمــت یــې دا دنیــا ده تقــسیم کــړې
ځـوک یـې کـښېناوه پـه بـاغ ځـوک پـه ډېـران کـې
کــه پیــشي تــه خــدای وزر وای نــصیب کــړی
د مرغــۍ تخــم بــه نــه وای پــه آســمان کــې [۱۱۶]

چــې آســمان یــې د شــهپر پــه اجــاره دی
دا یــــاغي وزر نـــــصیب دی د بـــــازانو
چــې هوســۍ نیــسي تازیــان خــولې یــې وي تــوري [۱۱۷]
د ښــکار تمــه دي ځــوک نــه کــړي لــه کارګــانو

ځــوک چــې تللــي دي بیــا نــه دي ســتانه ســوي
لا قاصـــد منـــزل تــــه نــــه دی رســـېدلی
تــــر اوبـــو دمخــــه ولـــــي کــــارېږ ګــــاولي [۱۱۸]

---

[۱۱۵] پیشو به له اوړو جوړه کړو، میو به ځوک په کوي.
[۱۱۶] پیشي ته که خدای وزر ورکړی وای په هوا کې به یې د مرغۍ تخم نه وای پرې ایښی. خره ته دي خدای ښکر نه ورکوي د غویو نسونه به څیري کړي.
[۱۱۷] چې هوسۍ نیسي د هغو تازیانو خولې توري وي.
[۱۱۸] تر اوبو دمخه ګاولي کاږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي میدان د ازمېښت نه دی راغلی

چي د ژوند په تول یې واخلې ارزاني ده
یوه ورځ په لاري تلل د هوښیارانو
تر بې عقل دوست هوښیار دښمن بهتر دی[119]
د احمق دوستي خپلوي ده د مارانو

تش په نوم د پهلوان چي ژوندی پایي
نه غلیم دی نه په جم کي د خپلوانو
تر پراته زمري بهتر ګیدړ چي ګرځي[120]
نور له مړو تمه مه کوئ یارانو

د دښمن کره چي ځې سترګي ثلور که
له وعده سره یې ایښي وي دامونه
مځکه مه ګوره نیږدې د پښو د لاندي

---

[119] تر بیعقل دوست هوښیار دښمن ښه دی.
[120] تر پراته زمري ګرځنده ګیدړ ښه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوښیار ګوري لیري لیري واتنونه(۱۲۱)

هر ملت په خپلو کړو او کیسو ویاړي
د پښتون د قام زینت خپلي جرګې دي
تیرې توري کله لنډي کړي خبري
د مړو هنر صلا او مرکې دي(۱۲۲)

چي سینه څوک د زمان سیلاب ته سپر کړي
هغه نن وي که سبا پکښي غرقیږي
د آسمان په غیږ انسان دی ورغلی
عزیزانو دا وړی نه شړی کیږي(۱۲۳)

نه مریږي په قیامت د ازل وږي
کبرجن که وږی هم سي نه خوري سړی(۱۲۴)
تر خوړلو یې هر کله امید ښه دی(۱۲۵)

---

(۱۲۱) بې عقل تر پښو لاندي مځکه ویني هوښیار تر سترګو لاندي.
(۱۲۲) صلا د مړو هنر دی.
(۱۲۳) دا وړی نه شړی کیږي.
(۱۲۴) که وږی یم سړي لا نه خورم.
(۱۲۵) تر خوړلو یې امید ښه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خــو پــه تمــه چــي ځــان مــړ نــه کــې لــه لــوږي

ډېــر يــې نــه مونــدل پــه لــږو قــانع نــه ســو [۱۲۶]
ځکــــه در پــــه دره ګرځــــي ســــر ګردان دی
چــي پــه ډېــرو خوشــالېږي لېــوني دي [۱۲۷]
ډېــره ګتــه د مــــايې د ســــر تــــاوان دی [۱۲۸]

هــسي نــه چــي مــوږ رانــده يــو نــه يــې وينــو
دا يــاران پــه خولــه خــوا ږه پــه زړه کــا ږه دي [۱۲۹]
د توکــــل پــــه تېــــره ژبــــه ريــــشتيا وايــــو
راســتي نــه لــري زوال [۱۳۰] ريــشتيا ترخــه دي [۱۳۱]

کــــه وېــشونه پــه نــصيب جــزا پــه تــول ده
خپـــل عمـــل د هـــر ســـړي د لاري مـــل دی [۱۳۲]
لـــه آغـــازه تـــر انجامـــه هوښـــيار اوســـه

---

[۱۲۶] ډېر يې موندل نه په لږو قانع کېدی نه.
[۱۲۷] په ډېرو يې لېوني خوشالېږي.
[۱۲۸] ډېره ګټه د مايې سر خوري
[۱۲۹] په خوله خوږ په زړه کوږ.
[۱۳۰] راستي زوال نه لري.
[۱۳۱] ريشتيا ترخه دي.
[۱۳۲] خپل عمل د لاري مل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی ګام دي د وروستيو منډو پل دی (۱۳۳)
د ترخو او د بدیو زغمل ښه دي
له بدیو د ښمن تېرېدل ښه دي
ترخه خوره خو ترخه مه وایه و چا ته (۱۳۴)
ژبه تېنګه په جلو کې نیول ښه دي

د دروغو مزل لنډ دی رسوا کېږي (۱۳۵)
یوه ورځ به برملا سي پټ رازونه
خو ترڅو د ریښتیا واری را رسیږي
له دروغو به وي وران کلي کورونه (۱۳۶)

هري چاري له وخت او مکان ګوره
تور له سپينه شپه له ورځي نه سمېږي
پر ړانده د شپې او ورځي توپير نسته (۱۳۷)
کوڼ په ډول ړانده په رقص نه پوهېږي (۱۳۸)

---

(۱۳۳) ړومبی د وروستي پل دی.
(۱۳۴) ترخه خوره خو ترخه مه وایه.
(۱۳۵) د درغو مزل لنډ دی.
(۱۳۶) تر څو د ریښتیا وار را رسیږي دروغو به کلي وران کړي وي.
(۱۳۷) ړانده ته شپه او ورځ یو شان ده.
(۱۳۸) کاڼه ته ډول مه وهه، ړانده ته رقصېږه مه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پنځه ورځي قدرت او ناز مغروره
هېر دي نه سي چي لرو په مخکي کندي
سپين وېښته وي همېشه د مرګ استازي[۱۳۹]
د غنمو لار وي تل تر خولې د ژرندي[۱۴۰]

ځوک يوازي د خپل ځان په غم حيران وي
ځوک د کليو د ښارو غمونه خپل کړي
د همت وېشونه يو برابر نه دي
سترو ګټل هوسا دي خپل ځټل کړي[۱۴۱]

ګرم يې مه بوله چي سم پر لاري نه ځي
چي د مځکي پر سر نه ايږدي ګامونه
دا کم اصله د پردي په ډوډۍ مست دي
د موږي په زور سخوندر وهي خېزونه[۱۴۲]

د هر چا ده خپله برخه ور رسيږي
نه ګيله سته نه سيالي سته له تقديره
چي د شال د پاره سر وي پيدا سوی

---

(۱۳۹) سپين وېښته د مرګ استازی دی.
(۱۴۰) د غنمو لار د ژرندي تر خولې ده.
(۱۴۱) سترو ګټل هوساوو وځټل.
(۱۴۲) سخوندر چي غورځي د موږي په زور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـــر خپـــل کـــور بـــه ورتـــه راســـي لـــه کـــشميره[۱۴۳]

نـــه چـــا تـــاج نـــه چـــا کچکـــول ورســـره يـــوو‌ړ
لـــه دې لاري بيرتـــه څـــوک نـــه دي راغلـــي
ښـــه هغـــه چـــي خپـــل پـــردي دربانـــدي ټـــول وي
همېـــشه وي ســـپمولې ســـپو خـــو‌ړلي[۱۴۴]

چـــي لـــه نـــازه دي پـــښې نـــه ورځـــي تـــر مځکـــي
دا غـــــرور دي يـــــوه ورځ د ځـــــان بـــــلا ده
تـــه د بـــل د موټـــو زور پـــه ځـــان کـــي وينـــې
سـپی د فيـل پـه سـايه تلـی ويـل يـې زمـا ده[۱۴۵]

نـــن د نـــاز پـــر نيلـــي ســـپور ســـبا دي يـــاد وي
نـــه بـــه آس وي نـــه بـــه تـــه يـــې دغـــه لار ده
دا لـــولی دنيـــا نـــن ســـتا ســـبا بـــه زمـــا وي
وايـــي ژرنـــده کـــه د پـــلار ده هـــم پـــه وار ده[۱۴۶]

---

[۱۴۳] سر چي د شال لايق وي له کشميره ورته راځي.
[۱۴۴] سپمولې سپو خوړلې.
[۱۴۵] سپی د فيل په سايه تلی ويل يې دا سايه زما ده.
[۱۴۶] ژرنده که د پلار ده هم په وار ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي ژوندی و د خيرات له برکته
نن هغه راته په شپه ورځ بلا دی
نه په ويښه نه په خوب کي واک لرمه
بېره زما ده خو اختيار يې د ملا دی[۱۴۷]

دا خبر د حکيمانو بې څه نه ده
چي له شرمه تېر له هر څه نه تېرېږي
چي له خدايه څوک وېرېږي پروا مه کړه
تري وېرېږه چي له خدايه نه بېرېږي[۱۴۸]

هر موجود لره آفت دی پيدا سوی
په قسمت ور تقسيم سوي دي مرګونه
نم د دېوال لره آفت دی شوروي يې
زړوي زلمی انسان د غم بارونه[۱۴۹]

نن د چا په اشنايي اعتبار نسته
چا ته مه رسوا کوه د زړه رازونه
له رقيبه دي خبره نه پټېږي

---

[۱۴۷] بېره زما واک يې د ملا. يا : بېره زما اختيار يې د قاضي غلام (مقصد يې د کهندل خان قاضي القضات غلام محمد هوتک دی. م هوتک).
[۱۴۸] چي له خدايه وېرېږي له هغه مه وېرېږه. چي له خدايه نه وېرېږي له هغه وېرېږه.
[۱۴۹] نم د دېوال زړوي غم انسان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دېوالونــــه هـــم لـــري تېـــره غوړونــــه[۱۵۰]

نــن د مــړو پــه ځېــر نــه خــوځي لــه ځايــه
چــي يــې وينــي څڅېــدلې تــر برېتونـــو
پــه دې کلـــي کـــي د ســپيو لـــه نېستيه
ګيـــدړ هـــسکه غـــاړه ګرځـــي پـــر بـــامونو[۱۵۱]

لـــه ناسـياله څخـــه تمـــه د سـيال نـــه ســـي
کـــه هـــر څـــو جـــامې پـــه واغونـــدي رنګينـــي
سـل دي ومـره يـو دي مـه مـره پـه کالـه کـي[۱۵۲]
تلـــل کېـــږي نـــه د ســـپي او مېـــږه وينـــي[۱۵۳]

خپـــل ګرېـــوان دي کـــه قاضـــي عمـــل دي خپـــل دی
لـــه خبـــرو غمـــاز کلـــه منـــع کېـــږي
پـــه يـــوه لوټـــه بـــه خـــړ نـــه ســـي سيندونه[۱۵۴]

---

[۱۵۰] دېوالونه هم غوړونه لري.
[۱۵۱] د سپيو له خوارۍ ګيدړ پر بام کوي بازۍ.
[۱۵۲] سل دي ومره يو دي مه مره.
[۱۵۳] د سپي او مېږه ويني نه تللي کېږي.
[۱۵۴] سيند په يوه لوټه نه خړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د سپي په خوله درياب نه مرداريږي[۱۵۵]

په دوستۍ د دې وګړو باور نسته
غمازان دي لاندي باندي وروسته وړاندي
ژړوي دي په سرو سترګو چي دوستان دي
دښمنان په وړه خوله درسره خاندي[۱۵٦]

که د خره په نصيب سوي واى ښکرونه
ثيرول به يې نسونه د غوايانو[۱۵۷]
سل کلن کورونه وران په يوه ورځ کړي
خداى دي ژغوره له ظالمو حاکمانو[۱۵۸]

خپل عزت او د بل قدر دواړه يو دي
هېره نه کړې دا خبره د پلرونو
که له ښاره ثخه وزې باک يې نسته
هوښيار نه وزي له نرخ او رواجونو[۱۵۹]

---

[۱۵۵] د سپي په خوله درياب نه مرداريږي.
[۱۵٦] دوست به دي وژړوي، دښمن به دي وخندوي.
[۱۵۷] خره ته دي خداى ښکر نه ورکوي، د غويو نسونه به ثيري کړي.
[۱۵۸] د يوې ورځې حاكم د سلو كالو كور خرابوي.
[۱۵۹] له ښاره ووزه له نرخه مه وزه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مجلس کي يې د ناستي ځای معلوم وي
هسي نه چي لوی او کم در څخه هېر سي
د کم اصل په لوی تيا اصيل سپکېږي[۱۶۰]
لا به پوه نه يې چي کار له کاره تېر سي

هم سوالګر وي هم يې خر وهي لغتي[۱۶۱]
په ازل او په نصيب کبرجن خوار دی
موږکان چي يې په کور کي مري له لوږي
د هغه دماغ د فيل په اوږو بار دی[۱۶۲]

زړو نه تنګ دي سترګي تنګي دي د خلکو
د يوه له ابادۍ بل خرابېږي
د آسمان لمنه نه سي تشېدلای
سمندر په يوه لپه نه تشېږي[۱۶۳]

---

[۱۶۰] د کم اصل لويتيا د اصيل سپکتيا وي.
[۱۶۱] هم فقر کوې هم دي خر لغتي وهي.
[۱۶۲] دماغ دي فيل نه سي وړای، په کور کي دي موږکان له لوږي مري.
[۱۶۳] سمندر په يوه لپه نه کمېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي په لوړو بنګلو کي هستوګن دي
د هغو له هر آفته زړه د ربیږي
د توپان او د سېلونو باک یې نسته
څوک چي لخ دي له اوبو به څه بېرېږي [۱۶۴]

پر مخ لوړو، پورته کېږو بیرته لوړو
څوک مستان څوک لېوني یو څوک هوښیار ځو
څه غنم لانده څه ژرنده هم ده پخه [۱۶۵]
ړانده نه یو کوهي وینو په اختیار ځو

د تربور تباهي خپله خواري بوله
چي ژوندی یې نوم له نومه نه بېلېږي [۱۶۶]
یو د بل په مرسته پایي تبرونه
لاس چي مات سي همېشه غاړي ته لوېږي [۱۶۷]

---

(۱۶۴) لخ له اوبو نه بېرېږي.
(۱۶۵) څه غنم لانده څه ژرند پخه.
(۱۶۶) نوم له نامه نه پرې کېږي.
(۱۶۷) لاس چي مات سي غاړي ته ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي هر څو ورځخه ځغلو را ډېرېږي
د تور مخو له تاراجه مو زړه خوږين سو
چي ځغستله له شينشوبي مار بې بخته
هغه سم د غار په خوله کي ورته شين سو[۱۶۸]

په مېړونو که جرګې سنګيني کيږي
ښځي هم دي د کورونو مشالونه
ښار او کلي په دوی دواړه ښايسته دي
سړي غرونه دي او ښځي اړمونه[۱۶۹]

د زمريو په جنګ نه سي ورو تلای
د ګيدړو که ګلي که يې لښکر دی
يوه ورځ د اجل کاڼی درته ګوري
سل ګوزاره د زرګريو د ګګر دی[۱۷۰]

---

[۱۶۸] مار له شينشوبي (ويلني) تښتېدی هغه د غار په خوله کي ورته شين سو.
[۱۶۹] سړي غرونه دي ښځي يې اړمونه دي.
[۱۷۰] سل د زرګريو د ګګر (آهنګر).

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ماهي يې په اوبو کي قدر غواړه
نېکي نه سي ورکېدلای په درياب کي [۱۷۱]
له يوې رېشتيا خبري برابر دي
سل کلونه طاعتونه په محراب کي [۱۷۲]

له دې ډلي د انصاف تمه پر څه کړې
دا ټولې ده د لېوانو ښکاريان غواړي
د آرام په شپه د لوږې قتل کېږي
شرمښان له خدايه باد او باران غواړي [۱۷۳]

له پياده سره سپاره برابر نه دي
اصيل نه دی برابر له کم اصلانو
پر منځ دوه سوه شرمښکې له ډېره زوره
چي سيالي به يې کوله د مارانو [۱۷۴]

---

[۱۷۱] نېکي په درياب کي واچوه د درياب ماهيان يې نه هېروي.
[۱۷۲] سل کاله عبادت يوه خبره د حقيقت.
[۱۷۳] شرمښ له خدايه څه غواړي باد او باران.
[۱۷۴] شرمښکې له مار سره غځېده پر منځ دوه ځايه سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـــــه ټوليـــــه د دوســـــتانو چـــــي جـــــلا ســـــي
ســـختي شـــپې د غـــم شـــېبې بـــه يـــې پـــه خـــوا وي
هغـــــه ميـــــرېي د لېوانـــــو د خـــــوراک ســـــي
چـــي لـــه ډلـــي لـــه رمـــې څخـــه جـــلا وي (۱۷۵)

چـــي د زړونـــو ســـلطنت يـــې و خـــوښ کـــړی
د هغـــــو نومونـــــه ګرځـــــي پـــــه نکلونـــــو
ښـــار پـــه نرمـــه پـــسته ژبـــه خـــوړل کېـــږي
نـــه پـــه زور د تېـــرو تـــورو کوتکونـــو (۱۷٦)

بـــد پلـــو دي پـــه کـــور مـــه ســـه درد ننـــه
نېـــک پلـــو ارزي پـــه تـــول د جـــواهرو
ننـــګ عـــزت لـــره آفـــت دی بـــده ښـــځه
ښـــه مېـــرمن د تـــن جامـــه د بختـــورو (۱۷۷)

د هوښـــــيارو د جرګـــــو لـــــه برکتـــــه
تبـــاه ســـوي هيوادونـــه بيـــا ودان ســـي
غـــر کـــه لـــوړ دی هـــم پـــر ســـر بانـــدي يـــې لار ســـته

---

(۱۷۵) شرمنښ هغه مېږه وړي چي له رمې جلا وي.
(۱۷٦) ښار په نرمه ژبه خوړل کيږي نه په کوتکونو.
(۱۷۷) ښځه د تن جامه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مړونو په زور هر مشکل آسان سي[178]

هر انسان لره خپل عیب د اوړو منځ دی[179]
خپل عیبونه چا ته کله معلومېږي
که غلبېل کوزې ته سل پېغور ورکړي[180]
لمر څرګند دی په دوو ګوتو نه پټېږي[181]

د لېوانو په څېر وژني یو له بله
ژوندي پایي د یوه بل په سرونو
د نېکانو سر او مال ته سره یو دي
غله خبر دي یو د بل په احوالونو[182]

یو د بل په حال پوهېږي وږي تږي
دنیا دار کله خبر دي په نادارو
د پیاده او سپور د زړونو پیوند نسته

---

[178] غر که لوړ دی پر سر یې لار سته.
[179] خپل عیب د اوړو منځ دی.
[180] غلبېل راغی کوزې ته یې ویل سوری.
[181] لمر په دوو ګوتو نه پټېږي.
[182] غل غل پېژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوړ پر غوړ تويېږي نه پر تورو خاورو [۱۸۳]

چي د بل په خيرات پايي ننګ يې نه وي
پر تاليو سره ووهي سرونه
غوښي وخوري خانانو ملکانو
پر هډوکو يې سپو وکړله جنګونه [۱۸۴]

غيرانو نه د هر چا زړه ته ورتېر دي
چا ته دين دي که دنيا دواړه غيران دی
غوښي ښې دي د هر چا ورسره جوړه
خو پيشي باندي راوړی درست ايمان دی [۱۸۵]

دا وطن د بې هنرو په قسمت دی
هوښياري ده که هنر بلا د ځان سي
دلته قدر د دنيا دی بل څه نسته
په دولت باندي به خر خيرالله خان سي [۱۸۶]

---

[۱۸۳] غوړ پر غوړ تويېږي نه پر تورو خاورو.
[۱۸۴] غوښي خانانو وخوړې پر هډوکو يې سپي جنګونه کوي.
[۱۸۵] غوښي د هر چا خوښي پيشي ايمان باندي راوړی دی.
[۱۸۶] دنيا چي پر خره بار کې خيرالله خان سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په درانه مېلمه سنګين د کور به تول سي
کور ته مه سه در د ننه څوک ناولی
سل بللي پر يوه ستر خوان ځايېږي
ځای به نه سي يو له سلو نابللی(۱۸۷)

چي د خپلو متهو زور در سره نه وي
د پردو په همت عمر نه خپلېږي
له نېکونو دا متل دی راته پاته
چي د سوال په اوبو ژرنده نه چلېږي(۱۸۸)

هوښياران د نصيحت د اورېدو دي
پر نادان اغېزه نه کوي پندونه
سورناچي لره يو پو دی بل څه نه دی(۱۸۹)
هر سړی پوه سه او خپل يې عملونه

هري چاري لره وخت او زمان ګوره
هر عمل او هر کردار لره ځايونه
خدای د کار د پاره ورځ ده پيدا کړې

---

(۱۸۷) د سلو بللو ځای سته د يوه نابللي ځای نسته. سل بللي عذرېږي نه يو نابللی (م هوتک).

(۱۸۸) د سوال په اوبو ژرنده نه چلېږي.

(۱۸۹) پر سورناچي يو پو دی.

د شپې مه تره او بو لره بندونه(۱۹۰)

وريـن تندی ګرځه په ټول کې د وګړو
بدې نه سي ورکېدای په سلامونو(۱۹۱)
دښمن مړ په شاتو ښه دی نه په زهرو(۱۹۲)
بد په زړه سلام په خوله وي د مېړونو(۱۹۳)

چې له خپله هوډه اوړي نامردان دي
قول يو وي د مردانو، د نېکانو
چې پر قول ثوک ولاړ نه وي دښمن دی(۱۹۴)
باور نسته په دوستۍ د بد قولانو

کور د ظلم به ورانېږي صبر وکړه(۱۹۵)
ژر يا وروسته د هر چا نوبت رسېږي

---

(۱۹۰) د شپې بند اوبو وړی دی.
(۱۹۱) بد په سلام نه ورکيږي.
(۱۹۲) دښمن چې دي په شاتو مري په زهرو يې مه وژنه.
(۱۹۳) بد به دي په زړه لرم. سلام په دي په خوله لرم.
(۱۹۴) دښمن هغه دی چې اول يې هو وي اخير يې نه.
(۱۹۵) د ظلم کور وران وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نسکورېږي به آخر کاسه د ظلم(۱۹٦)
د ظالم عمر لنډی وي ژر تېرېږي(۱۹۷)

هوښیاري بډايي دواړي په قسمت دي
دا متل دی له پېرېو آزمېلی
نه مړې سوې په دنیا د هیچا سترګي
نه د عقل وږی چېرته چا لیدلی(۱۹۸)

یو انسان بل ځناور دی خطرناک
رسوي په لویه لار کي تاوانونه
د ملک په مخ کي مه ځه که هوښیار یې
د غاتري تر شا مه ایږده ګامونه(۱۹۹)

چي نسکوره یې د بخت کاسه نصیب سي
چي پر ډک دریاب راځي ورته تشېږي
بختور له سره زر سي توري خاوري

---

(۱۹٦) د ظلم کاسه نسکوره ده.
(۱۹۷) د ظالم عمر لنډ وي.
(۱۹۸) د دنیا موړ نسته د عقل وږی.
(۱۹۹) د ملک دمخه مه ځه د غاتري تر شا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بــې بختــه پــه حلــوا کــي غــاښ مــاتېږي[٢٠٠]

لـــــه آســـــمانه د چـــا زور برابــــر نــــه دی
زمـــان ځـــي پـــه خپلــه مخــه شـــپې تېرېـــږي
قـــــافلې لــــــه لاري نـــــه ســــــي اړولای
کـــاروان ځـــي پـــر خپلـــه لاره ســـپي غپيـــږي[٢٠١]

خـــر د ګلـــو پـــه بـــوی نـــه ســـي پوهېـــدلای[٢٠٢]
ړانـــــده نـــــه وينـــــي ځـــــولۍ د جـــــواهرو
هـــر نـــادان تـــه يـــې عـــزت کلـــه معلـــوم دی
لـــــه زرګـــــره ســــره قـــــدر وي د زرو[٢٠٣]

منـــزل يـــو دی لاري ســـل دي کيـــسه ورانـــه
لـــه هـــر چـــا ځخـــه حـــساب او کتـــاب هېـــر دی
آفتونـــــه د دې ښــــار پـــــه نـــصيب ويـــنم
لـــه رمـــې نـــه يـــې د ســـپيو حـــساب ډېـــر دی[٢٠٤]

---

[٢٠٠] د بې بخته په حلوا کي غاښ ماتېږي.
[٢٠١] کاروان تېرېږي سپي غپيږي.
[٢٠٢] خر د ګل په بوی څه پوهېږي. (د خره و د ګل يې سره څه).
[٢٠٣] د زرو قدر له زرګر سره وي.
[٢٠٤] تر رمې يې سپي ډېر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غـــل د ډاره پـــه لـــوی غـــره کـــي نـــه ځـــايېږي [۲۰۵]
نـــه ځنګلو نـــه نـــه ښـــارونه ورتـــه بـــس وي
د خـــاين دپـــاره خپـــل ســـيوري بـــلا وي
څـه ښـه وايـي چـي د غلـه پـه ږيـره خـس وي [۲۰۶]

د رحمـــت بـــاران چـــي اوري لـــه آســـمانه
چـــي د خـــس او د خاشـــاک ســـوده پـــه کېـــږي
بېهـــوده د اغـــزو څـــانګي خامتمـــا وي
د غـــنم لـــــه برکتـــه زوز اوبيـــــږي [۲۰۷]

---

[۲۰۵] د غله ځای په غره کي نه وي.
[۲۰۶] د غله په ږيره خس وي.
[۲۰۷] د غنم له برکته زوز اوبيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترجمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غرب تر آسمان لاندي

(نادر نادرپور)

د خاطراتو له کوڅو څخه مي
ستا د ګامونو آوازونه راځي
آه زما د ليري ولاتونو دوسته
لکه چي زما د پردېسۍ ښار ته دي لار کړې ده
دلته زما زړه کي د سهار مرغکۍ
د دې شرير جهان فضا کي راته
د وزرو د خلاصولو آرزو وپاروي
خو چي د شپې تياره وزر خپروي
بيا دېوالونه زما د پټ زندان خبري کوي
دلته به زما پته له کومه کوې
دې بېګانه نړۍ کي زه يوازي ځان پېژنم
په آيينه کي مي تصوير بندي دی
او زه د خلکو له نظره غلی
خپلي څېرې ته په ځير ځير ګورمه
دلته به ما په آيينه کي وينې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه عجيبه آيينه چي د ساعت په رسم
دوې پټې ستني لري
او په چارچوب د سود او زيان کي ګرځي
د دې هينداري ثانيې دقيقې
په خپل بېرحمه سوداګر مغز کي
پيکه کوي زما ځلېدونکې تصوير
په دې وطن کي وخت طلا ده طلا
او هر ګړی يې د اکسير او کېميا بيه لري
خو زما ضمير د شپو او ورځو حساب نه يادوي
دلته غروب د جنون رنګ اخيستی
او د باران څاڅکي يې
د تنهايي او ښکي دي
د ستورو سترګي يې څه نه سي ليدای
زه هم له خپلي کړکۍ ها خوا ته وتلای نه سم
او مخامخ دېوال د بندو سرحدونو په څېر
ما ته حرام کړي د دوستانو ديدار
دلته ډېره د همسايه له کوره
زما سترګي نه ور بولي
دلته په دې وطن کي
بېګانګي تر ټولو ښه ملګرې
ټولي دننه ته خلاصېږي دروازې د خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما پر پردېسه پر غمجنه ځمکه
دلته د غرب د خړ آسمان د لاندي
شپه زما په زړه کي اوسي
او سهار زما له خپلو ماتو پيل سي
دلته نور زما په شان پردېس او غمګين نه اوسيږي
د شپې تورتم کي د چا لاس کي څراغ نه بليږي
تنها د يوه زړه سرګردانه آواز
د کوم حيران لاروي
د پښو له ږغه سره
د خاطراتو له کوڅو راوزي
آه زما د ليري ولاتونو دوسته
دلته د کوم دروازې په څنګ کي
د کومي وني شاته
د چا د ږغ په انتظار ولاړيې
لکه چي زما د پردېسۍ ښار ته دي لار کړې ده

ويرجينيا ۴/۱۴/۱۹۹۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تنها کي پښې

## (علي سردار جعفري)

په خوا ږه خوب د ونو سيوري ته ويده ملګرو
اې د زمـــان د حوادثـــو مېلمنـــو ملګـــرو
چـې د وختونـو چپـاوونو مـو هـستي لـوټلې
لـه کومـه راغلـئ چيرتـه درومـئ لېونـو ملګـرو

دا لوی ميدان دی که صحرا يې د دردونو بولئ
د لمر ځنګل دی کـه يې تنده د سيندونو بـولئ

د سيند په پوري غـاړه تيږي دي کـه رونې چينې
مستي نغمې دي که لـه درده څوک وهلي غلبلې
يـا کـوم سـاحر دی چې د لمـر د پرېوتلو پـر وخت
په لار کي ناست دی زړه يې وړی د شفق ننداري

د شپې پـه لار کي کاروانونـه دي د ستورو رهي
د دښت لمـن کي د نـسيم لـه سينې پاڅي مـستي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هــره زره کـــي يـــوه شـــمع نـــوراني لګيـــږي
پـر هـر اغـزي يـې د خوبونـو ګلـستان هـستيږي
اې لېـونۍ مينـي پـر هغـه لـور دي مـخ ونيـوئ
چېرتـه چي لمر راخيژي چېرتـه چي رڼا ډوبيږي

کوم ريګستان کي چي سل ګوني کيسې غرقي سولې
څـه د لـيلا څـه د سـلما ډولـۍ پـه وار تېرېـږي
ښـکاره او پټـي پـه سـلګونو قـافلې رهـي دي
مګـر يـوازي د جـرس نغمـه تنهـا شـرنګيږي
همدغـه رسـم او فرمـان دی د قرنـو راهيـسي
پيـړۍ پيـړۍ پـر دغـه لاره سـفرونه کيـږي

سبا بـه ګورو چي نه موږ يو او نه زموږ يادونه
او بـس د رېګـو پـر سينه بـه وي بـاقي ګامونـه

سـبا بـه بيـا د ونـو سـيوري تـه وي جمع يـاران
د وخت ملګري د زمـان کـور کي مېلمـه عزيـزان
بيا به پو ښتو چي چېرتـه درومئ مېلمنو ملګرو
يــه د اميــد شــمعي ســوځلو لېونــو ملګــرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پسرلی سږکال وځنډېدی

د اورګاډي د پټلۍ سره ولاړيم
تېروم د انتظار ترخه وختونه
وايم ګوندي که ټاټوبی مي بدل سي
نو سينه کي به آرام وکړي دردونه
ما دا ټوله سره شپه کړه دلته روڼه
نڅېدل مي راته مخي ته خيالونه
پکښي خيال به راته ستا د بېلتون راغی
تصور به مي ژوندي کړل مړه زخمونه
هر يو ګام مي د مزلونو په څېر اوږد سي
راته انګولي ساړه ساړه بادونه
د آرام په تمه ووتم له کوره
يو په بل پسي ايږدم رنځور ګامونه
وايم ګوندي که ټاټوبی مي بدل سي
نو سينه کي به آرام وکړي دردونه

تصور کي راته راغلي ګڼي وني
ويلي سوي دي د لوړو څوکو واوري
بوی د اوړي په ورو ورو راوړي سږمو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـــه لا اوس هـــم راســـره وې پـــر دې لاري
پـــه غوســـه دي راتـــه نـــه کړلـــې خبـــري
د بېلتـــون لـــه وهمـــه نـــه وهـــم کوکـــاري
خـو دا هـسي لېـونی غونـدي يـو خـوب دی
تعبیرونـــه بـــه یـــې کـــوم خیالونـــه واوري

زه پـــوهېږم د دې لمـــر کمـــزوري وړانګـــي
زرغونـــه برګونـــه نـــه ســـي غـــوړولای
وايـم کـشکي خـو يـو ځلـي پـسرلی وای
پـــه خیـــالونو ژمـــی نـــه ســـي لنډېـــدلای

لا د ژمـــي اوږدې تـــوري شـــپې پخـــوا دي
د ســپرلي مــخ کــې پراتــه دي لــوی مزلونــه
د ګـــلاب ســـترګي پـــې لاري تـــه څلـــور دي
ســپرلی ســږکال پــه ورو ورو ایــږدي ګامونــه
کشکي واک د خپـل قسمت مي وای پـه لاس
کـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــي
چـــي مـــي نـــوم د بېلتانـــه وای ســـوځولی
راســـره وای ننـــداري مـــي دي کـــولای
پـــسرلی مـــي ســـږکال نـــه وای ځنډېـــدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـــل خيالونـــه راتـــه وايـــي چـــي ســـپرلی دی
مرغکيـــــو خپـــــاره کـــــړي دي وزرونـــــه
د ګـــلاب ســـترګي يـــې لاري تـــه څلـــور دي
ســـپرلی ســـږکال پـــه ورو ورو ايـــږدي ګامونـــه

د کنګـــل ځمکـــي پـــر مـــخ واوري پرتـــې دي
د ســـــاړه ژمـــــي را الـــــوزي بادونـــــه
پـــه ســـينه کـــي د اميـــد لمبـــې ســـاتمه
موســـم نـــه ســـي رانـــه وړلای ميدانونـــه
خـــو ګومـــان کـــوم چـــي تـــه راســـره نـــه يـــې
ســـپرلی ســـږکال پـــه ورو ورو ايـــږدي ګامونـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فینسي ځه مخته دي ښه سه

هغه اوړی به مي هیڅکله هېر نه سي
چي د ژوند اته لس کاله مي پوره سوه
زه او مور په یوه خونه کي پراته وو
د خوړلو به څه نه وه چي به شپه سوه

زه او مور او ماشوم ورور یوه کوټه کي
له لوی ښار څخه دباندي اوسېدلو
نه دوستان وه نه خپلوان زموږ په مالت کي
نه د لیري نه نیژدې چا پېژندلو
نه جامې د اغوستلو مو درلودې
نه درمل وه نه ډوډۍ وه د خوړلو
یوه ورځ خوږې مورکۍ راته ویله
په خوارۍ مي ډېر کلونه یې ساتلې
لوږي تندي مي پېرزو درباندي نه دي
فینسي ځه پر لوی خالق مي یې سپارلې
یو کمیس یې راته راووړ نازولی
د ژوندون په هست او نېست یې رانیولی
تېرول یې زما پر مخ باندي لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمـا پـه غـاړه یـې را ووهـل عطرونـه
دواړي شونډي یې راسرې کړې سترګي توري
چـي پـه ځـوان او پـه زاړه کـړم لمبـې پـوري

آیینـه کـي چـي مـي ځانتـه نظـر واو ښـت
د ګلونـو د ګېـډۍ پـه شـان ښایـسته وم
څټـه پیغلـه سـر تـر پایـه د سـتایلو
د سـپرلي د ونـي څانګـه وم تـازه وم

مور مي مړه سوه، سرکاري خلکو رهي کړم
کـشر ورور چـي پـه کلـو راتـه رنځـور و
شـوم نهـر یـې اوږدې شپـې وې سبا کـړي
نـه خـواره نـه یـې درمـل و پـه ضـرور و
نـور نـو زه او دا جهـان سـره تنهـا سـوو
د ښایـست پـه دام مـي کـښېوتل وګـړي
پـاڅول مـي د مـستیو محفلونـه
نڅـول مـي پـه میـدان کـي ژونـدي مـړي

لاس تـر غـاړه نڅېد مـه لـه شـاهانو
رنـګ مـي ورکـړ بنګلـو تـه د غټـانو
هـوډ مـي کـړی و چـي ژونـد بـه خپلومـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خــواری ژونــدون بــه پــای تــه رســومه
لــوړي تنــدي دوږخــي شــپې ســولې پاتــه
شــپې پــه هــسکو بنګلــو کــي تېرومــه
څوک چي هر څه وايي زه پوه سه او ځان مي
د ريـــا د تهمـــت څـــه پـــروا لرمـــه

څــه پــوهيږي دا وګــړي چــي زه څــوک يــم
دې جهــان تــه لــه کــوم ځايــه يــم راغلــې
زه د کومـــو وږو تـــږو شـــپو لمـــن کـــي
د چـــا دوو رنځـــورو ســـترګو يـــم پـــاللې
پــوه ســوم ولــي مــي خــوږې مــورکۍ ويلــه
پــه خــوارۍ مــي ډېــر کلونــه يــې ســاتلې
لــوړي تنــدي مــي پيــرزو دربانــدي نــه دي
فېنسي ځـه پـر لـوی خـالق مـي يـې سپارلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیمان

هغه شپه به مې تر مرګه هېره نه سي
چي په قهر دي ورپوري کړ روان سوې
ورسره وې ځو ترخې ترخې خبري
لکه تل چي مې له مينې ګرېزان سوې
زه او ته دواړه پر خپله خبر تېنګ و
دواړو خپله خپله لاره ونيوله
موږ د مينې د محفل په سپينه شپه کي
لګېدلې شمع ولې تورو له
راسه دواړه يو د بل خطا معاف کو
ما خو تا ته ستا خطا در وبخښله
درس د مينې وي د ژوند په سختو شپو کي
په لمبو کي د توپان مستو څپو کي
چي توکل مو وي پر خدای او يو کو زړونه
سره ورکو په اخلاص دواړه لاسونه

چي نړۍ بدليږي ورځي شپې تېرېږي
چي زموږ زړه غواړي هغه به راپېښيږي
موږ لو مړۍ فکر کاوه چي عشق آسان دی
داسي ښکاري چي ژوند حکم د زمان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زمان په حکم رنګ د داستان جوړ سي
چا ته وصل چا ته اور د هجران جوړ سي
چي توکل مو وي پر خدای او یو کو زړونه
سره ورکو په اخلاص دواړه لاسونه
یو له بله سره زده کو درس د میني
او د میني زړه ته ورکو د زړه ویني

همېشه چي یو د بل په زړه کي ګران یو
د لحد خولې ته به یو ځای ور روان یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# طلاق

څلور کلن زوی را سره دی پر لار
او یو رسا وړوکی ځوان ښکاریږي
موریې و ده ته حرف په حرف یادوو
په کلماتو چي دی نه پوهیږي

ده ته د لوبو سامانونه ښیو
ټول کلمات او لغاتونه ښیو

خو نن یوه کلمه پټه ساتو
هغه خبره چي زما زړه سوځوي
نن مور طلاق اخلو او دا خبره
زما ستونی سوځي راته خوله سوځوي

زه ستاسي دواړو سره مینه لرم
زه او زویک نن روانیږو سره
کشکي کیدای سوای چي طلاق وانه خلو
څو مره به یو د بل یادیږو سره
وګوره څرنګه موسکی موسکی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی د خوښــــې د ورځــــي فکــــر کــــوي
ښايــسته خــولګۍ يــې لــه خنــدا ډکــه ده
د نـــــوي نويــــو شــــيانو ذکــــر کــــوي

زه ده تــــــه هــــــره کلمـــــه ښــــيمه
خــو د طــلاق نــوم اخيــستلای نــه ســم
مــــخ پــــر يــــوه او بلـــــه خــــوا اړوم
پــر مــخ مــي اوښــکي پټــولای نــه ســم

بــاړخو مــي ســوځي د دې اوښــکو لــړۍ
زړه مـــي زخمـــي دی پـــه اورونـــو الـــوې

نـــــن د طـــــلاق د اخيـــــستلو ورځ ده
زه او زويــک بــه مــخ پــر کــور رهــي يــو
خدايـــه لـــه دواړو ســـره مينـــه لـــرم
لــه بــې وســيه پــر کــوم لــور رهــي يــو

کــشکي طــلاق مــي ګرځــولای ســولای
دا سرنوشـــت مـــي بـــدلولای ســـولای

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زړه ماتو مهمانخانه

لـه هغـې ورځـې چـې تـه رانـه جـلا سـوې
زه دي پرېښود م بېلتـون تـورو تيـارو تـه
مـا هـم ځـان تـه نـوې مينـه پيـدا کـړې
هلتـه ليـري پـه ګوښـه کـي اوسېدو تـه
پـه کوڅـه د تنهـايي کـي يـو ګوښـه ده
د زړه مـاتو پـه نامـه مهمانخانـه ده
پـه کوڅـه د تنهـايي کـي بـه کـړيـږم
څـو سـلګيو د مرګـي تـه ور رسـېږم
هلتـه زمـا پـه شـاني ډېـر خلـک اوسېږي
خـو زړه مـاتي مينـان پکـښي ځـايېږي
پـه تيـارو د تنهـايي کـي ژړېـداى سـي
پـه لمبـو د بېلتانـه کـي سوځېداى سـي

پـه هغـو تپـو تيـارو کـي بـه اوسـېږم
پـه لمبـو د بېلتانـه کـي بـه سـوځېږم
پـه کوڅـه د تنهـايي کـي بـه کـړيـږم
څـو سـلګيو د مرګـي تـه ور رسـېږم
بـل بـه نـه وي خدمتګار مهمانخانـه کـي
نـو بـه اوښـکي وي کوربـه د غـه لـوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

هـره ښـکلې بـه د غـم پـه ټـال زنګېـږي
او پـه غـاړه بـه جـامې وي د غـم تـوري
پـه هغـو تپـو تيـارو کـي بـه اوسـېږم
پـه لمبـو د بېلتانـه کـي بـه سـوځېږم
پـه کوڅـه د تنهـايي کـي بـه کړېـږم
څـو سـلګيو د مرګـي تـه ور رسـېږم
چي دي پرېږدي محبوبا پـه بېلتانـه کـي
هوسـونه د ځـوانۍ دي نيمـه خـوا کـي
د ژوندون په کيسو اوښکي کي در ګډې ي
د ويلـو افـسانه درتـه پيـدا کـي
نـو روان سـه پـه کوڅـه د تنهـايي کـي
د زړه مـاتو پـه نامـه مهمانخـانې تـه
پـه لمبـو د تنهـايي کـي بـه کړېـږې
څـو سـلګيو د مرګـي تـه ور رسـېږې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښځې یاغي چیغه

زه یوه ښځه یم یاغي آواز مې اورې کنه
نور مې پر شمېر او پر قدرت منکرېدلای نه سې
زه پوهېدلې یم چې ستا په شاني زور لرمه
نور مې آواز نور مې فریاد خاموشولای نه سې
ما د دردونو په مکتب کې درس د عقل واخیست
هسې وړیا مې خپلې وینې ازمېیلې نه دي
اوس دونه واک لرم چې څه غواړم کولای یې سم
هسې بې ګټې تاوانونه مې ګاللي نه دي
زه یوه ښځه یم قوي د ماتېدلو نه یم
ما کړولای سې خو ملا مې ماتولای نه سې
زه لکه اوسپنه سوټک مې وار په وار سختوي
په زور او جبر مې له لارې اړولای نه سې
زما اراده په انکارونو کې لا هم پخه ده
ما شومه نه یم په جار جار مې غولولای نه سې

تا مې په سر کې عقیده او اراده پخه کړه
زه یوه ښځه یمه ستا په شاني زور لرمه
او چې پر مځکه مې د مینې وزر وغوړوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې چیرې مینه ده په هغه زړه کې کورلرمه
مګر لا پاتــه دي پيچـــومي واټونــه راتـــه
مګر لا ګوري سـخـتي تـرې رباتونـه راتــه

ترڅو چې پوه کمه خپل وروړ ما هېرولای نه سې
زه یــوه ښـځه یــم پـر مـا منکرېـدلای نـه سـې

دا شعر د امریکا تر ټولو مشهور هنرمند
الویس پریسلې ویلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ریښتونې مینه

چې د سیالي ځای دي نه وي او باران وي
شا و خوا خلک دي ټوله غلیمان وي
زما غېږ به تا ته هغه ورځ خلاصیږي
تا ته زما سپېڅلې مینه ښودل کیږي
چې ماښام ستوري ښکاره پر شنه آسمان سي
او څوک نه وي چې د شپې دي نګهبان سي
نه دي څوک وي د سرو او ښکو پاکولو
نه د چیغو د سلګیو او رېدلو
زما غېږ به تا ته هغه ورځ خلاصیږي
تا ته زما سپېڅلې مینه ښودل کیږي
تا د مینې فیصله لا کړې نه ده
خو زما سره پاخه دي پیمانونه
زما په زړه کي به هیڅ شک را پیدا نه سي
وا به نه ورم د نا کسو سوګندونه

زه به وړی او بربنډ دلته هستیږم
پر تتې به پر اغزیو لا رو څکیږم
خو سینه کي به پالم درسره مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې مينه به ژوندی ساتمه وينه
زما د پاره زما د ميني د ښودلو
داسي څه نسته چي نه وي د کولو
چي را الوزي وحشي او تونـد بادونه
ما به تا ته وي پرانيستي وزرونه
زما يقين دی چي سم تا خوشالولای
ستا د زړه ټول ارمانونه سمه کښلای
زما د پاره زما د ميني د ښودلو
داسي څه نسته چي نه وي د کولو
ستا د پاره مي پر ستر ګو دي منلي
دا نری به پی کوم په ځغليدلو
زما د پاره زما د ميني د ښودلو
داسي څه نسته چي نه وي د کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما لار

نیژدې سوی یم د ژوند وروستۍ شېبې ته
مخامخ یم د ژوندون وروستۍ پردې ته
واوره دوسته زه یې سپینه درته وایم
چې په څه لرم باور هغه به ستایم
ژوند مې ډک له خاطرو او له نکلونو
تولي لاري مې کړې پې په سفرونو
هر سفر مې دی په خپله خوښه کړی
هر منزل مې دی شاهد د تکلونو
خو افسوس چې له دې دومره اوږدې لارې
له دې دومره پورته کښته کړلېچونو
د ویلو کیسه نه لرم دوستانو
خاطره د لارې نه لرم یارانو
چې باید وه پر هغه لار مې پښې تللې
په انصاف مې عملونه دي تللي

پر عمل مې پرده نه ده غوړولې
ښه د ښو بد مې د بد په نوم بللې
هر قدم مې په احتیاط په حساب ایښی
تولي لارې مې پخپله ازمېیلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند مې ډک له خاطرو او له نکلونو
ټولي لاري مې کړې پې په سفرونو
هر سفر مې دی په خپله خوښه کړی
هر منزل مې دی شاهد د تکلونو

د امریکا د مشهور سندرغاړي فرانک سیناټرا
د هنري ژوند وروستۍ سندره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بېگانه په نیمه شپه کې

نه ما لیدلې وې په ژوند کې نه تا زه لیدلی
نه مو په ژوند کې یوه بل ته د زړه حال ویلی
نه مو له شپو څخه خوبونه تښتولي کله
نه مو په ژوند کې نوم د میني و تر خوله وتلی
بس یوه شپه مو چیرته ستر گي سره ولگېدې
له هغې شپې سره د دوو زړونو تقدیر تړلی
دوو ښکلیو ستر گو دي سپړل د میني پټ رازونه
موسکیو شونډو دي سینو کي پارولو زړونه
دلته مي زړه کي ستا د میني لمبې ولگېدې
هلته رگونو کي د صبر نیلی وسوځېدی
نه ما لیدلې وې په ژوند کې نه تا زه لیدلی
چي یوه شپه مو یو ناڅاپه سره ورکړل زړونه
د یوه بل زړه کي مو ولگول سره اورونه
په هغه شپه چي په محفل کي نڅېدلو سره
هغه شپه په زړه کي دواړه پوهېدلو سره
چي نور مو زړونه یوه بل ته سره وسپارله
د میني اور کي سوځېدلو گډېدلو سره
نور مو د تل دپاره زړو کي زرغونه سوه مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه يـوه نظـر مـو پـه رګونـو کـي تـوده سـوه وينـه
نـه مـا ليـدلې وې پـه ژونـد کـي نـه تـا زه ليـدلی
نـه مـو پـه ژونـد کـي يـوه بـل تـه د زړه حـال ويلـی
نــه مــو لــه شــپو څخــه خوبونــه تــښتولي کلــه
نـه مـو پـه ژونـد کـي نـوم د مينـي و تـر خولـه وتلـی
بـس يـوه شـپه مـو چيـرتـه سـترګي سـره ولګيـدې
لـه هغـې شـپې سـره د دوو زړونـو تقـديـر تړلـی

دا سندره د امريکا مشهور سندرغاړي
فرانک سيناترا ويلې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دا عبارت په نیویارک کې د آزادۍ
## د مجسمې د پښو سره لیکل سوی دی

ستاسي ستړي او بې وزلي ماته راکړئ
هغه تږي د آزادي سا ایستلو
هغه ټول وګړي ماته را روان کړئ
چي یې نه پرېږدئ پر خپلو سواحلو
زه بې کوره زه تور بختي درنه غواړم
دلته کور دی د توپان او سېل ځپلو
زما د مینې ډکه غېږه ده تاټوبی
د بېکسو، د رنځورو، د ویر ژلو

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

## امریکا دي آباده وي

که سبا مي دا هستي تولـه تباه سي
د ژوندون توښه مي تولـه او به یو سي
زه به بیا لـه سره نوی ژوند آغاز کړم
د امید غوټۍ به بیا پر غوړېدو سي
راسره به مي مېرمن او ماشومان وي
لـه تیارو به د رڼا پر لـور روان وي
زه راضي لـه خپلـه بخته یم یارانو
چي مي کور په دې وطن کي دی دوستانو
لا بیرغ د آزادۍ پـه نـوم رپیږي
را نـه وړای یې نـه سي پوځ د دښمنانو
افتخار کوم پـه دې چي امریکن یم
چي آزاد یمـه بچی د دې وطن یم

هېر به نه کړم شهیدان د دغي لاري
زور د دوی لـه برکته پر دښمن یم
ځنګ پر ځنګ یم درسره د مرګ تر پولي
زه مین پر دې وطن پر دې هیواد یم
خدایه تـه مي امریکا لـري آباده

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د دې د نېکمرغيه خوښ او ښاد يم
د ښايستې ميني سو تا له شنو ډنډونو
د آبادي ټينيسي تر جګو غرونو
د ټکساس له پراخو دښتو له ډاګونو
د دې مېني تر ويالو تر شنو سندونو
له ډېرويټه تر هيوسټن او تر نيويارکه
له اپل وې تر نورو کليو او ښارونو
هر بچی د دې وطن دي پکښې وياړي
له څښتنه دي آباد خپل وطن غواړي
افتخار کوم په دې چې امريکن يم
چې آزاد يمه بچی د دې وطن يم
هېر به نه کړم شهيدان د دغې لارې
زور د دوی له برکته پر دښمن يم
څنګ پر څنګ يم درسره د مرګ تر پولې
زه مين پر دې وطن پر دې هيواد يم
خدايه ته مې امريکا لرې آباده
زه د دې له نېکمرغيه خوښ او ښاد يم

د يوې ترانې په شکل ډېرو زياتو امريکايي
هنرمندانو کمپوز کړې او ويلې ده.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library